**أدهم شرقاوي**

''قس بن ساعدة''

إلى المنكسرة قلوبهم

# د ماتو زړونو لپاره

ژباړن: لعل الدين عاطف



Scanned with CamScanner

# ﴿۱﴾

کله چې د هغه چا لخوا وخوربږې، چې له نورو استثنا او ځانګړی فکر ورته کوې،
تر هغه وروسته سخته ده، چې په هر چا باور وکړې!
تر هغه وروسته به یوازې په یوه نه، بلکې په ټولو به بې باوره شې!
تر هغه وروسته وېره ژوند ګډوډوي او نه پرېږدې چې څوک درنږدې شي!
دا وخت دې احساس د هغه چا په څېر دی چې د معجزې په توګه یې له غرقېدو څخه خلاصون موندلی وي؛ خو نور د تل لپاره له اوبو ډارېږي.
د هغې مرغۍ په څېر دی، چې د ښکاري د ټوپک په مرمۍ مړه شوې نه وي؛ خو د تل لپاره د ونې په امنیت بې باوره شوې وي.
د هغه چا په څېر دی چې لاسونه یې پرې شوي وي؛ خو تل یې په خپلو سترګو احساسوي او تل وېرېږي چې هسې نه خلک یې پر زخمونو مالګه ونه پاشي.
الله تعالی دې له هغه چا سره مرسته وکړي، چې له ارامتیا بې برخې شوی وي او هغه څوک دې نه بښي چې د یو چا زړه ته ننوتی وي او له هغه یې ارامتیا غلا کړې وي.

Scanned with CamScanner

## ﴿۲﴾

مداینې وویل: داسې ښځه مې ولیده چې تر هغې بله ښکلې مې نه وه لیدلې.

ومې ویل: دا ښکلا دې د دنیا د ارامتیا او نېکمرغی غوره وسیله ده.

ویې ویل: نه، په خدای زه ډېر غمونه او اندېښنې لرم او زما تېر وخت ټول دردونه او مصیبتونه وو. اوس غوږ شه چې درته ویې وایم: «ما یو مېړه درلود او له هغه څخه مې دوه زامن هم لرل، چې پلار یې د اختر په ورځ یوه مېږه حلاله کړه او زامن مې په لوبو بوخت وو.

مشر یې کشر ته وویل: آیا غواړې چې دروښیم پلار مې مېږه څه ډول حلاله کړه؟

ویې ویل: هو!

مشر له ځایه پورته شو، چې له هغه سره لوبې وکړي، ناڅاپه یې هغه حلال کړ. کله چې یې د خپل ورور په وینو سترګې ولګېدې، وویرېده، په تېښته شو او لېوه وخوړ.

پلار یې په هغه پسې لاړ، له غره راولوېد او مړ شو.

هغې ته مې وویل: اوس له صبر سره څه حال لرې؟

ویې ویل: که دوام یې کړی وای، ما هم دوام کاوه؛ خو هغه زخم و چې تېر شو. هیڅکله د شیانو په ظاهر ونه غولېږئ، خلک سر تړلي صندوقونه دي.

هیڅکله له صندوق دباندې قضاوت مه کوئ؛ ځکه هغه څه درته نه

ښکاري چې په صندوق کې دننه دي. خلک د هغو کتابونو په خبر دي چې بوازې یې د پوښ په لیدو په داخلي محتوا نه شئ پوهېدلی.

له خنداګانو ورهاخوا ژور تپونه پراته دي، چې خلک هڅه کوي، پټ یې وساتي او ته یوازې هغه څه وینې چې سترګې دې ورباندې لګېږي.

د ډېرو نعمتونو او ارامتیاوو بل لوري ته په زهرو لړلې محرومیت دی چې خاوند یې له ډېر تریخوالي ورسره لاس او ګرېوان دی او یوازې هغه څوک ورباندې پوهېږي چې ترلاسه کړی یې دی.

ډېرې داسې نېکمرغۍ دي چې فکر کوې د بشپړوالي او کمال ډېره ورباندې کېښودل شوې ده، په داسې حال کې چې ته د هغو په حقیقت نه پوهېږې. ښایي د پاڼو د مجموعې لپاره یو تش پوښ وي او حتا د هغه څه په اړه په یوه کلمه هم پوه نه شې چې د هغو په داخل کې دي.

هغه انځورونه چې په تولنیزو رسنیو او انټرنېټ کې یې وینې، د چارمغز د پوښ برخه نه ده، هغه کلک پوښونه دي، چې په داخل کې یې ماتوونکي او خوروونکي شیان دي.

دا دنیا نیمګړی سرای او فاني کور دی او د هیڅا لپاره کامله نه ده.

باور وکړه هر شی چې انسان ته ضرر ورسوي، ډېر ارام او بې‌فکره دې ترې تېر شي؛ ځکه الله تعالی د هر چا لپاره کافي شیان پیدا کړي دي.

## ﴿۳﴾

مور له کرکې څخه نه تښتو، بلکې له درده تښتو.
دا تېښته انکار نه دی، بلکې تېښته ده او د ځان د خلاصون لپاره د ځای پیدا کول دي.
هیڅوک نه غواړي چې خپل زخمونه د خپلو سترګو په وړاندې ووینې.
هیڅوک نه غواړي په ذهن کې راولي چې وړ شخص نه دی؛ خو د درد ځای دا دی چې انسان له هغه لاسه وخورول شي چې یو وخت یې هغه ښکلاوه او د هغه چا لخوا په ژړا شي چې یو وخت به د هغه له ژړا ویرېده، زړه به یې لړزېده، چې په هغه کې یو ځاځکی اوښکې ووینې....
مور یوازې د دې لپاره تښتو تر څو هغه څه وساتو چې له مور سره پاتې دي.
د دې لپاره تېښته غوره کوو، چې خپل زخمونه له هغو نظرونو پټ وساتو چې پر مور یې زړه سوځېږي.
حتا سپی چې سپی دی، کله چې زخمي شي، د ځان لپاره لرې او ګوښه ځای پیدا کوي او خپل ټپونه په خپله ژبه څټي، تر څو د خپلو زخمونو درملنه په خپله وکړي.
هو، د ډېرو ملګرتیاوو د ساتنې غوره لاره، لرېوالی او ګوښه کېدل دي...!

## ﴿۴﴾

شَعبي وويل: د قاضي شُرَیح په مجلس کې وم، چې یوه ښځه له سړي سره رادننه شوه او د یوې موضوع په اړه یې دعوه لرله. ناڅاپه یې له سترګو اوښکې روانې شوې او سخت یې وژل.

ما وویل: ښاغلیه قاضي! زه فکر کوم، د دې ښځې په حق کې لوی ظلم شوی دی.

ویې ویل: ای شعبي! د یوسف علیه السلام ورونه هم ماښام خپل پلار ته په ژړا راغلي وو.

خلک ټول همداسې دي، یوه یې په کافي اندازه ظلم او له حده تېری کړی؛ خو د غم په زنګون داسې سر ږدي، ته به وایې چې د ده په حق کې لوی ظلم شوی دی.

ډېر کسان شته چې د ژبې په قمچینه دې وهي او په هر مجلس کې دې د خلکو په وړاندې د ځان غوښې خوري؛ خو کله دې چې صبر تمام شي او لږ زغم هم درکې پاتې نه شي او غواړې چې ځواب یې ورکړې، په داسې حال کې د تقوا چپن اغوندي او په ډېرې بې‌شرمۍ دې په هغو کړنو تورنوي چې پخپله یې ستا په حق کې ترسره کړې دي.

کله چې د پلار میراث ووېشل شي او ځینې وارثان پکې تېری وکړي او نور یې د خپلې برخې غوښتونکي شي او د نیوکې لاس پورته کړي، ټول په یوه غږ وایي: غیرت دې چېرته تللی دی؟

ګورې چې څه ډول خپل ورور محکمو او قضاوو ته کشوي؟

ډېر داسې کسان شته چې غواړي په اړخ دې پر ځمکه ځملوي، چاړه دې پر غاړه کېږدي او سر دې له تنې جلا کړي؛ خو کله چې يې له امر څخه سرغړونه وکړې، په داسې حال کې دې په نافرمانۍ تورنوي او چيغې وهي چې چاقو يې د هغوی لاسونو ته زيان رسولی دی؛ ځکه ته يې تر چړې لاندې ارام نه يې ملاست!

او که وينې دې داره وکړي او د هغه جامو ته ورسېږي، له تا شکايت کوي، چې د هغه تر چړې لاندې دې له ارامتيا او صبر څخه کار نه دی اخيستی.

ښځه کلونه کلونه په ډېر صبر او زغم سره د خپل مېړه په کور کې خدمت کوي، اصلاً له ژوند او درد څخه شکايت نه کوي، پرلپسې يې سپکاوی کېږي او سختې خبرې اوري؛ چې په امانتونو کې خيانت کوي او دې ته ورته نورې خبرې... خو کله چې يې د صبر کاسه ډکه شي او ډېر دردونه يې مجبوره کړي چې خبرو ته خوله خلاصه کړي، په داسې حال کې هغه په نافرمانۍ تورنوي او په بدو تورونو يې رټي.

د خلکو ستونزه دا ده چې له غبرګون پرته له هيڅ شي سره بلد نه دي؛ خو بې‌اندازې عذابونه، درانه سپکاوي چې حتا غږونه يې نه شي زغملی، پرلپسې ظلمونه چې تر اسمانه رسېدلي دي، هيڅوک نه ويني!

Scanned with CamScanner

## ﴿۵﴾

بریا هغه نه ده چې هیڅکله یې در په زړه نه کړئ؛ ځکه هیڅوک نه شي کولای چې خپله حافظه تشه کړي او په همدې توګه دوام ورکړي، بلکې بریا هغه ده چې در په زړه کړئ ولې چیغې نه وهې!

دا چې سترګې دې زخم ته خیر کړې؛ خو بانه دې هم هیڅ سره ونه لګیږي. دا چې د زخم ځای دې په زړه کې حس کړې؛ خو ونه درديږې، بلکې د هغه یادګار په توګه ورته وګورې چې درته وایي: وفادار پاتې شوی یې!

بریا دا ده چې هغوی چې څه ډول وو، بېرته یې پردي او مسافر وګرځوې. د هغو کسانو په څېر چې د څو شېبو لپاره په هوایي ډګر کې له یو بل سره وي او وروسته ته په خپله لاره ځي او هغوی په خپله.

رښتيني بریا دا ده چې هغوی د ټولې دنیا د وګړو له مرتبې څخه یوازې په دې دنیا کې د وګړو مرتبې ته بدل کړې.

## ﴾٦﴿

دا دنیا ډېره بې‌رحمه ده او د انسان هډوکي ماتوي. زموږ ترمنځ هیڅوک نشته چې ژور زخم ونه لري. په دې دنیا کې هر څوک هڅه کوي چې خپل زخم پټ کړي.

که موږ له هغو زخمونو خبر شو چې د یو بل په زړه کې یې لرو او تل هڅه کوو، چې پټ یې وساتو، په هغو کې به د لاس ورکولو پرځای یو بل ته غاړه ورکړو.

په خدای، موږ ټول حق لرو چې د هغه څه له امله خپه شو، چې په زړه کې یې لرو؛ خو تر ټولو بد زخم دا دی چې نه پوهېږو کله به مو پرېږدي؛ خو ډاډه یو چې کله هر انسان یو خوندي ځای پیدا کړي، له خپلو زخمونو پرده پورته کوي او فکر کوي چې یو څوک د هغه د زخم درملنه کوي. کله چې د ارامتیا لپاره ځای پیدا کړي، که د یوې شېبې لپاره هم وي، غمونه یې له خپلو اوږو پر ځمکه ږدي، چې د ارامۍ ساه واخلي.

الله تعالی راته سږ کال د بیت الحرام د حج شرف را په برخه کړ، په مِنا کې ناڅاپي له یوه ملګري سره مخ شوم. دواړه ګډ سپاره شوو او بیا هم تقدیر زموږ خېمې له یو بل سره مخامخ واقع کړې وې. دواړو په مینه یو بل ته لاسونه ورکړل او یو بل ته ورغاړې وتو.

ورته ومې ویل: د یوې پیالې چای په اړه دې نظر څه دی؟

هغه مې د دې خبرې هرکلی وکړ، ما هغه په خپل حال پرېښود او خېمې ته ننوتم. ځان او هغه ته مې یوه یوه پیاله چای چمتو کړ او راووتلم، چې

Scanned with CamScanner

پیاله یې هغه ته ورکړم. په کومه شیبه مې چې هغه ته پیاله ورکړه، یو سوډاني حاجي چې کابو ۶۵ کلن به و، زموږ له څنګ نه تېرېده، فکر یې وکړ، چې زه چای توزیع کوم.
ورته ومې ویل: نه؛ خو زما پیاله واخلئ، زه به خان ته نور چای راواخلم.
لاس مې ورته په مهرباني ور اوږد کړ او هغه هم خپل لاس را اوږد کړ، چې چای واخلي. زما پام نه و چې ناڅاپه یې په غېږ کې ونیولم او په ژړا یې پیل وکړ...
په اوږه مې ورته لاس کېښود او ورته ومې ویل: ارام اوسه!
بیا مې هغه په خپل حال پرېښود او له موږ څخه لاړ؛ خو هغې صحنې زموږ په زړه کې داسې ځای کړی دی چې هیڅ وخت مې نه هېرېږي.
یوه پیاله چای د ګرمې غېږې او ژړا وړتیا نه لري، چې دې شخص داسې وکړل؛ خو بې له شکه په زړه کې یې ژور تپ درلود، چې په لومړۍ شیبه کې یې د خان پر وړاندې ارام ځای او مهربانه زړه ولید، له زخم څخه یې پرده لرې کړه او په ژړا یې پیل وکړ.
کله چې انسان د ارام لپاره ځای پیدا کړي، له خپلو زخمونو پرده پورته کوي، نه هغه وخت چې څېرنه او پوښتنه ترې وشي.
په یاد ولره، تا ته یې له خپلو زخمونو پرده لرې کړه او د زړه درد یې تا ته ښکاره کړ، نو حتمن یې په تا کې د ارامتیا او داډ یو شی احساس کړی دی.
د هر چا زخمونه د هغو رازونو په څېر دي چې په مجلسونو کې منځته راچول کېږي؛ پر دې اساس هیڅکله له امانت سره خیانت مه کوه!
موږ د خان لپاره د ارامتیا د ځای موندلو په لومړۍ شیبه کې ډېر کمزوري کېږو، له هغو دردونو او رازونو پرده پورته کوو او په بشپړه توګه یې ښکاره

Scanned with CamScanner

کوو، چې د اوږدې مودې لپاره مو پټ کړي وو. د پټېدو له هغه پنډ پوټکي بهرته چې ځان مو پکې پېچلی او پټ کړی و. تر څو خپل درزونه او زخمونه له زړه څخه وساتو، پر دې اساس ناڅاپه مو پام کېږي چې ډېر شیان مو ګډوډ کړي دي.

موږ انسانان تل د هغې لوري په اړه فکر کوو، چې په مینه کې یې لرو، هره پاملرنه چې نور یې زموږ په حق کې لري، هغه مینه، محبت او ګرانښت دی.

فکر کوو، هره مهرباني چې زموږ په حق کې کېږي، له ګلانو هغه ډک لاس دی چې یو څوک په مینه موږ خوښوي او زموږ خوښه غواړي.

نه، اصلاً داسې نه ده. عاطفي وچکالي په رښتیا وژونکې ده. وژنه د ... کلمې په واقعي معنا.

موږ ټول د مینې تږي یو او د مینې په تمه له لوړې مرو. له همدې امله کله چې یې په پیدا کولو نه یو توانېدلي، اختراع کوو یې یا په دقیق تعبیر وایم: مینه تصور کوو!

کله چې په عاطفي وچکالۍ کې ژوند کوو، د هغو کسانو لپاره اسانه هضمېدونکې مړی کېږو چې د بې‌دوامه او لنډمهاله اړیکو په لټه کې سرګردانه دي.

دا چې عاطفي وچکالي د پلمو په سر کې واقع ده، چې د هغې او واقعیت ترمنځ هیڅ اړیکه نه شي موندل کېدای؛ ځکه دا مرګونې وچکالي هره نرمه او په ظاهر د ګل په څېر خبره چې تا ته ویل کېږي، د مینې په لیک یې تفسیروي.

د عاطفي وچکالۍ پر مهال فکر کوو، چې د نورو هر «سهار په خیر» د «مینه درسره لرم» په معنا دی.

فکر کوو د «څه حال دې دی؟» ویل د «ډېر درته لېواله یم» معنا لېږدوي.
د «څو کلن یې؟» ویل ببخي د «نه د واده مناسب عمر ته رسېدلې یې» خبره ده.
هو، دا ویجاړوونکې عاطفي وچکالي موږ په هغه کس بدلوي چې هر څه ته په هغه ډول وګورو، چې غواړو یې، نه هغسې چې په واقعیت کې دي.
وروسته د دې خیالي تعبیرونو او لنډمهاله برداشتونو په توپان کې غرقېږو او هغه مهربانه او ګران انسانان له لاسه ورکوو، چې زموږ ژوند ته را داخل شوي دي؛ خو نه په دې شخصي انځور چې موږ تصور کاوه.
موږ په دې مجرمو خیالونو سره په یوه تازه زخم کې ښکېلېږو، چې پخپله مو ځان ته ورکړي دي... له همدې امله راسره د عربانو مشهور متل برابرېږي چې وايي: «په خپل لاس تباه شوم، نه د عمرو په لاس».
پر دې سربېره، عاطفي وچکالي په لازمي توګه د یوه زخم پایله نه ده.
د داسې ویجاړوونکې وچکالۍ لپاره کافي ده، چې له اړینې سرچینې څخه مینه ترلاسه کړو. هغه مېرمن چې د خپل مېړه له خولې د مینه‌ناکې خبرې د اورېدو حق لري، دا خبره ترې نه اوري او د خپل مېړه لخوا ورته هیڅکله ډالۍ نه ورکول کېږي، دا هغه مېرمن ده چې هره ورځ یې پر ښځتوب د ناهیلي او عاطفي محرومیت خاورې شیندل کېږي.
پر دې اساس د حیرانتیا ځای نه دی چې هره کلمه اوري، په مینه‌ناکو پیغامونو یې تعبیر کړي، چې باید مېړه یې ورته ویلې وای یا په ډېرې اسانۍ د هغو کسانو ښکار شي چې اوبه خړوي او ماهیان پکې نیسي.
البته باید وویل چې دا محرومیتونه حرامو اړیکو ته د لاس اوږدولو د توجیه په معنا نه دي، هیڅ وخت محرومیت د دې دلیل نه کېږي چې

Scanned with CamScanner

انسان دې حرامو ته لاس کړي؛ خو لږ تر لږه حرامو ته د تسلیمېدو زمینه برابروي.

موږ تل په دې لټه کې یو چې خانونه د اور د روښانه کېدو له سرچینو لرې وساتو؛ ځکه دا کار د اور له مړ کولو ډېر اسانه دی.

هغه مېړه چې مېرمن یې ورته پام او قدر نه کوي، د بلې ښځې لپاره اسانه ښکار دی، چې له هغه سره مینه لري.

بیا هم باید وویل شي، چې داسې محرومیت حرامو ته د لاس وروړلو پلمه نه ده؛ خو موږ په نهایت کې ناتوانه یو او کوم نفس چې زموږ په وجود کې دی او شیطان چې تل په کمین کې دی، دا کار ایجابوي.

هغه نجلۍ چې په کور کې ورسره بد چلند کېږي، له کوره بهر د باندې کسانو لپاره تیاره مړی ده، چې د لېوه په څېر د ښکار په کمین کې دي.

موږ چې کله خپلو شاوخوا کسانو ته ډېره مینه او پام کوو، په واقعیت کې هغوی د لنډمهاله مهربانیو په دامونو کې له لوېدو ځخه ژغورو. وقایه تر درملنې غوره ده.

د چاودېدونکو توکو ختنا کول د چاودنې له امله د ویجاړیو تر راټولو اسانه دي.

# ﴿۷﴾

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**لا تزول قدما عبدٍ يوم القيامة حتى يسئل: عن عمره فيم أفناه**»[۱]

«د قیامت په ورځ د انسان قدمونه له خپله ځایه نه خوځېږي، تر څو په دې اړه ترې وپوښتل شي چې عمر یې په کومو کارونو کې لګولی دی».

په هغې ورځ یوازې ستا د عمر په اړه پوښتنه نه کېږي، بلکې:

- د ټولو هغو کسانو عمر چې ضایع کړی دې دی؛
- د هرې «مینه درسره لرم» جملې چې یوازې دې په ژبه ویلې ده، نه د زړه له کومې؛
- د هرې لارې چې له یو چا سره دې په ګډه پکې قدم ایښی وي؛ خو نه دې غوښتل چې تر اخره ورسره ملتیا وکړې؛
- د هر لاس چې په لاسونو دې نیولی؛ خو په زړه کې دې د هغه د پرېښودو نیت درلود؛
- د هرې ورځې چې بل څوک ستا له لاسه ناارامه و او ستا له خوا یې د خوندیتوب احساس نه کاوه؛
- د هرې شپې چې یو چا ستا د خیانت له امله تر سهاره ژړلي دي؛ (افسوس)
- د خلکو د هغو ورځو چې ستا لپاره یې تېرې کړې دي؛ خو تا ټولې

---

۱ـ رواه الترمذي، ۲۴۱۷ شمېره حدیث؛ عن أبي برزة الاسلمي رضي الله عنه.

په سات تېرې کې ضايع کړې دي؛

- د هغو ژمنو چې پوره کړې دې نه دي او په نيمه کې دې پرېښې دي؛
- او د هرې شمعې چې د يو چا په زړه کې دې بله کړې؛ خو بېرته دې گل کړې ده؛

﴿وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ﴾ [النور: ١٥]

«او دا کار ساده گڼئ؛ خو د الله تعالى په نزد لويه (گناه) ده».

# ﴿۸﴾

په «المختار من نوادر الأخبار» کتاب کې راغلي دي:

يو سړی سالم بن قتيبه باهلي ته ورغی، له هغه يې د ستونزې د حلولو غوښتنه وکړه او سالم پر څمکه ناست و.

دې سړي خپله توره چې له تېکي يې راوېستې وه، د سالم پر ګوته په ناپامۍ کېښوده، پر هغه يې فشار راوړ او خپله اړتيا يې ورته ياده کړه. دومره فشار يې ورباندې راوړ، چې د سالم ګوته وينې شوه؛ خو سړي ته يې هيڅ هم ونه ويل. کله چې هغه سړي خپله ستونزه ورته بيان کړه او سالم يې ستونزه حل کړه، دا سړی بېرته لاړ. سالم د خپلې ګوتې وينه پاکه کړه. شاوخوا کسانو يې وويل: ولې دې له ګوتې توره پورته نه کړه؟

ويې ويل: وووېرېدم، که دا کار وکړم، سړی په خپل کار ونه شرمېږي او هغه اړتيا يې له ياده ونه وځي چې ما ته يې د حلولو لپاره راغلی و.

کله چې يو کس درته د خپلې اړتيا د پوره لپاره راځي، پوه شه چې هغه د خپلې ستونزې حل لومړی له الله تعالی غوښتی دی، الله تعالی ستا پر لوري لارښوونه ورته کړې ده او ته يې د خپل بنده د ستونزې د حلولو سبب ګرځولی يې. نو هغه چا ته فکر مه کوه چې خپله ستونزه ستا په وسيله حلوي، بلکې په دې فکر وکړه، چې لوی ذات غوښتي پر تا رحم وکړي او تا د هغه کس د اړتياوو د پوره کولو لپاره وټاکي.

کله چې يوه اړمن ته صدقه ورکوې، په واقعيت کې ته تر هغه ډېر اړمن يې، هغه تا ته په دنيا کې اړتيا لري؛ خو ته په آخرت کې هغه ته اړتيا لرې!

ته له هغه چا بل څه نه يې چې ځان ته مال او شتمني راجمع کوي، معلومه

نه ده چې دا شتمني ستا په درد خوري که د خپلوانو ترمنځ دې وېشل کېږي او يوازې هغه اندازه ستا مال دی چې له خانه وړاندې دې خيرات کړی دی. د صدقې په اړه غوره خبره چې ويل شو ده: «صدقه د آخرت لپاره د دنيا د مال زېرمه ده او ته نه شې کولای چې خپل مال له خانه سره قبر ته يوسې؛ خو داسې کار کولای شې چې ستا تر تلو وړاندې درته په آخرت کې په تمه وي، چې پايلو ته يې ورسېږې».

هر شی ادب او طريقه لري او بخشش هم په دې دنيا کې د شيانو له ډلې دی، چې خپل ځانګړی ادب او طريقه لري، چې هغه د هغه چا د عزت ساتل دي، چې خپله اړتيا له تا غواړي. خلک تر اړتيا مخکې عزت لري. د انسان د عزت ساتل او د شخصيت درناوی د هغه د اړتيا تر پوره کولو کم نه دي. اړمن انسان په خپل پټ درون کې د غم او درد يوه دنيا لري، که څه هم تا ته به يې درښکاره نه کړي.

اوس چې دنيا هغه ته شا کړې ده، له لاسه يې ونيسه. هغه ته د ارامۍ احساس ورکړه، نرمه خبره ورته وکړه، په ورين تندي ورسره چلند وکړه او مجلس دې په موسکا ښکلی کړه.

د اړتيا غوښتل ډېر تريخ او سخت دي او يوازې ستا سم چلند کولای شي، چې دا تريخوالي او سختي د اړمن له روحيې سپکه کړي.

هيڅکله دې له ياده ونه وځي، چې جزا د عمل له جنسه ده. له الله تعالی پرته بل هيڅوک ډېر وفاکوونکی نشته. هغه څوک چې زړه يې خلکو ته نرم شي، الله تعالی د نورو زړونه د هغه پر وړاندې نرموي.

څوک چې د خلکو اړتياوې پوره کوي، الله تعالی د هغه اړتياوې په ډېره اسانه طريقه پوره کوي.

﴿۹﴾

د شپې د دریمې برخې په تمه کېناستم، چې په حق کې دې خیرا وکړم.
کله مې چې سر په سجده کېښود، زړه مې عجیب شور وکړ، ناڅاپه متوجه شوم، چې په حق کې دې د خیر دعا کوم.
دعا درته کوم چې الله تعالی دې نېکمرغه کړه، لویه ارامي دې په برخه شه او له زړه مې ووځه.
خو له زړه مې ستا وتل له شک پرته پوره شول، چې تر دې وروسته مې په زړه کې درته هیڅ ځای نشته؛ خو نېکمرغي او ارامتیا، دا نوره ستا کیسه ده او زړه مې نه غواړي، چې د چا بې ګټې خبرو ته غوږ شم. نه مې خوښېږي چې د پردیو کیسه واورم.

## ﴿۱۰﴾

اروپایان په خپلو عامو کیسو کې نقلوي:
یوې چینګښې یو غوبی ولید، د هغه شکل او بدن ته حیرانه شوه او په خپله یې تول اوږدوالی او سور تر یوې هګۍ زیات نه و.
بالاخره یې یوه ناهیلې کوونکې هڅه پیل کړه، په یوه غوبي د بدلېدو لپاره به یې تل ځان پړساوه او په زور به یې ځان کشولو ته هڅاوه.
یوه ورځ یې خپل ګاونډي ته وویل: ما ته وګوره، آیا غټه شوې یم؟ آیا دومره لویه شم، کافي ده؟
ګاونډي یې وویل: تر اوسه نه، نوره هڅه وکړه، چې لویه شې!
هغې همداس دوام ورکړ، تر هغې چې له ډېر پړسوبه وچاودېده.
همدومره نعمت او نېکمرغي کافي دي چې انسان په هغه څه خوښ اوسي، چې الله تعالی ورته ور بللي دي.
او همدومره بدمرغي او سختي کافي ده، چې انسان په هغه څه ناخوښه اوسي چې الله تعالی ورته ور بللي وي.
الله تعالی دا دنیا د ازمېښت کور ګرځولی دی، نه د جزا کور. د الله تعالی پرېکړه داسې شوې ده، چې د خلکو ترمنځ یې رزق د ظرفیتونو په توپیر وېشلی دی. دا د دې لپاره چې الله تعالی وګوري انسان د هغه له نعمتونو سره څه کوي. آیا شکر یې ادا کوي که ناشکري کوي؟ ګوري چې څه کوي؟ څه چې حرام دي، په هغو صبر کوي که انفجار کوي؟
الله تعالی ځینې انسانان بېزله پیدا کړي دي، د دې له مخې نه وو چې د هغوی د شتمن کولو وړتیا یې نه لرله، هېڅکله نه، بلکې د اسمانونو او ځمکې د چارو

اداره د هغه په واک کې ده؛ خو د ځینو خلکو امتحان په فقر کې دی.
کله چې الله تعالی یو انسان بد یا ناروغ پیدا کړی وي، د ناتوانۍ له مخې نه ده. نو هغه الله تعالی دی چې هر شی یې له نشت څخه پیدا کړی دی او د ځینو خلکو امتحان په مصیبت او ناتوانۍ کې دی.
الله تعالی په دې دنیا کې موږ ته ځینې شیان راکړي دي او ځینې یې نه دي راکړي. دا دنیا د هیچا لپاره بشپړه نه ده؛ خو دا موږ یو چې داسې فکر کوو. موږ ټول فکر کوو، چې راتلونکی امتحان به مو اسانه وي.
څوک چې خپل عمر د نورو په لاسونو کې د شیانو په کتلو تېر کړي، الله تعالی هیڅکله دا فرصت نه ورکوي، چې په خپلو لاسونو کې شته شیانو ته وګوري او خوند ترې واخلي. ژوند کوي؛ خو د محرومیت او ناشکرۍ خوند یې تل خوله او زړه تریخوي.
څوک چې په رښتیا درک کړي چې الهي تقدیر ټول ثبت شوی دی او رزق او روزي وېشل شوې ده، له الله تعالی راضي کېږي او الله تعالی هم له هغه راضي کېږي.
په یاد ولرئ چې د ځمکې پر مخ تر ټولو بدمرغه انسان یو ځل په جنت کې غوپه کېږي او بیا ورڅخه پوښتي، چې تر دې وړاندې دې بدمرغي لیدلې ده؟
ورته وایي: نه په خدای، تر دې وړاندې مې هیڅکله بدمرغي نه ده لیدلې؟
په همدې ډول د ځمکې ډېر نېکمرغه انسان یوه ورځ په دوزخ کې غوپه کوي او بیا ورڅخه پوښتي چې تر دې وړاندې دې ارامتیا لیدلې ده؟
ورته وایي: نه په خدای. تر دې وړاندې مې ارامتیا بېخي لیدلې نه ده.
نو خدایه! موږ ته توفیق راکړې، چې ستا په تقدیر راضي شو او په آخرت کې د دې نیمګړې دنیا په بدل کې جنت راکړې.

## ﴿۱۱﴾

په افسانو کې يې رانقل کړي دي:
يو لړم ډېر وخت په ساحل کې په دې تمه و چې يو څوک يې د سيند بلې غاړې ته پورې باسي.
ډېر انتظار يې وکړ، تولو يې له وړلو ډډه کوله؛ څکه پوهېدل چې ټک ورکوي.
کله چې يې چينگښه له څنگه تېرېدله، له خانه سره يې وويل، ښايي نتيجه ورکړي، که پر دې چينگښې ټينگار وکړم، مرسته راسره کوي.
غږ يې ورته وکړ: اې ښې چينگښې! آيا ما به په خپله شا کښېنوې او د سيند بلې غاړې ته به مې يونه سې؟
چينگښې ورته وويل: زه څه لېونۍ يم چې پر شا دې کړم او ته مې وچيچې؟
لړم ورته وويل: ولې به دې چيچم، حال دا چې پر شا دې کښېنم، د سيند په منځ کې واقع يم او که ته مړه شې، زه هم درسره ډوبېږم؟
چينگښه د لړم په خبره قانع شوه، ځان يې ورنږدې کړ، چې هغه پر خپله شا کښېنوي. کله چې د سيند منځ ته ورسېدل، لړم خپل نېش د چينگښې په بدن کې ور دننه کړ او خپل زهر يې پکې توی کړ.
چينگښې د ساه ورکولو پر مهال د خپل ژوند په وروستۍ شېبه کې لړم ته وويل، زه دې ولې ووژلم، حال دا چې پوهېږې ته هم راسره مړ کېږې؟
لړم ورته په څواب کې وويل: خيانت زما عادت دی او طبعاً عادت پر هر

چا برلاسی کېږي.

باید د خیانت کولو پر مهال خیانت کوونکی وپېژندل شي؛ څکه په زرګونه ځله خیانت کوي؛ څکه چې دا کار يې عادت او طبيعت دی.

د خیانت کوونکو تر ټولو بد کار هغو کسانو ته قناعت ورکول دي چې خیانت ورسره شوی وي، چې پخپله د دې کار سبب شوي دي او د هغوی خیانت يوازې غبرګون و، حال دا چې هيڅ شی خيانت نه شي توجيه کولی او د جواز لپاره يې لار نه شي پيدا کولی، حتا زخمونه يې هم نه شي توجيه کولای.

کله چې هوښيار انسان د چا لخوا ټپ ويني، خپل زخم راټولوي او خپلې لارې ته ادامه ورکوي؛ څکه پوهېږي چې کله څوک له لاسه ورکړي، دا د دې لامل نه کېږي، چې د خپل ځان عزت هم له لاسه ورکړي.

د ژوند پيښې په عادت کې بدلون نه راولي، بلکې يوازې پرده ترې پورته کوي. دا د انسان نقابونه لرې کوي، نو حقيقي څېره يې راڅرګندوي.

هيڅوک درته نه راځي، چې ځان درته معرفي کړي او درته ووايي: زه سپک او خاين يم، بلکې ته ورته په خپله لومړی د خپل شخصيت په قلمرو کې ځای ورکوې او د ضعف ټول ټکي دې ورته ښکاره کوې، وروسته د هغه له لوري خيانت او ضربه وينې!

کله چې له داسې برخليک سره مخ شوې، هيڅکله دې ځان مه رټه او دليل يې په ځان کې مه لټوه.

دا چې ته طبيعي انسان يې، که په حق کې دې خيانت روا ليدل شوی وي، د حيرانتيا خبره نه ده؛ څکه پخپله دې پکې ځای ورکړی دی. حتمن دې له هغه سره مينه کړې او طبيعي ده چې څوک له چا سره مينه لري، هغه ته په ځان کې ځای ورکوي.

Scanned with CamScanner

په هغه دې باور کړی دی؛ ځکه بې‌باوره اړيکې له جهنم پرته نور څه نه دي. دا چې هغه ته دې په ځان کې ځای ورکړی دی او په هغه دې باور کړی دی، د هغه په نزد دې له ټولو رازونو پرده پورته کړې ده، طبيعي ده چې کله څوک له چا سره مينه ولري، ټولې ورټياوې د هغه په واک کې ورکوي.

په کار نه ده چې خجالته شې؛ ځکه ته قرباني يې، يوازې جلاد بايد وشرمېږي. که ښېګڼه بدې پايلې هم ولري، بيا هم تاسم کار نه دی، بلکې خطا د هغه سخت زړي کار دی، چې د نورو د باور او مينې ښېښه يې په لوبډلي طبيعت ماته کړې ده.

په کار نه ده چې د ذلت او رسوايي احساس وکړې؛ ځکه تا يې پر مخ دروازه پرانيستې ده. د ذلت او رسوايي احساس بايد هغه څوک وکړي چې دروازه يې د ويجاړۍ په نيت ټکولې ده.

## ﴿۱۲﴾

که غواړې چې اړیکه په کم درد او اسانه طریقه پای ته ورسوې، پر مخ یې دروازه او کړی بنده کړه او نور دې سترګې او غوږونه په هغه کې مه بوختوه.

هغوی پرېږده چې خپل ژوند ته ورسېږي او ته دې هم خپل ژوند ته ورسېږه.

له دې موضوع سره داسې چلند وکړه لکه له مړي سره چې یې کوې!

د مړي پر قبر خاورې واچوه، مخ دې ترې واړوه او خپل کار پسې دې ځه، نه دا چې هره ورځ ووینې چې تر مړه کېدو وروسته یې څه وضعیت دی.

هغوی پرېږده چې په خپل برزخ کې وي، مخته ځه او ژوند ته دې دوام ورکړه!

تر شاته کتلو بل هیڅ شی دېر خوروونکي نه دي.

﴿۱۳﴾

په دولسمه پیړۍ کې مغلو د چنګېز په رهبرۍ پر چین حمله وکړه او ډېر ښارونه یې ونیول. هر ښار ته به چې داخلېدل، د هغه ځای ټول اوسېدونکي به یې وژل، له همدې امله یې د ټولو چینایانو د ټولوژنې هوډ وکړ.
خو د «شو اوستای» په نوم شخص وتوانېد چې چین وژغوري. هغه په اصلي کې چینایي نه و؛ خو په چین کې رالوی شوی و او له دې ځای سره یې دومره مینه لرله لکه خپل مورنی ټاټوبی یې چې وي. دا ډېر هوښیار او پوه شخص و.
په خپلې فوق العاده پوهې او ځیرکتیا سره وتوانېد چې خان د چنګېز د سلاکارۍ تر مقام پورې ورسوي. کله چې چنګېز د «کایفنګ» پر ښار لښکرکشي وکړه او تر اوږدې محاصرې وروسته یې دا ځای ونیو، ویې غوښتل چې ټول خلک ووژني؛ خو «شو اوستای» مشوره ورکړه چې د چینایانو ټولو مخکښو کسانو، انجینرانو او کارپوهانو په دې ښار کې پناه اخیستې ده. د دې پرځای چې ویې وژنې، په ګومارلو یې د خپل دولت بنسټونه پیاوړي کړه. چنګېز د «شو اوستای» په دې مشوره قانع شو او له ټولوژنې یې لاس واخیست. دا عجیب کار و، چې له چنګېز څخه یې هېڅ تمه نه کېده او هوډ یې وکړه چې د ښار خلکو ته ښېنه وکړي.
«شو اوستای» په خپله ځیرکتیا پوه شوی و، چې د چنګېز وروستۍ موخه او غوښتنه د یوه تمدن او امپراتورۍ جوړول دي او داسې وحشي دی چې زړه یې یوازې د ښارونو په ویجاړولو او د خلکو په وژلو خوشالېږي.

چنګېز یوازې یوه ځانګړې مزاج ته تمرکز درلود او «شو اوستای» په هغه کې کشف کړی و، تمه، بل هیڅ شی نه.

په مورړ ټولو کې د حساس تمرکز ټکي پټ دي. د حساس تمرکز دا ټکي د بندې دروازې کیلي ته ورته دي، چې انسان دی. هر څوک چې دا کیلي ګانې پیدا کړي، د خلکو سینو ته ورننوتل یې ډېر اسانه دي او په ډېره اسانۍ کولای شي چې یو څوک د یوه کار کولو یا نه کولو ته وهڅوي.

د بېلګې په توګه هغه مېرمن چې د طلاق غوښتنه کوي، زیاتره وخت ورته د اولاد موضوع رامخې ته کوو، راستنېږي او له خپل هوډ څخه لاس په سر کېږي؛ ځکه د مور د زړه کیلي د هغې اولادونه دي.

هیڅکله یوه سوداګر ته د دې خبرې په کولو قناعت نه شې ورکولی چې دا معامله د ټولنې د غوړېدا لامل کېږي، تر څو له تاسو سره په یوه شرکت کې ګډ کار وکړي، بلکې باید هغه ته ووایې چې په دې کار کې څومره ګټه ترلاسه کوي. د سوداګر د کاري تمرکز ټکی له ګټې او د پیسو له زیاتولو بل څه نه دي.

بخیل انسان ته باید ووایې، چې هیڅ پیسې نه ورکوي، په دې طریقه او له خبرنې پرته د موضوع جزیاتو ته چمتو کېږي، چې له تا سره دې په فکر کې شریک شي.

حتا که د «همالیا د غرونو د ایوریست څوکې» ته د ورختلو فکر هم وي، پلې به لاړ شي.

پر فکرونو د برلاسي کېدو غوره لاره د دروازو د کیلي‌ګانو پېژندل دي، چې له هغو څخه په ګټې اخیستنې د دروازې د چوکاټ خرابولو او لرې کولو ته اړتیا ونه لرو.

## ﴿۱۴﴾

کله چې د لېوالتیا اور مړ کېږي، د مینې رڼا ختمېږي او موږ شیان په خپل اصلي حالت وینو، متوجه کېږو، چې ډېر ساده او عام وو او یوازې زموږ سترګې وې چې هغوی ورته ښکلي ښکاره کېدل.

لېوالتیا او مینه تل د شیانو په شاوخوا کې د ښکلاوو هاله[1] جوړوي، د هغې هالې په څېر چې د سپوږمۍ شاوخوا واقع وي او ډېره ښکلې، روښانه او زړه راښکونکې معلومېږي. دا منظره له دې امله ده چې ته یې له لرې ننداره کوې؛ خو که وتوانېږې، چې ځان ته یې در نږدې کړې او بیا ورته ښه دقیق وګورې، پام به دې شي چې دا موجود له یوې تیارې او لوېې دایرې څخه بل څه نه دي، چې له شګو او ډېرو ګڼخه جوړ شوې دی. دا د هغه څه ترمنځ توپیر دی، چې ته یې په لومړي پړاو کې له لرې وینې، بیا یې په ټوله معنا له نږدې پېژنې او په حقیقت یې پوهېږې!«رښتیني پېژندنه هر شی په خپل رښتیني ځای کې واقع کوي».

---

۱ـ هاله د سپوږمۍ شاوخوا دایرې ته ویل کېږي او سپوږمۍ ته لا ډېره ښکلا او نورانیت ورکوي.

# ﴿۱۵﴾

په نړیوالو ادبیاتو کې راغلي دي:
یوه سرتېري خپل لوړپوړي افسر ته وویل: ملګری مې تر اوسه د جګړې له ډګره نه دی راستون شوی، اجازه راکړه چې ورشم او ویې لټوم.
افسر وویل: اجازه نشته، نه غواړم چې د هغه چا په خاطر ته خپل ځان په خطر کې واچوې، چې د وژل کېدو ډېر یې احتمال یې دی.
خو سرتېري له خپل قوماندان څخه سرغړونه وکړه او د ملګري په لټون پسې لاړ. تر څو ساعتونو وروسته یې د خپل ملګري جسد، چې سخت ټپي شوی و، په خپلو اوږو راوړ.
قوماندان په ډېر غرور وویل: درته ومې نه ویل چې هغه مړ شوی دی؟ خو ته راته ووایه: آیا د دومره تکلیف ارزښت یې درلود چې ته ورسره مخ شوې؟
سرتېري وویل: «هو، ارزښت یې درلود، کله مې چې هغه د جګړې په ډګر کې وموند، وروستۍ ساه یې اخیستله او ما ته یې وویل: زه ډاډه وم، چې حتمن به راپسې راځې!
څومره ښه ده چې انسان دومره ښه وي، چې خلک یې په اړه داسې نېک ګمان لري او د ښېګڼې او بدګنې همغه انځور وي، چې خلکو یې په اړه په ذهنونو کې رسم کړی دی او هغه ځای چې نور یې په خپلو زړونو کې هغوی ته ورکوي، ارزښت یې ولري؛ ځکه تر ذلیله کېدو او بې‌یاره کېدو بل هیڅ شی بدتر نه دي.

څومره ښه ده چې ملګرې دې په مجبورۍ او بېوزلۍ کې د کور دروازه دروټکوي او په زړه کې ډاډه وي چې تش لاس به نه لېږې او تا به همغه ډول ووینې چې فکر یې کړی و.
څومره ښه ده چې مورو پلار دې درڅخه د یوه صالح او نېک زوی انځور په ذهن کې رسم کړي او ته یې هم د ناروغۍ او کمزورۍ په سخته شیبه کې یوازې پرېنږدې، په دې کار سره دې همغه انځور «په خپل ښه‌والي کې د اخلاص لوړ مقام» ربښتیا کړې.
څومره ښه ده چې یوه ښځه په داسې وخت کې چې خیانت پکې پرېمانه دی او حتا په کار او کسب بدل شوی دی، په تا باور وکړي او تا د خپلو خبرو په حد کې عمل کوونکی شخص ومومي، بیا دې لاسونه پرېنږدې او عزت او احساساتو ته دې سپکاوی ونه کړې.
څومره ښه ده چې داسې ګاونډی اوسې، چې نور دې له کړنو خوندي وي.
څومره ښه ده چې داسې ورور اوسې، چې د خپلو خویندو حق دې له خپلو اوږو لرې کړی وي.
څومره ښه ده چې داسې مېړه اوسې، چې په ربښتینولۍ کې د خپلې مېرمنې غوره ملاتړ اوسې.
څومره ښه ده، چې داسې پلار اوسې، چې خپلو بچیانو ته د مینې په ورکولو کې له ځانه لوړ نوم او باور په یادګار کې پرېږدې او هغوی په ډاډ سره پر تا تکیه وکړي.
او څومره ښه ده چې دا ډاډمن عادتونه دوامداره پاتې شي او د تل لپاره ښکلا زیاته کړي.

Scanned with CamScanner

## ﴿۱٦﴾

موږ ځینې وخت په ځینو شیانو پورې نښلو او په ژوند کې یې ټینګ نیسو؛
خو له دې وېرې څخه نه، چې که داسې ونه کړو، لمنځه به لاړ شي، بلکې
د دې لپاره دا کار کوو، چې که زموږ په څنګ کې نه وي، موږ تباه کېږو.
موږ په حقیقت کې په هغو نه وېرېږو، بلکې له هغو پرته په ځان وېرېږو؛
خو نه پوهېږو چې د ځینو شیانو د بايللو د وېرې له امله خپل ځان بایلو.
د اړیکو د لمنځه تلو له امله د ډېر حرص شتون هره ورځ موږ لمنځه وړي؛
خو هره شېبه چې د دې اړیکو د پرېښودو تصمیم ونیسو او په هغې شېبه
کې ځانونه شاته کوو، وینو چې د اړیکو تناب د دومره دوام ارزښت نه
درلود لکه زموږ ستونی یې چې زندی کړی و.
په لومړۍ شېبه کې چې د تناب له پرېښودو وروسته مو د ارامتیا احساس
کاوه، له ځانه پوښتو:
«تر دومره ډېر وخت پورې مې ولې له ځانه سره وساته؟»

## ﴿۱۷﴾

ځينې وخت انسان په خپل زړه کې امتحانيږي او دا تر ټولو سخت مصيبت دی.
دا چې يو څوک ستاسې په زړه کې ډېر ځای ونيسي؛ خو په ژوند کې مو د ورغوي هومره ځای هم ونه لري، هغه دې په سينه کې د سيرو په څېر وګڼي او په ساه اخيستو کې هغه ته اړ اوسي؛ خو د تقدير له امله له هغه پرته د ساه بندۍ احساس وکړې او سينه دې تنګه شي.
فکر کوې چې د خپلو سترګو په څېر مينه ورسره لرې، چې په وسيله يې دنيا وينې؛ خو ژوند اجازه درنه کړي، چې ورته ورسيږې.
په همدې توګه ورو ورو عمر ختم شي او د ړندو په څېر د لارې د پيدا کولو په لټه کې اوسې.
نه درته نږدې وي، چې ويې وينې او نه لرې، چې هېر يې کړې!
نه هغه ته د رسېدو لاره دومره نږدې ده چې ورورسيږې او نه دومره لنډه ده چې لارې له هغه جلا کړې.
نه يې په اړه ډاډه اوسېدلی شې او نه دې په لاره کې خنډ واقع شوی دی، چې زړه ناارامه اوسي. خمکه نه دومره تنګه ده چې تاسو دواړه سره يوځای کړي او نه دومره پراخه ده چې له يو بل څخه لرې شئ.
که زړه دې وغواړي، ورسره يوځای کېدای نه شې او که په خپل ځای کېني، ترې لرې کېدای نه شې!
هغه داسې څوک نه دی چې هېر يې کړې او نه ته پر هغه دومره ګران يې

چې تل یې په یاد اوسي.
ژوند په دې ډول له زړه تنګۍ ډک دی.
نه عقل کولای شي چې خپله خبره په زړه ومني او نه زړه د خپلې کمزورۍ له امله د عقل پر وړاندې ځان کم راولي.
دا حالات نه ژوند دی او نه مرګ؛ خو انسان په خپل زړه کې امتحانېږي.
ښايي له ځانه وپوښتې چې آيا په دې صورت کې زه ېښخي يوازې يم؟
نه، ته يوازې نه يې او ميليونونو کسانو تر تا وړاندې د زړه د دې تړاو تريخ خوند څکلی دی او اوس راشه چې د زړه د دې تړاو څو بېلګې درته وښيم.
اوس د مديني ښار په کوڅو کې قدم وهو. پيغمبر صلی الله عليه وسلم خپل تره عباس بن عبدالمطلب ته ووېل: «آيا د هغې مينې په اړه تعجب نه کوې، چې مغيث له بريره سره لرله او هغې ورنه کرکه لرله؟
بريره وينزه وه، لکه ډېرې نورې ښځې د هغې په څېر وينزې وې، د مغيث په نوم مېړه يې درلود. يو څه وخت يې له يو بل سره ژوند وکړ او د ډېرو اولادونو څښتنان شول؛ خو بريرې هيڅکله له مغيث سره مينه نه لرله او کرکه يې ورځخه کوله. د بريره په سر کې له خپل مېړه څخه د جدايي او د وينزيتوب له قيد څخه د خلاصون فکر تاوېده او خپلو مالکانو ته يې قناعت ورکړی و، چې د پيسو په بدل کې يې ازاده کړي. هغوی د بريرې دا وړانديز ومانه او د هغو پيسو په بدل کې يې ازاده کړه، چې هغې ورکړې.
له ام المؤمنين عايشې رضي الله عنها څخه يې غوښتنه وکړه، چې يو څه پيسې ورسره مرسته وکړي، بريره ازاده شوه؛ خو مېړه يې مغيث غلام پاتې شو.
د اسلام په قانون کې چې کله ښځه د وينزيتوب له قيد څخه خلاصه شي، اختيار لري چې له خپل غلام مېړه سره ژوند ته ادامه ورکوي او که جلا کېږي.

Scanned with CamScanner

بریره جدایي غوره کړه او له مغیث څخه یې د طلاق غوښتنه وکړه. مغیث دا بېلتون ونه زغملی شو او د مدینې په کوڅو کې به ژړا د بریره له څنګ تېرېده او زاری یې ورته کولې چې ګډ ژوند ته ادامه ورکړي؛ خو د بریره زړه وربانديې نه سوځېده او رحم یې وربانديې نه کاوه.

دا چې د هغې وصال ته له رسېدو ناهیلی شو او مینې یې د زړه په ژورو کې ریښې وکړې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی، تر څو د هغه لخوا بریرې ته شفاعت وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم بریرې ته ورغی او ورته وېې ویل: که راستنه شې، ډېر به ښه شي، آخر هغه ستا مېړه او د خپلو بچیانو پلار دی.

بریرې وویل: ای د الله رسوله! ایا ما دې کار ته مجبوروې؟

محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل: نه، یوازې شفاعت یې کوم.

بریرې وویل: نه، شفاعت ته اړتیا نه لرم، نه یې غواړم.

په دې تول پوهېږو چې یو طرفه مینه تر ټولو بد مصیبت دی، چې د انسان لمنه نیسي او په انسان داسې حالت راولي چې نور د خپل زړه اختیار له لاسه ورکوي؛ خو ښه خبره نه ده چې انسان خپل عزت او شخصیت له پامه وغورځوي او خپل کرامت تر پښو لاندې کړي.

دروازه د مینې په ګوتو وټکوه، که څواب دې ترلاسه نه کړ، نور دې په غوښتنو تینګار مه کوه.

انسان باید د هر بې‌ارزښته شي په مقابل کې خپل عزت ونه بایلي. آخر ته هغه یوازینی کس یې، چې باید د راتلونکې لپاره دې پاتې شې او د ځان لپاره ژوند وکړې. شخصیت او حیثیت دې درباندې حق لري، چې ذلیل یې نه کړې.

که وتوانېږې دوه مینان د یو بل وصال ته ورسوې، یوه شیبه هم ځنډ مه

کوه؛ څکه دا کار د باطن د خیر او د انساني اخلاقو د غوره‌والي نښه ده.

د زړونو ماتول غږ نه لري؛ خو سخت درد لري. تر دې بل دردوونکی شی نشته چې نور څان دې په یوه څای او زړه دې په بل څای وي.

هو، برخلیک ډېر زړونه له یو بل سره یوځای کوي؛ خو په دې لاره کې ډېرو زړونو خپل څانونه بایللي دي، هغه هم یوازې د خپلسرۍ او ټینګار له امله...

فکر وکړه عمر بن خطاب رضي الله عنه پر دومره ډېره ورتیا او قوت سربېره، یوه ورځ د ملګرو د بېلتون له امله په ټول خپګان سره اه وکړه او ویې ویل: که د «عروه او عفراء» په زمانه کې وای، حتمن به مې هغوی د یو بل وصال ته رسولي وو.

او حتا که د دوستانو ترمنځ د مینانو یوځای کول ستا په اختیار کې نه وي، لږ تر لږه په دې لاره کې هلې ځلې دې حتمن په واک کې دي، مور خپلو هلو ځلو او نیت ته په کتو اجر ترلاسه کوو، دې ته له پام پرته چې نتیجه به ورکړي که نه.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر دومره ستروالي سربېره د زړونو د مینې لپاره هڅه کوله، نو ته هم د هغه په څېر په دې کار کې ونډه اخله.

پام دې وي چې شیطان وسوسه درنه کړي، چې خیر غوښتنې ته به دې پام ونه شي او د خیر د کار د ترسره کولو هوډ چې لرې، په جنجال به دې واړوي؛ خو زه وایم: که د ژوند پر ځمکه د خیر تخم شیندل ګټه هم ونه لري، هیڅ جنجال او پښېماني نشته.

کله چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم شفاعت د مغیث د مېرمنې بریرې لخوا رد شو، هغه په غوسه او ناهیلی نه شو، بلکې په دې لوی کار یې موږ ته رازده کړل چې تل د خیر نیت ولرو او په دې لاره کې هڅه وکړو.

Scanned with CamScanner

په پایله کې چې الله تعالی هر څه غوښتي وي، هغه به کېږي، که زیار وي، که له زیار پرته وي؛ خو موږ باید د نېکۍ او خیرغوښتنې په لاره کې په زیار ګاللو سره د الله تعالی عبادت وکړو.

ډېر کسان شته چې پر زیار ګاللو سربېره خپلې موخې ته نه دي رسېدلي؛ خو د الله تعالی لخوا اجر ورکړل شوی دی؛ ځکه هغوی په دې کارونو کې یوازې الله تعالی خپل هدف ګرځولی و.

د تبوک له غزا څخه د راستنېدو پر مهال پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل: «په مدینه کې داسې کسان شته چې ستاسو په څېر مزل یې نه دی کړی او له کومو درو چې تاسو تېر شوي یاست، هغوی ترې نه دي تېر شوي؛ خو په اجر او ثواب کې له تاسو سره مساوي برخه لري. ناروغۍ پرېښنبودل چې له تاسو سره راشي؛ خو په خپل لوی نیت او اراده یې دا ټول اجر او ثواب ترلاسه کړ.

هغه کس چې سل کسان یې ووژل او د توبې په نیت له کوره ووت؛ خو مخکې تر دې چې د نېکانو کلي ته ورسېږي او د توبې لاره ومومي، عمر یې ختم او مړ شو.

وګوره، سره له دې چې نېکانو ته نه و رسېدلی؛ خو الله تعالی یې زړه ته ګوري او په هدف یې پوهېږي. له همدې امله د هغو کسانو اجر ورکوي، چې مطلوب ځای ته رسېدلي دي، حال دا چې یاد کس هغه ځای ته نه دی رسېدلی.

Scanned with CamScanner

## (۱۸)

غم مه کوه، په پای کې به هوډ وکړې چې بوازې خان انتخاب کړې او تر دې زيات په هر څه پورې زړه ونه تړې؛ څکه پوهيږې چې د وښو پانه غرق شوي ته نجات نه شوي ورکولی او سوری شوې کښتی د سيندمزلي لپاره مناسب انتخاب نه دی او له هغې څخه کار اخيستل انسان مرګ ته نور هم ورنږدې کوي، په يوه سفر تلل هغه هم د سيندونو په منځ کې لرې خبره ده.

ژر به په خپلو پښو ودريږې، که څه هم په زړه کې دې د وسوسې چټک توپان راوالوزي او په لړزولو دې تهديد کړي.

ژر به هر کس ته هغه څه ورکړې، چې وړتيا يې لري، نه کم نه زيات.

ژر به هغه ځای پرېږدې چې ستا لپاره مناسب ځای نه دی. ژر به د هغه چا په نظر کې ځای پيدا کړې، چې له پامه يې غورځولی وې او هغه ته به ووايې، چې زه له تا تنګ شوی يم...

وروسته به له ځانه سره رازونياز وکړې او په حيرانتيا به له ځانه وپوښتې:

آيا رښتيا دې لويوالي ته رسېدلی يم که خوب وينم؟

حيرانېږه مه، دا ستا د کرامت څواک دی او ته حق لرې چې يوه ورځ همداسې شخص شې او حتا تر دې هم زيات...

﴿۱۹﴾

«بيدبا» مشهور هندي فيلسوف او عالم د «کليله و دمنه» په نوم کتاب کې رانقل کړي دي:

د يوه خره لکۍ پرې شوه او دا لوی مصيبت و چې خر ورسره مخ شوی و. هر ځای به په خپله لکۍ پسې ګرځېده؛ ځکه نه پوهېده او فکر يې کاوه چې که ورکه شوې لکۍ يې پيدا کړي، بېرته به يې ځان ته ورکلکه کړي.

د خپلې ورکې لکۍ په لټه کې و، چې په ناپامۍ کې يوه بڼ ته ورننوت، په ډېرې بې‌پروايۍ يوې خوا بلې خوا ګرځېده، د بڼ محصولات او وابنه يې تر پښو لاندې کول او لمنځه يې وړل. له جوارو سره به لګېده او چيتول به يې.

کله چې بڼوال خر وليد، له غوسې تور او شين واوښت، چاړه يې راواخيسته، له رسېدو سره سم يې له خره دواړه غږونه پرې کړل او په زور او وهلو ټکولو يې له بڼ ځخه وباسه.

انسان بايد خپلې ماتې او زيانونه ومني او پوه شي چې ځينې شيان پر ډېر زيار سربېره هم بېرته خپل لومړني حالت ته نه راځي.

د ماتې او زيان منل د تمدن او د عقل د پوخوالي نښه ده، ځوک چې دا حقيقت نه مني، هره ورځ بايد د پرلپسې زيانونو تريخ جام په سر راواړوي او هره شېبه د رنځ او مصيبت په اور کې وسوځېږي.

موږ بايد پوه شو چې ژوند يوه جګړه نه ده، بلکې د جګړې د ډګرونو

ټولګه ده او د جګړې د ډګر زیان په خپله په جګړه کې د زیان په معنا نه دی؛ خو که انسان د همغه یوه میدان زیان ته سر په زنګون کښي، خبره دې ځای ته رسېږي چې په ټوله جګړه کې زیان وکړي، یعنې خپل ټول ژوند بایلي.

د زیان منل او د ژوند د واقعیت درک کول په وهم او خیال کې تر ژوند کولو غوره دي؛ څکه هغه انسان چې یوه شي یو ځل ماتې خوړلې انسان ته لوی درس ورزده کوي، باید هغه په یاد ولري او ورپسې د ژوند د کتاب بله پاڼه واړوي. په دې صورت کې به لوېې بریاوې ترلاسه کړي. نېلسن منډیلا رښتیا ویلي دي:

«زه هیڅکله په خپل ژوند کې ماتې نه خورم، یا ترې ګټه اخلم یا ترې زده کړه کوم».

د موته په جګړه کې د اسلام درې لوی قوماندانان «زید بن حارثه، جعفر بن ابي طالب او عبدالله بن رواحه تقبلهم الله)، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغوی د اسلامي دولت په رأس کې ګومارلي وو، د جګړې په لومړیو شپېو کې د الله تعالی په لاره کې شهیدان شول.

مسلمانانو له خالد بن ولید پرته چې تازه مسلمان شوی، بل څوک پیاوړی ونه لیدل، تر څو د جګړې نظامي او جنګي چارې مخته یوسي.

خالد بن ولید د جګړې د ډګر وضعیت وارزاوه او د خپلې نظامي پوهې په ژور بصیرت سره پوه شو چې جګړې ته نور دوام ورکول ځان وژنه ده، پر دې اساس یې د جنګي شاتګ پلان جوړ کړ، چې تر ننه هم د نظامي زده کړو په پوهنځیو کې تدریسېږي.

کله چې د اسلام لښکر د مدینې پر لور حرکت وکړ، خلکو ورته وویل: تاسو د جګړې له میدانه تېښته کړې ده؛ خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم

ورته وفرمایل: بلکې تاسو تکړه سپرلی کوونکي او د جګړې د ډګرونو زړور جنګیالي یاست. هو، هغه له حکمت او پوهې ډک پیغمبر صلی الله علیه وسلم و او تل یې د ژوند چارو ته د واقعیت له ژورو زاویو کتل. د خالد بن ولید رضي الله عنه له خوا د جګړې د نبض د درک کولو او د نظامي شاتګ د دقیق پلان د طرحه کولو د پلان شبېې د اسلام ټول لښکر او د اسلامي دولت سرتېري له مرګ څخه وژغورل. خپلې ماتې مو ومنئ.

## ﴿۲۰﴾

کله چې مې خپلې شیان په ژوند کې عزت ته زیان نه رسوي، په هیڅ وجه ترې لاس نه اخلم او دوام ورکوم.

خو چې پوه شم سپکاوی مې کیږي، په همغې شیبه کې ترې لاس اخلم او تر دې وروسته په دې کار ټینګار نه کوم.

تر اوسه راباندې داسې ورځ نه ده راغلې، چې یو څه مې له لاسه پر ځمکه لوېدلي وي او ما دې د بېرته نیولو لپاره ځان ورپسې ټیټ کړی وي.

تل مې عزت له زړه څخه لوی دی او دا یوازینی صفت دی، چې په ځان کې یې له نورو صفتونو ډېر خوښوم.

Scanned with CamScanner

## ﴿۲۱﴾

داغستانیان په خپلو عامو کیسو رانقلوي:
یوې پیشو د موږګانو استوګنځی نیولی و او هره ورځ به یې تر لسو ډېر موږګان وژل. حتا کیسه دې ځای ته راورسېده چې نږدې وه د پیشو له لاسه موږګان له بېخ او بنیاده ختم شي.
موږګانو پیشو له خپل محبوب سره د کېناستلو له امله غافلګیره کړه. په خپلو کې یې غونډه وکړه، چې د پیشو لپاره یوه حللاره پیدا کړي.
له هغو څخه یوه د ډېر عمر موږک چې په پوه موږ مشهور و، نورو موږګانو ته وویل: «پیشو تل موږ غافلګیر کوي، له همدې امله هغه زموږ د غافلګیر کولو په راز ښه پوهېږي. د دې مصیبت یوازینۍ حللاره دا ده چې څه ډول پوه شو، چې څه وخت راباندې حمله کوي او ما ورته دا حللاره پیدا کړې ده.
ټولو موږکانو په یوه غږ وپوښتل: څه حللاره هوښیار موږکه!
هوښیار موږک ورته وویل: دا شرنګانې چې په تار مې تړلې دي، د دې ستونزې غوره حللاره ده. کله چې پیشو ویده شي، له موږ څخه یو باید دا شرنګانې د هغې په غاړه کې واچوي. کله چې له خوبه راپورته شي، شرنګانې شرنګېږي او موږ یې له غږه پوهېږو چې څه وخت زموږ د سیمې پر لور حرکت کوي.
موږګان د دې هوښیار موږګ پلان ته حیران شول او ټول د دې هوښیار موږګ تر اغېز لاندې راغلل او حیران وو، چې کار له کومه ځایه پیل

کړي.

هوښیار موږک به چې هر لاس لاندې موږک ته کتل، چې دا لویه دنده ورته وسپاري، هغوی به ورته ناتوانه معلومېدل.

یوه موږک وویل: زه چټکه منډه نه شم وهلی، وېرېږم چې وبه مې نیسي.

بل موږک وویل: زما د سترګو نظر ډېر ضعیف دی، نه شم کولای چې د پیشو په غاړه کې تار واچوم.

درېیم موږک وویل: زه ډېر ناروغ یم.

بالاخره د هوښیار موږک پلان عملي نه شو او ورو ورو پیشو د موږګانو ځای وران کړ او ټول یې وخوړل.

پخوانیو ویلي دي: له پلان پرته موخه یوازې یو خیال دی او زه وایم، چې د زړورتیا له اقدام پرته پلان د کاغذ پر مخ هغه وداني ده چې د اوسېدو وړ نه ده او کومه کښتۍ چې د کاغذ پر مخ رسم شوې وي، په سیند کې ورڅخه استفاده نه شو کولای.

موږ غالباً بې‌پلانه یو، ټول پوهېږو چې څه باید وکړو؛ خو ستونزه دلته ده چې عملي کوو یې نه، همدا لامل دی چې په خپل لومړني ځای کې پاتې یو، د هغه چا په څېر چې پر تاوېدونکې څوکۍ ناست وي او ټکان خوري؛ خو له خپل ځای څخه یې بل خوا نه ځي.

له خپل ملګري سره دعوه کوو، بیا هغه ښې ورځې رایادوو، چې له هغه سره مو تېرې کړې دي، د خوښۍ خاطرې رایادوو. له همدې امله یو ګام مخته ځو، چې نور دوام هم ورکړو؛ خو زموږ غرور موږ دوه ګامه شاته ولي، هر څومره چې خپګان زیات دوام وکړي، واټن ورسره زیاتېږي. کبر دې ورک شي.

مخته لاړ شئ! د دوو ورونو ترمنځ د یوې کوچنۍ او جزي موضوع په سر

جنجال رامنځته کېږي او له دې امله یو بل مخ اړوي. ټوله دنیا د دې سترګیا او خپګان ارزښت نه لري.
نه دا د سولې لپاره رامخته کېږي او نه هغه بل؛ خو کله چې ترې یو مړ شي، بل یې په بېلتون ژاړي او فریاد کوي. تر مرګ وروسته دا ټولې اوښکې تویونې د هغه په بېلتون کې هیڅ ګټه نه لري.
هغه وړوکی ګل چې په ژوند کې یې چا ته ورکوو، د هغو ګلانو له لویې ګېډۍ څخه غوره دی، چې تر مرګ وروسته یې د هغه پر قبر ږدو.
په ژوند کې باید زړور واوسو او له جرأت نه ګټه واخلو. انساني نفس ادب او اصلاح ته اړتیا لري او په کار دی چې سړی یې حق او حق غوښتنې ته وهڅوي او لارښوونه ورته وکړي.
زموږ نفسونه د ماشومانو په څېر دي، چې که په خپل حال یې پرېږدو، ټول ژوند په لوبو تېروي؛ خو که له لاسه یې ونیسو او په مهرباني ادب ورکړو، راتلونکې ورته ښکلې انځور کړو او لږ تر لږه یې نېک او ښه انسان وروزو، په کافي زړورتیا او غوره‌والي به سینګار شي.

# ﴿۲۲﴾

﴿...يُدَبِّرُ الْأَمْرَ...﴾ [یونس:۳] ژباړه: «د دنیا چاره تدبیروي»

خدایه! دا خبره دا ځل د زړه له کومې کوم. ستا قوت احساسوم او په خپلې کمزورۍ اعتراف کوم. خپله وړتیا او قوت لوی نه ګڼم او ستا ځواک او وړتیا ته پناه دروړم؛ ځکه ته یې کولای شې او زه یې نه شم کولای.

هر هغه څه ته تسلیم یم چې چا ته یې اراده کړې ده، که په ظاهره مې وځوروي هم؛ ځکه ته پوهېږې، زه نه پوهېږم.

په هغه څه قناعت لرم، چې زما په برخه کې دې کړي دي؛ ځکه که ما خپل ځان ته وسپارې، بسنه راته نه کوي.

نه چې هر څه ورکوې یا هر څه اخلې، د یوه لوی حکمت پر اساس یې کوې. زه باور لرم، هر څه چې تا راته لیکلي دي، که زه ترې لاس هم واخلم، بیا رارسېږي او څه چې زما په نصیب کې نه وي، که د ترلاسه کولو هڅه یې هم وکړم، زما نه په برخه کېږي.

نو ما ته قناعت او رضا را په برخه کړه، تر څو وتوانېږم دا ژوند په قناعت تېر کړم.

څه دې چې ما ته راکړي دي، په نظر کې مې راته زیات ښکاره کړه، چې خوشال شم.

څه دې چې راته نه دي راکړي، هغه راته بې‌ارزښته او کم ښکاره کړه، چې ورباندې خپه نه شم.

## ﴿۲۳﴾

د ژوند تر ټولو ښکلې صفت دا دی چې پر هر څه سربېره بيا هم دوام لري. نه د غمجنو پېښو له امله درېږي او نه د کوم مصيبت له امله څنډېږي. د ژوند قافله روانه ده، ځينې وخت ترې خوښې پنځوونکې پېښې او ځينې وخت ترې له مصيبت ډک حالات رامنځته کېږي.

هوښيار انسان پوهېږي چې نه خوښې تلپاتې ده او نه غم د همېش لپاره پاتې کېږي؛ خو څوک چې په دې باور وي د ژوند د دوامداره څرخېدو هدف دا دی، چې نوي دردونه او ستونزې رامنځته کړي او شپه او ورځ يو په بل پسې راځي، تر څو د انسان بدن ته نور زخمونه ورکړي، دا د ځمکې پر مخ تر ټولو مصيبت ځپلی انسان دی؛ ځکه ځان يې په خپلو لاسونو بدمرغه کړی دی.

خو که دنيا په هغه ډول وپېژني، چې څه ډول ده، پخپله به هم خوښ او ارام شي او نورو ته به هم خوښي ورکړي.

خپلو شاوخوا مخلوقاتو ته وګورئ، چې څه ډول يې خپل زيانونه منلي دي او د څه په وړاندې خنډونه شته، بيا هم مخته ځي؛ ځکه ژوند د هيچا او هيڅ شي لپاره له حرکته نه درېږي.

هر کال د افريقا په لويه وچه کې د وحشي غواګانو ګڼې رمې له وچ موسم نه د تېښتې او اوبو ته د لاسرسي په موخه له خپلو ځايونو او سيمو څخه لرې سفر کوي؛ خو د دې حرکتونو په جريان کې په هغه لاره کې چې د ژوندي پاتې کېدو په موخه يې مزل کوي، له هر لوري ورته مرګ په کمين کې دی.

یو شمېر د ځنګل د زمریانو په لومو کې لوېږي، چې هغو ته په کمین کې ناست دي، ځینې یې په ولاړو اوبو کې د مېشتو تمساح‌ګانو (Crocodiles) خوراک ګرځي؛ خو هغه غواګانې یوازې تېپي کېږي او ژوندی رسېږي، بېرته د ځانونو درملنه کوي، زخمونه یې رغوي او خپلو موخو ته رسېدو لپاره دا زیانونه مني، په خپله لاره مزل کوي، چې موخو ته یې ورسېږي او په راتلونکي کال کې بیا هم دا کار تکراروي.

د مرګ له خطرونو او له لویو زیانونو ډک تګ راتګ!

دا غواګانې د ژوند د لوبې له قانون سره ښې بلدې دي، هغوی پوهېږي چې غوښه یې د ځنګل د زمریو او د ولاړو اوبو د تمساح‌ګانو د خوښې وړ ده او په دې هم پوهېږي چې که په اوړي کې ځانونه یخو اوبو ته ونه رسوي، لمنځه ځي.

د حیرانتیا ځای دا دی چې غواګانې په خپل شعور سره په داسې شیانو پوهېږي چې ځینې انسانان یې په عقل او منطق نه شي درک کولای.

تر څو پورې چې ژوند دوام لري، زیانونه رامنځته کېږي، یوازې مرګ وروستی غړ دی او د انسان هر څه ورسره ختمېږي.

جګړې دوام مومي، اورونه لمبې کوي او خلک له ناروغیو، ماتو او د خپلوانو له بایللو سره مخ کېږي.

مینېږو او له یو بل بېلېږو، په یو چا پورې زړه تړو او زړه مو د غمونو او مصیبتونو له امله سوځېږي.

غواړو چې خپل زوی وروزو، چې د واده عمر ته ورسېږي، وروسته زموږ د ژوند څرخ بېرته همغه ځای ته رسېږي، چې په اول کې وو او څرنګه چې په لومړیو کې مجرد وو، یوازې کېږو، زموږ لونې او زامن ټول د خپل ژوند په لټون پسې وځي.

Scanned with CamScanner

هو... یو هم نه شو کولای چې دا ټول بدل کړو؛ خو کولای شو چې د ژوند په اړه خپل نظر متفاوت کړو او دا باور کولای شو، چې سختې ورځې او غمجنې شیبې یوازې د ژوند ډېرې کوچنۍ برخې دي او پوهېدلی شو چې کله یوه ناوړه پېښه رامنځته کېږي، په دې معنا نه ده چې هر څه دړېږي.

سمه ده چې که څه هم کله نا کله الوتکه رالوېږي؛ خو خلک پروازونه نه دروي.

ترافیکي پېښې رامنځته کېږي؛ خو موږ هیڅکله په موټرو کې له سپرېدو ډډه نه کوو. زموږ خپلې بچیان مري؛ خو موږ هیڅکله د ماشومانو له راوړلو لاس نه اخلو.

د فوټبال په میدان کې د خارونکو ډېرې تېروتنې رامنځته کېږي؛ خو لوبغاړي هیڅکله له لوبې لاس په سر کېږي نه او موږ د لوبې ننداره نه دروو.

کله چې یوه شو، ژوند له موږ هیڅ یوه سره شخصي ستونزه نه لري او د ژوند دا لوبه تر موږ وړاندې خلکو سره هم وه او بنايي په همدې ډول دوام ومومي، دا وخت کولی شو، چې له نورو سره په پوره واقعیت او منطق چلند وکړو.

زه نه وایم چې د ژوند منطق داسې دی چې شخص باید له زیان ورکولو سره مینه ولري او نه دا چې د مصیبتونو واقع کېدو ته په تمه کېني، چې ورته راشي. هیڅکله نه!

زه چې څه وایم، دا دي چې باید بنه او په لوی فکر عمل وکړو، چې له زیان سره مخ نه شو او هڅه وکړو چې نېکمرغه ژوند وکړو.

خو کله چې سخت حالات راشي، باید ویې منو؛ ځکه له دې پرته بله چاره نه لرو، ژوند او وخت هیڅکله نه دړېږي او موږ ټولو دا منلي دي

چې بدلېږي هم نه.
که څوک له ژوند سره په دې فکر چلند وکړي، چې ټولو موخو ته یې رسېږي، په همغه برخلیک به اخته شي چې مار وربانديې اخته شوی و. په کیسو کې راغلي دي:
یو مار د شپې د یوه ترکاڼ دوکان ته ننوت. ترکاڼ عادت درلود چې د کار وسایل پر مېز کېږدي. شپه ډېره تیاره وه او مار په ناخبرۍ کې د ترکاڼ له ارې څخه ځان تېر کړ او په پایله کې یې بدن زخمي شو. ویې غوښتل چې ځان ته خلاصون ورکړي، اره یې په غاښ ونیوله او زهر یې وربانديې توی کړل، چې په دې کار سره یې خوله هم زخمي شوه. فکر یې وکړ چې اره هغه دښمن دی چې په کمین کې ورته ناست دی، ځان یې له ارې تاو کړ او هڅه یې وکړه چې هغه داسې زندۍ کړي لکه څپله مړې چې داسې کوي. په پایله کې یې ټول بدن پرې شو او بالاخره یې هملته ساه ورکړه.
له دې کیسې څخه دا اخلاقي او روزنیز ټکي اخلو، چې د مار لومړنی زخم یو تصادف و، چې باید موضوع یې درک کړې وای او خپلې لارې ته یې دوام ورکړی وای؛ خو کله یې چې فکر وکړ د یوه شخصي دښمن موضوع ده او بې‌ساه اره یې خپل شخصي دښمن وګاڼه، له هغې سره یې جګړه پیل کړه.
زیاتره کسان له ژوند سره د همدې مار په څېر چلند کوي. د ژوند پېښو ته د یوه تصادف په سترګه نه ګوري، بلکې د شخصي دښمن په نظر ورته ګوري.

Scanned with CamScanner

# ﴿۲۴﴾

﴿...فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا...﴾
[الکهف: ۸۲]

«نو رب دې وغوښتل چې هغه [دوه ځوانان] د بلوغ او ودې حد ته ورسېږي او خپله خزانه چې د رب لخوا دې رحمت و، راوباسي.»

په الله تعالی باور وکړه، له شک پرته د الهي نعمتونو په څنګ کې لوی حکمت نغښتی دی، که څه هم زموږ له نظر او پوهې څخه پټ دی.

ډېر داسې شیان شته چې که په جبر او ټینګار یې ترلاسه کړو، ډېر ژر به یې له لاسه ورکړو.

د غوښتنو په ترلاسه کولو کې څنګ په واقعیت کې د الهي اجابت یوه برخه ده؛ خو انسان بېړه کوونکی موجود دی او هر څه په یوه شېبه کې غواړي.

په دې کې موږ ته لوی رحمت دی چې الله تعالی مو ځینې غوښتنې نه پوره کوي، که څه هم موږ یې نه درک کوو.

د هغو شیانو لپاره مو څومره اوښکې توی کړې دي، چې غوښتل مو ترلاسه یې کړو؛ خو د وخت په تېرېدو پوه شو چې زموږ خیر د هغو په نه راکولو کې و.

د وخت په تېرېدو سره به پوه شې چې ستا له خپلو غوښتنو هغه ډېرې غوره دي، چې الله تعالی درته غوښتې دي.

Scanned with CamScanner

## «۲۵»

لافونتين په خپل کتاب «انتخابي کيسې» کې دا کيسه راوړې ده:
هغه عاقل انسان و او تل به يوازې ګرځېده. يوه کمعقل سړي د هغه پر سر او مخ د ډبرو په وارولو پيل وکړ، عاقل شخص يې په غوسه کړ.
لافونتين دې کمعقل سړي ته مخ کړ او ورته ويې ويل: ګرانه خوانه! ته د تيږو په وارولو کې خانګړې مهارت لرې، دا سکې د انعام په توګه واخله؛ خکه تا دا کار په ډېر زحمت ترسره کړی دی او تر دې د ډېر انعام مستحق يې. هغه کس درته ښکاري چې هلته ناست دی؟ هغه له ما هم ډېر انعام درکولی شي، ورشه هغه په تيږه ووله، چې لا ډېر انعام ترلاسه کړې.
د پيسو او انعام تمې دا ځوان دې ته وهڅاوه چې يو ځل بيا ځان ته سپکاوی وکړي، دا کس يې هم په تيږه وويشت؛ خو دا سړی د لارجوړونې د کارکوونکو مشر و. خپلو لاس لاندې کسانو ته يې امر وکړ چې هغه ووهي. هغوی ورباندې ورټول شول او دومره يې وواهه چې په لاره نه شو تللی.
د لافونتين له کيسې ورهاخوا زموږ په عامو عربي کيسو کې يې هم همدې ته ورته کيسه رانقل کړې ده، چې په همدې اړه ده، بحث ورباندې کوو او اصل کيسه د عربو په زغم لرونکي شخصيت او د بني تميم د لويې قبيلې مشر احنف بن قيس په نوم په ښه انسان تېره شوې ده:
يو بانډه‌چي سړی راغی او احنف بن قيس ته يې پر مخ يوه کلکه څپېړه ورکړه.

احنف ووېل: ولې دې څېړه راکړه؟
ويې ويل: څينو کسانو پيسې راکړي دي او د هغو په بدل کې يې راڅخه غوښتي دي چې د بني تميم قبيلې مشر پر مخ په څپړه ووهم.
احنف ووېل: خو ته غلط شوی يې، زه د بني تميم مشر نه يم، بلکې د حارثه بن قدامه په نوم يو بل کس دی. حارثه ډېر بدخويه انسان و، د غم پر وړاندې يې چپتيا نه غوره کوله او د جاهل په مقابل کې يې زغم نه درلود.
باندهچې راغی او حارثه ته يې پر مخ څېړه ورکړه. حارثه له خنډ پرته خپله توره له تېکي راوايسته او د هغه لاس يې ور پرې کړ.
احنف هم همداسې غوښتل چې په دې ډول خلک هوښيار شي.
په دې دواړو کيسو کې يو لوی درس پروت دی، چې خپل دښمن د بل دښمن لوري ته سيده کړئ.
څينې وخت بايد د نورو پر وړاندې له دربدو څخه ځان وساتو؛ څکه له هغوی سره دښمني او جګړه په هيڅ صورت کې زموږ په ګټه نه ده. که پر هغوی برلاسي شو، د بريا خوند نه احساسوو او که د هغوی پر وړاندې مو ماتې وخوړه، د ماتې په تريخ خوند نه خپه کېږو.
خو په ژوند کې داسې دښمنان هم شته چې زموږ په مقابل کې واقع دي؛ خو په دې دښمنی کې يا په بشپړه توګه پر هغوی برلاسي کېږئ، چې دا مې ډېر خوښېږي يا که له هغوی څخه خپل حق د نورو په وسيله هم ترلاسه کړئ، ارزښت يې لري او دا د دښمن پر وړاندې يو چل دی، چې د دښمنی دا ډول سياست د پورته دښمن پر وړاندې کارېږي او زه فکر کوم دا ډول دښمني د عادي خلکو پر ځای تر ډېره له سياستپوهانو سره اړخ لګوي.

## ﴿۲۶﴾

زه تېښته نه کوم، بلکې مبارزه کوم.

خپلو زخمونو ته ګورم او پرېږدم یې چې وینه ترې لاړه شي او سترګې مې سره ور نه شي. زرګونه وارې انځور ته ګورم، پرېږدم چې زړه مې تهي کړي، چې ورو ورو ورسره بلد شي.

هغه پېښه څو ځلې تکراروم چې ځورولی یې یم او د زخم د پرې کېدو غږ مې د بدن په غوښه کې احساسوم.

پرېږدم یې چې په ځلونو مې وردردوي، تر دې چې نور راته خپه کوونکی نه اوسي.

کله چې دا هر څه پای ته ورسېږي، په ښي پښه مې راوڅم او دا دعا وایم: «غُفْرَانَک»

Scanned with CamScanner

## ﴿۲۷﴾

یسوب په خپل کتاب «خوږې کیسې» کې لیکي:
یوه ورځ د ځېرې ونې د نی بوټي ته وویل: څومره کمزوری یې، که مرغۍ دریاندې کېني ټیټېږې او که ورو باد دریاندې راشي، سر دې راټیټېږي.
ما ته وګوره، څنګه سیده او لوړه ولاړه یم. د لمر له رڼا سره مبارزې ته راپورته کېږم او باد ته ماتې ورکوم.
کوم شی چې ستا په نظر چټک باد دی، زما لپاره ورو او کمزوری باد دی او هیڅ زیان راته نه شي رسولی.
نی وویل: زه ستا په پرتله له باد کمه وېرېږم؛ څکه کله چې راوالوځي، سر مې ټیټوم؛ خو ته دې سر لوړ نیسې، باد دې ښاخونه ماتوي. نی لا خپلې خبرې نه وې ختمې کړې، چې د معمول په څېر تېز باد راوالوت، نی د خپل عادت له مخې سر ټیټ کړ او خلاصون یې وموند؛ خو د ځېرې ښاخونه په یو بل پسې پر ځمکې راولوېدل.
کله مې چې دا کیسه لوستله، تر ټولو لومړی مې د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا خبره ذهن ته راغله: «**من یُحرم الرفق، یُحرم الخیر**» [څوک چې له نرمۍ محروم وي، له خیر او ښېګنې محروم دی].
او په بل ځای کې محمد صلی الله علیه وسلم (موروپلار، پخپله او ټول خلک ترې قربان شه) فرمایي: «**ما کان الرفق في شئ الا زانه و ما نزع من شئ الا شانه**» [په هر کار کې چې نرمي وي، هغه ښکلی کوي او له هر کار څخه چې نرمي لرې شي، هغه بدرنګوي].
ژوند له داسې پېښو ډک دی چې د سختو توپانونو او بادونو په بنه را

آلوځي او انسان باید د نی په څېر د داسې توپان پر وړاندې سر ټیټ کړي، تر څو خلاصون ومومي. دا کار په غوره احساس، کورنی روزنې او د انسان د ذات او شخصیت په اصیلتوب دلالت کوي.

په کورنیو کې د ګډ ژوند اختلافات رامنځته کېږي، په داسې حالاتو کې سختي کول کورنی تباه کوي او بنسټونه یې نړوي، په زړونو کې بېلتون رامنځته کوي او پردیتوب او کرکه ایجادوي.

هوښیار انسانان د داسې پېښو پر وړاندې سترګې پټوي او بې‌فکره یې له څنګه تېرېږي؛ ځکه د ګډ ژوند عمر په نرمۍ او سترګو پټولو اوږدېږي او په داسې وختونو کې دریخ نیول د مقابل لوري د ماتولو او د کورنی د اوبدلو تارونو د سستولو په معنا دی.

اختلافونه او شخړې په هره ټولنه کې رامنځته کېږي، په دې برخه کې که هر څوک د بریالي کېدو په لټه کې وي او نور د ځان پر وړاندې مجبور کړي، په پایله کې عاطفې او مهربانۍ ته ماتې ورکوي او نور خلک به له خانه کرکجن کړي.

آخر دا څه ډول مبارزه ده چې انسان له خانه سره د مبارزې میدان ته رابښکته کېږي او په پایله کې خپله نېزه د خپل بدن په غوښه کې ښخه کړي؟

باید وویل شي چې په اعتقادي، دیني او مذهبي مسایلو کې د څېرې د ونې په څېر سیده او ټینګ ودرېږو، که څه هم یو ښاخ دې هم پاتې نه شي؛ خو د کورنی، ټولنې، ملګرو، خپلوانو او همکارانو په موضوعاتو کې باید د نی د ونې په څېر نرم، زغم لرونکي او غاړه ایښودونکي اوسو.

څوک چې په دې مسایلو کې له نرمۍ کار واخلي، ښاخونه یې ډېرېږي او الله تعالی چې په نرمۍ او زغم کې کوم برکتونه اچوي، په سختۍ کې یې نه اچوي.

## ﴿۲۸﴾

مدینې ته د اسلامي دولت د لښکر د ستنېدو پر مهال د سعد بن معاذ مور په منډه منډه ځان پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ورساوه. سعد د محمد صلی الله علیه وسلم د اس مهار نیولی و.

سعد وویل: ای د الله رسوله! دا زما مور ده.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په خیر راغلې مورې او اس یې ودراوه.

کله چې هغې ته ورنږدې شول، د هغې د زوی عمرو بن معاذ د ډاډګېرنه یې ورکړه. د سعد مور وویل: ای د الله رسوله! دا چې ته مې روغ ولیدې، د مصیبت پېټې مې له اوږو لرې شو.

او ته زما ملګریه، ولې دومره غمونه او اندېښنې کوې؟

هر مصیبت چې په هغه کې دې دین او ایمان سالم وي، هیڅ مصیبت یې مه ګڼه.

ستا دین ستا هډوکي، غوښه او پوستکی دی.

د دین غم کوه، چې اصل غم د دین غم دی.

که په عقیده کې شک راغی، که په عبادت کې درز رامنځته شو، که په الله تعالی دې باور له ستونزو سره مخ شو، په دې ټولو حالاتو کې ځان الله تعالی ته وسپاره او غم مه کوه...

له دې پرته ټول ژوند له پېښو او واقعاتو ډېر څه نه دي، چې رامنځته شي.

هو، دا د ژوند ورځې دي او د دې ټولو په مقابل کې زموږ د ژمنې ځای ښکلی الهي جنت دی. ان شاءالله!

Scanned with CamScanner

## ﴿۲۹﴾

امام ابن عساکر د دمشق په تاریخ امام ذهبي «تذکرة الحفاظ» کې رانقل کړي دي:
یوه حکیم راته کیسه وکړه. د جهاد په نیت ووتلم. په لاره کې له یوې خېمې سره مخ شوم. په خېمه کې مې یو سړی ولید، چې دواړه پښې، دواړه لاسونه او دواړه سترګې یې بایللې وې اودا دعا یې له ځانه سره تکراروله: **«اللهمّ انی أحمدُکَ حمداً کثیراً، یوافی نِعمَک علیّ»**. [ای ربه، زه ستا د نعمتونو د شمېر په اندازه ستا حمد او ثناء وایم».
ومې غوښتل چې د هغه د ایمان په پوخوالي او د صبر په رڼېنولی پوه شم. ترې ومې پوښتل: د کوم نعمت په بدل کې د الله تعالی حمد او ثنا وایې؟ نه ګورې چې په تا یې څه کړي دي؟
سړي وویل: الله تعالی راته ذکر کوونکې ژبه او د مصیبتونو په مقابل کې صبر کووونکی بدن راکړی دی، که له اسمانه راباندې اور هم ووربېږي او ټول بدن مې وسوځوي، بیا هم خپله مینه له پخوا څخه له هغه سره ډېروم.
زه یوه ستونزه لرم، چې ته یې راته ختمولی شې، ښايي مرسته راسره وکړې؟
ما وویل: په سترګو، راته ویې وایه!
ویې ویل: یو زوی لرم چې په اوداسه او لمانځه کې راسره مرسته کوي او د روژه ماتي پر مهال راته خواړه چمتو کوي، له سهار راهیسې ترې خبر نه یم، کېدای شي چې ویې لټوې او خبر یې راوړې؟

د زوی په لټه پسې يې ووتلم، يوې رېګ لړونکې سیمه ته ورسېدم، چې هلته نږدې واقع وه، ومې ليدل چې يوه څېرونکې حيوان څېرلې دی او د غوښې په خوړو يې لګيا دی.

له ځانه سره مې «انا لله» تکرار کړ او ومې ويل: پلار ته يې څه ډول ووايم چې پر زوی يې داسې مصيبت راغلی دی؟

الله تعالی مې په زړه کې الهام وکړ، چې د ربښتيا له ويلو مخکې هغه ډاډه کړم. هغه ته ورستون شوم او سلام مې پرې واچاوه. د سلام ځواب يې راکړ.

ورته ومې ويل: زه له تا څخه د يو شي په اړه پوښتنه کوم، آيا په اړه يې معلومات لرې؟

ويې ويل: که پوه شم، ولې نه!

ومې ويل: د الله تعالی په دربار کې ته لوړ مقام لرې که ايوب پيغمبر؟

ويې ويل: ايوب پيغمبر د الله تعالی په دربار کې تر ما لوړ مقام درلود.

ومې ويل: همدا خبره وه چې الله تعالی په امتحان کې واچاوه؛ خو صبر يې غوره کړ او حتا داسې ورځ ورباندې راغله چې ملګرو يې ترې کرکه لرله؟

ويې ويل: هو!

ومې ويل: ستا زوی څېرونکو ټوټه ټوټه کړی او غوښه يې خوړلې.

ويې ويل: د هغه الله تعالی شکر چې په دنيا کې يې زما زړه خپه کړ، بيا يې چيغه کړه او ساه يې ساه ورکوونکي ته وسپارله.

زه په دې لټه کې شوم تر څو بو څوک راپيدا کړم، چې په تکفين او تجهيز کې راسره مرسته وکړي. په دې حال کې ها خوا ديخوا په منډه وم، ناڅاپه مې سړي وليدل چې زما په څېر جهاد ته راوتلي وو. ورغږ مې کړل، کله

Scanned with CamScanner

چې بې راپام شو، نږدې راغلل. ما هم ورته کیسه وکړه. په ګډه مو مړي نه غسل ورکړ، تکفین او تجهیز مو کړ او خاورو ته مو وسپاره.

په همغه شپه مې خوب ولید چې دا کس په جنت کې دی او شنې جامې یې پر تن دي.

ترې ومې پوښتل: ته زما همغه ملګری نه یې؟

ویې ویل: هو، زه همغه یم.

ومې ویل: کوم شي دې مقام ته ورسولې؟

ویې ویل: دا د هغو کسانو مقام دی چې په کړاوونو او مصیبتونو کې یې له صبر او زغم څخه کار اخیستی دی او په ارامتیا او خوښۍ کې یې د الله تعالی شکر ادا کړی دی.

امام اوزاعي وایي: وروسته تر دې چې دا کیسه مې له دې حکیم څخه واورېده، مصیبت خپلې مې تل خوښېږي. د الله تعالی په دربار کې د هغه په تقدیر او پرېکړو له خوښۍ څخه بل هیڅ عمل محبوب نه دی.

مسلمان باید ځان له دې لوی عادت سره بلد کړي او باید پوه شي چې که یو بنده هر څومره امتحان هم شي، بیا هم یو بنده دی او که الله تعالی خلک هر څومره امتحان هم کړي، بیا هم رب او د مخلوقاتو مالک دی او بنده باید د خپل مالک خوښې موخه وګرځوي.

بوازې هغه خلک توانېدلي دي چې خدای ته ورسېږي، چې ایمان یې د روح او ضمیر ترکیب ګرځولی دی او د هغه ریښې یې د زړونو په ژورو کې غزولې دي.

یوه بانډه‌چي، چې د کرنې لپاره یې له یوې توتې ځمکې پرته بل څه نه لرل، په دې کال کې یې حاصلات توپان لمنځه یووړل، خپل لاس یې پورته کړ او ویې ویل: هر څه چې غواړې، زما رزق له تا سره دی.

Scanned with CamScanner

د باندېچې رمه تندر او تالندې لمنځه یووړه او یوازې یوه مېږه ترې پاتې شوه. وېې ویل: کوم مصیبت چې زما مېږې لمنځه وړې دي، د دې لامل شو چې د الله تعالی شکر او ثنا ووایم، نو زما ربه، ستا شکر ادا کوم!

دنیا همدا ده. د بلاګانو کور، د سختیو مانۍ او د کړاوونو زانګو...

په دې سرای کې هم ورکول دي او هم تلل دي.

هم شفاء ده او هم ناروغي؛

هم امنیت دی او هم وېره اوناارامي؛

هم وصال دی او هم بېلتون؛

خو نېکمرغه انسان هغه دی چې په هر حال کې له خدای سره وي او ترې بېلارې نه شي.

باید داسې وي چې کله یې نعمت او ارامتیا په برخه کېږي، شکر ادا کړي او که له مصیبت سره مخ کېږي، صبر او زغم اختیار کړي.

زما ګرانو!

د الله تعالی غوښتنو او وېش ته تسلیم شئ؛ ځکه ناهیلي یې هیڅکله نه شي بدلولی، بلکې د دنیا لا ډېر تریخوالی او د آخرت زیان رامنځته کوي.

په الله قسم، چې ما تر اوسه د سلګونه ناروغانو پوښتنه کړې ده. په ځینو کې مې دومره صبر او زغم لیدلی دی، چې انسان یې په لیدو له ځانه شرمېږي. تر څو چې ژوندی یم، هېر به مې نه شي...

خو له بلې خوا یو ځل د یوه بوډا سړي پوښتنې ته ورغلم، کله چې ورسره کېناستم، صبر او زغم ته مې را دعوت کړ او ورته ومې ویل: د الله تعالی چې کوم بنده ډېر خوښېږي، هغه په دردونو او کړاوونو امتحانوي.

هغو په ناوړه غږ راته وویل: ورووره، په داسې مینه دې خاورې واورې چې له ما سره یې کوي...

دا سړی څو ورځې وروسته مړ شو.

زه نه وایم چې الله تعالی به له هغه سره څه وکړي، زموږ ټولو برخلیک یوازې الله تعالی ته ورګرځي او پر دې سربېره = الله تعالی ته دعا کوم چې هغه وبښي او رحم ورباندې وکړي.

خو په الله تعالی قسم! دا یو ډېر لوی مصیبت دی چې بنده په داسې حال کې له خپل رب سره ووینې، چې له رحمت څخه یې ناهیلی شوی دی.

Scanned with CamScanner

## ﴿۳۰﴾

د دمشق تاریخ په لنډیز کې د ابن عساکر لیکنه راغلې ده:
کله چې عبیدالله بن زیاد وفات شو، مېرمنې هند یې په بېلتون کې وویل:
د قیامت ورځې ته لېواله کېنم، چې د هغه مخ ووینم.
ابن عساکر د خپل کتاب په لمنلیک کې داسې زیاتونه کړې ده: دا له معنا ډکه خبره ده چې د شوق او لېوالتیا برلاسیتوب ورته ویل شوی دی.
هلته هغه لاسونه کلک نیسو چې په دنیا کې یې خلکو نیولو ته نه یو پرېښي او په لاسونو کې یې زور کوو. له همغې مینې او محبت سره ژوند کوو، چې ځمکه یې گنجایش نه لري.
هغوی په غېږ کې نیسو چې له خدای پامانۍ پرته له یو بله جلا شوي یو.
هغه اور یخېږي، چې په سینو کې به یې لمبې کولې. هغه ناروغي ختمېږي چې بسترونه یې له ډېر شدته په ځان پسې ورکشول. هو، جنت د ټولو محرومیتونو بدیل دی او دا بدیل څومره ښکلی دی.

Scanned with CamScanner

## ﴿۳۱﴾

د «تغذية الارواح بالمحادثة والمزاج» کتاب کې سپېڅلې ليکنه راغلې ده:
يوه سړي غوښتل چې د اينځرو له پخېدو وړاندې يوه اندازه حجاج بن يوسف ته يوسي او له هغه جايزه ترلاسه کړي.
کله چې د دربار د دروازې خولې ته ورسېد، پوليس چې څو تنه غله ورسره وو، له هغه سره مخ شول. په دې وخت کې يو غل وتښتېد، پوليسو دغه بېوال د هغه پرځای ونيو.
کله چې يې تول حجاج ته وروستل، امر يې وکړ، چې له ټولو سر پرې کړي. ناڅاپه دې سړي چيغه کړه: زه د غلو له ډلې څخه نه يم.
پوښتنه يې ترې وکړه: نو دلته څه کوې؟
هغه حجاج ته کيسه وکړه.
حجاج وويل: «**لاحول و لا قوة الا بالله**»، نږدې وه چې دا بدمرغه ناحقه وژل شوی و.
له هغه يې وپوښتل: څه جايزه غواړې؟
ويې ويل: تبر!
حجاج ترې وپوښتل: په تبر څه کوې؟
ويې ويل: غواړم هغه ونه پرې کړم، چې زه يې تا ته در پېژندلی يم.
حجاج وخندل او امر يې وکړ، چې هغه ته جايزه ورکړي.
موږ ټول بايد تبر وغواړو، چې په وسيله يې هغه ونه پرې کړو، چې موږ يې له بدو انسانانو سره اشنا کړي يو.
موږ ټولو په ژوند کې له هغو خلکو ژور ټپونه ترلاسه کړي دي، چې خپل

امانت دار مو ګڼلي وو؛ خو هغوی خیانت وکړ او په خپل کار پسې لاړل. دا ډول زخمونه تل تازه وي او موږ یې تل د درد او ناهیلی په ګوتو لمس کوو. موږ هر یو په خپل ورځني ژوند کې داسې زخمي کوونکې خبرې کوو، چې تر چړې او تورې تېرې دي.

داسې تېرې دي، چې غوښه پرې کوي، د انسان د هډوکو په مغزو اغېز کوي، ښایي د تل لپاره د زړه په ژورو کې پاتې شي او هېر نه شي.

شپې او ورځې یو په بل پسې تېرېږي؛ خو دا خبرې همېش داسې پاتې کېږي، چې هره شېبه مو خوروي.

موږ ټول د باور او رښتینولي جنت ته داخل شوي یو او کله مو چې د امنیت احساس کړی دی، د وېرې او دفاع جامې مو لرې کړې دي، څنګه مو چې خائنونه ښکاره کړل، قوي ضربه راغله او موږ یې ووهلو او بدمرغي مو لمن ونیوله. حتا زموږ د شخصیت عورتونه ښکاره شول او تر ننه نه یو توانېدلي چې پټ یې کړو که حتا د ټولې نړۍ د ونو پاڼې ورباندې ونیسو.

خیر، پروا نه لري، خاینان موږ نور هم پیاوړي کوي، که له هغو پرته نور کسان هم په دې موخه راشي، باید په لومړۍ ضربه کې ونه لړزېږو او د هغوی د خیانت له امله خائنونه ونه بایلو.

د ژوند زخمونه د پانسمانونو په څېر دي، چې ناروغي ډېره سپکه او کوچنۍ ده؛ خو ډاکټر یې له دې امله پر زخم ږدي، چې له موږ پرته د لویو ناروغیو پر وړاندې پیاوړي شي او کله چې له سختې ناروغۍ سره مخ شو، موږ له هغې سره مبارزې ته چمتو اوسو.

ای خیانت کوونکو! هر چېرته چې یاست، خدای دې خیر نه درکوي؛ خو موږ تر پخوا ډېر پیاوړي یو او نور به هیڅکله ستاسو ضربه ونه خورو.

Scanned with CamScanner

# ﴿۳۲﴾

عربانو به پخوا ویل: وروستی درملنه داغ کېښودل دي.

ژوند هم همداسې دی. له هغه څه د ساتنې لپاره چې په بدن کې پاتې دي، په کار ده چې د بدن پر ځینو برخو داغ کېښودل شي.

له بده مرغه چې ځینې وختونه همدا یوازینی لاره ده چې انسان ته پاتې کېږي. پروا نه لري چې په هغه سرک کې د قدم ایښودو لپاره یو څه درد ووینې، چې د ژوند ټول لوری دې سموي.

لنډمهاله تکلیف او درد تېرول په نامطلوب او بې‌ثابته لوري کې د ټول عمر له ضایع کېدو څخه کم دی.

څوک چې پر متحرکو رېګونو ولاړ وي، هغه یوازې ولاړ دی؛ خو ارام نه دی. په لوري کې ډاډه او زړور اوسه! د بدن هغه غړی دې پرې کړه، چې التهابي شوی دی.

❀

## ﴿۳۳﴾

اروپايان په خپلو عامو داستانو کې رانقلوي: يو ورى سهار وختي د وياله غاړې ته لاړ، چې اوبه وڅښي. له هغه پورته يوه وري او د خوراک په لټه کې لېوه اوبه څښلې او وري له هغه ښکته خوا اوبه څښلې.
کله چې يې ورى وليد، ورته ويې ويل: ډېر بې ادبه يې، اوبه دې خړې کړې، ما د اوبو څښلو ته نه پرېږدې.
وري وويل: اوبه خو له پورته خوا راځي او ته له ما پورته اوبه څښې. څنګه کولی شم چې اوبه درته ککړې کړم؟
لېوه وويل: ته همغه ورى نه يې چې په پلانۍ مياشت کې دې زما په اړه بدې خبرې کړې وې؟
وري وويل: زه په هغو ورځو کې بېخي زېږېدلی نه وم، نه مې وينې چې کم عمر لرم.
لېوه وويل: که ته نه يې، نو حتمن به دې ورور و.
وري وويل: زه هېڅ ورور نه لرم.
لېوه وويل: نو حتمن به دې د کورنۍ يو غړی و. تاسو ټل په ما پورې بدې خبرې کوئ. څنګه چې وري د لېوه د بل تور د ځواب ورکولو لپاره خوله خلاصه کړه، لېوه ورباندې حمله وکړه او ټوټه ټوټه يې کړ.
هر څوک چې وغواړي د جګړې او دښمنۍ اور بل کړي، هيڅکله د پلمو او چلونو له کولو عاجز نه دی.
که د يوې پلمې له کولو عاجز شي، له بلې يې ګټه اخلي. تاريخ موږ ته دا حقيقت بيان کړی دی، چې ژوند د هغو کسانو په حق کې د پلمو او

چلونو په کولو کمې نه دي کړي، چې د هغوی په تمه وو.
د تېرې پېړۍ په ٦٠مه لسیزه کې د سالوادور او هندوراس ترمنځ سیاسي اړیکې د بحران اوج ته رسېدلې وې، د جګړې او نښتې اور هره شېبه په تمه و، چې ژر تر ژره بل شي او لمبې وکړي.
دا جګړه د فوټبال د هغې سیالۍ پایله وه، چې د دوو هېوادونو ترمنځ د واکمنو سیاسي شرایطو د ترلاسه کولو لپاره، بالاخره د ۱۹۷۰ زېږدیز کال د نړیوال جام مقدماتي سیالۍ د سالوادور په ګټه پای ته ورسېدې او دواړو هېوادونو خپل پوځونه په سرحد کې منسجم کړل او سخته جګړه پیل شوه.
د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې د یوه فرانسوي دوکان غلو لوټ او تخریب کړ. د دوکان مالک له دولت څخه د تاوان غوښتنه وکړه؛ خو د مکسیکو دولت یې غوښتنې ته رسېدنه ونه کړه. د دې پېښې لس کاله وروسته او د فرانسې پاچا فیلیپ د دې فرانسوي شخص په وړاندې د مکسیکو دولت له ناانصافه چلند څخه ناخوښه و. د مکسیکو له دولت څخه یې وغوښتل چې د فرانسوي د دوکان تاوان ورکړي. کله چې یې غوښتنه رد شوه، د مکسیکو پر وړاندې یې لویه جګړه پیل کړه، چې پوره ۵ میاشتې یې دوام وکړ.
همدا سیاسي حالات د خلکو په عام ژوند کې هم موجود دي. که څوک وغواړي له تا سره دښمني وکړي، د سپارښتنې لپاره یې زرګونه لارې پیدا کوي او که پیدا یې نه کړی شي، حتمن یې نوې اختراع کوي.
که څوک وغواړي په خوا کې دې پاتې شي، په هغو زرګونو دلایلو سترګې پټوي، چې ستاسو د بېلتون لامل کېږي او په زړه کې وسوسو ته ځای نه ورکوي.

## ﴿۳۴﴾

جهاد ټول توره، سپر او ټوپک نه دی، بلکې په ژوند کې د کرامت د جهاد په نوم هم جهاد شته، یعنې د ژوند په ډگر کې د دې لپاره مبارزه وکړې، چې عزت او غرور دې تر پښو لاندې نه شي.

جهاد او مبارزه ده چې:

د چا دویم انتخاب نه اوسو!

د چا په اضافي نیمايي فرش کېنه‌نو!

شتون او نشتون مو یو ډول نه وي!

ځان په زوره او ټينگار د هغه چا په ژوند کې داخل نه کړو، چې ځای راته نه ځانگړی کوي.

په خپل ټينگار ځان د نورو په ژوند کې ونه غواړو. هغه ځای پرېږده چې ارزښت نه درکوي. څوک چې غواړي په څنگ کې يې اضافي واوسې، هیڅکله دې له زړه څخه نه غواړي. نشتون تر ډېر کمرنگه شتون غوره دی.

ﻌﻌ✿ﻌﻌ

## ﴿۳۵﴾

ایوان کریلوف د «روسي افسانې» په نوم ارزښتناک کتاب کې لیکلي دي:
یوه سړي غوښتل چې خپل سیورى ونیسي، نو یو دوه قدمه یې د هغه لورې ته واخیستل او سیورى یې معمولاً د هغه د قدمونو په اندازه ترې لرې شو. بالاخره سړي به چې هر څومره ډېر قدمونه اخیستل، په همغې اندازه به سیورى هم لرې کېده. په پایله کې یې هوډ وکړ چې له سیوري یې چټکه منډه کړي، چې راویې نیسي.
خو هر څومره به یې چې تېزه منډه وهله، سیورى به هم په همغې اندازه ترې تښتېده. تر دې چې ښه ستړى شو او نوره یې منډه نه شوه وهلى.
دا ځل یې هوډ وکړ چې په سیوري پسې منډې ونه وهي، بلکې راستون شو او ویې لیدل، چې اوس سیورى په ده پسې دى، سړي فکر وکړ، چې سیورى یې له هغه غچ اخیستل غواړي. مخکې سیورى هغه ته نه درېده، اوس دى سیوري ته نه درېده. سړي په منډو شروع وکړه، تر دې چې له ډېرې منډې بېهوښه شو.
زما ګرانو!
زه زیاتره وخت فکر کوم، چې پیسې او شتمني له موږ سره همدا چلند کوي. څوک غواړي چې په ټول توان شتمني او مال ترلاسه کړي؛ خو له بده مرغه چې یوازې خپل وخت ضایع کوي او خپله ورتیا او انرژي ضایع کوي.
خو هاخوا یو بل کس د ټولو تجربو پر اساس غواړي چې د پیسو او

شتمنې له نظره وتښتي؛ خو نه شي تښتېدلی؛ ځکه چې پیسې او شتمني د داسې انسان له تعقیبولو خوند اخلي.

په ژوند کې ډېر داسې شیان شته، چې یوازې هغه په موږ پسې راځي، چې موږ یې پرېږدو.

د هغو خلکو لپاره خپله مینه او محبت په زړه کې ساتو، ځانګړې پام ورته کوو، له مینې ډک لیکونه ورلېږو، ښکلې ډالۍ ورکوو؛ خو د هغه لخوا هیڅ غبرګون نه ترلاسه کوو؛ خو کله چې لاړ شو او نور دا کار ترسره نه کړو، همغه کسان به په موږ پسې راځي چې اوږده موده یې د سترګو په وړاندې وو او موږ ته یې ارزښت نه راکاوه.

زیاتره عوامل او دلایل چې په ګډ ژوند کې د طلاق لامل کېږي او زما پام یې ځان ته ور واړاوه، دا وو چې د یو بل په هغو عادتونو او ځانګړنو پوه شوي دي، چې د ګډ ژوند پر مهال او تر دې وړاندې یې درک کړې نه وو. موږ انسانان دا بد عادت لرو، چې د خپلو شته شیانو په ارزښت هغه وخت پوهېږو چې له لاسه یې ورکړو.

ډېر شیان زموږ په ژوند د ډېرو حقیقتونو د درک لامل کېږي. ډېر شیان شته چې انسان ورڅخه تښته کوي؛ خو اتفاقاً له همغې برخې شهرت او محبوبیت ته رسېږي.

هو، رښتیني شهرت ته!

له رښتیني شهرت څخه زما مطلب دا دی چې انسان د ځمکې په پرتله په اسمان کې ډېر مشهور شي.

د امام احمد بن حنبل خوښېدل چې په داسې حال کې وفات شي، چې حتا یو مسلمان یې هم ونه پېژني؛ خو په داسې حال وفات شو، چې ټولو مسلمانانو په ډېر ګرانښت او ښه توګه پېژانده.

کله چې امام نووي دمشقي د «رياض الصالحين» ارزښتناک کتاب وليکه، د شهرت او نوم په لټه کې نه و، همدا چاره د دې لامل شوه چې کتاب يې تر ننه پاتې دی.

کله چې امام مالک وغوښتل د «الموطا» کتاب وليکي، هغه ته يې وويل: څه اړتيا ده چې ته دا کتاب ليکې، حال دا چې په احاديثو کې ډېر کتابونه ليکل شوي دي؟

په ځواب کې يې ورته وويل: هر څه چې د الله تعالی د رضا لپاره وي، همېش پاتې کېږي.

رښتيا هم «موطا» د تل لپاره پاتې شو؛ ځکه چې له پيله يې د الله تعالی د رضا لپاره ليکلی و.

Scanned with CamScanner

﴿۳۶﴾

امام ابن جوزي رحمه الله وايي: يو سړی مې وليد چې يخ يې خرڅاوه. په لوړ غږ به يې ويل: په هغه چا رحم وکړئ چې پانګه يې لمنځه ځي.
د ځينو خلکو غم او مصيبت د هغوی د رزق په کمښت کې دی؛ ځکه چې دا دنيا د امتحان کور دی او د رزق دا کموالی د هغوی د ازمېښت وسيله ګرځېدلې ده.
هغوی د دې پرځای چې خپل لاسونه مرستې ته اوږده کړي او سوالګري پيدا کړي، ساده شيان يې د پېر او پلور لپاره انتخاب کړي دي او تاسو ورڅخه يو شی د صدقې په نيت واخلئ.
هر څه چې اخلئ، په ارزانه او ناڅيزه بيه يې مه اخلئ، د هغوی په حق کې ناانصافي مه کوئ. حتمن ترې يو شی وپېرئ، حتا که اړتيا هم نه ورته لرئ. بيا کولی شئ دا شئ بل چا ته صدقه کړئ.
په دې کار سره د دوو کسانو په حق کې نېکي کوئ او پوه شئ چې د نورو د زړونو خوشالول لوی عبادت دی.

## ﴿۳۷﴾

امام ابن جوزي رحمه الله په خپل ارزښتناک کتاب «عیون الحکایات» کې لیکلي دي:

د بني اسرائیلو یوه عابد ۶۰ کاله په عبادتځای کې د الله تعالی عبادت وکړ، یوه شپه یې خوب ولید چې یو سړی ورته راغی او هغه ته یې وویل: پلانی موچي تر تا غوره دی.

کله چې له خوبه راپورته شو، ویې ویل: والله چې خوب دی او بیا هم په خپل عبادتځای کې په عبادت بوخت شو او لاندې رانغی، چې موچي وویني. څو وارې یې دا خوب ولید، چې یوه سړي ورته ویل: ورشه له موچي څخه د هغه د خبرې د ژړوالي پوښتنه وکړه.

له خپلې عبادتخونې راښکته شو او موچي ته ورغی.

موچي چې ولید، ورته ویې ویل: څه شی د دې سبب شوي چې له عبادتخونې دې لاندې راغلې؟

ورته ویې ویل: ته سبب شوی یې، راته ووایه، ولې دې رنګ ژېړ شوی دی؟

ویې ویل: زه چې هر وخت څوک وینم، ګمان کوم چې جنتي دی او زه دوزخي یم.

ابن جوزي د دې کیسې په لمنلیک کې لیکلي دي، له عابد شخص څخه د موچي د برترۍ یوازینۍ دلیل دا و، چې ځان یې تر نورو ټیټ ګاڼه.

ما دا کیسه په خپل کتاب کې ولیکله؛ ځکه پوهېږم چې زموږ د ټولو زړونه

په سختو خبرو او ناوړه چلند سره د هغو کسانو لخوا مات شوي دي، چې د ارزښتونو پابندي يې ناسمه درک کړې ده او له الله تعالی سره يې د بندګانو مينه راکمه کړې ده.

دوی د دې پرخای چې له خلکو سره د شيطان پر ضد مرسته وکړي، له شيطان سره د خلکو پر ضد مرسته کوي.

ډېر داسې ځوانان شته چې يوازې لمونځ به يې نه کاوه، په يوه ترخه او ناهيلې کوونکې خبره له دين څخه کرکجن شوي دي. ډېرې بې‌حجابه نجونې شته، چې په يوه نامناسبه او ترخه کلمه له حجاب څخه لرې شوي دي.

ډېر داسې خلک شته چې له يوه بدشخصيته انسان سره مخ شوي، چې ځان يې د دين او شريعت استازی باله، له علماوو او دعوتګرو يې د بېزارۍ اعلان کړی دی.

تر هغه چا بل بد شخص نشته چې ځان ته د مشر او ځان فکر کوي؛ خو اجازه راکړئ د هغه څه ترمنځ چې اسلام يې له موږ څخه ترسره کول غواړي او هغه څه چې ځينې خلک يې په ناسمه طريقه ترسره کوي، توپير وکړو.

هيڅکله ګلي قضاوت مه کوئ. که څه هم ځينې دعوتګران بد چلند او اخلاق لري؛ خو سلګونه نور دعوتګران ډېر مهربانه او ښه چلند لري.

که څه هم ځينې انسانان داسې عمل کوي چې په بشپړه توګه د نرمۍ او مهربانۍ له کولتور سره په ټکر کې دي؛ خو داسې کسان شته چې زړونه يې له مهربانۍ او نرمۍ ډک دي.

چا ته اجازه مه ورکوه چې ستا او ستا د رب ترمنځ واقع شي. هيڅکله د بداخلاقه انسان له امله له خدای او شريعت څخه مه لرې کېږه. که ډاکټر

تېروتنه وکړي، موږ له درملنې څخه لاس نه اخلو.
که يوه شو چې د خوړو پلانې خونه ډېر پاکوالي ته اړتيا لري، د تل لپاره له نورو خوړنځايونو څخه لاس په سر کېږو نه.
که يو برقي له موږ سره چل کوي، پرېږدو يې او په بل برقي پسې ګرځو، نه دا چې د تل لپاره له برېښنا او برقي څخه لاس په سر کېږو. هيڅکله په ژوند کې د يوه انسان د تېروتنې له امله ټول انسانان په تېروتنې نه تفسيروو، نو ولې بايد په دين او شريعت کې د يوه انسان د تېروتنې او خطا له امله ټول ورټو؟
که غواړې چې يوه موضوع له کوم کيفيت او پوخوالي څخه برخمنه ده، هغه له خپلې منبع څخه واخله.
اصحابو کرامو تر نورو ډېره تواضع او زغم درلود، اخلاق يې تر ټولو خلکو غوره او ستايل شوي وو، حال دا چې هغوی ته له وړاندې د جنت زيری ورکړل شوی و.
ابوبکر رضي الله عنه د کلي د فقيرانو د مېږو شيدې راالوشلې، کله چې خليفه شو، د کلي يوې وينزې وويل: له دې وروسته به ابوبکر موږ ته شيدې راونه لوشي. ابوبکر وويل: ولې، حتمن به ستاسو لپاره شيدې رالوشم، له خدايه غواړم چې خلافت مې مغروره نه کړي.
عروة بن زبير وايي: عمر بن خطاب مې وليد، په داسې حال کې چې د مؤمنانو امير شوی هم و، د اوبو ژی يې پر اوږو لېږداوه.
ومې ويل: ای د مؤمنانو اميره! دا کار له تا سره مناسب نه دی.
ويې ويل: کله چې د خلافت دربار ته ډېرې ډلې راغلې او منونکې وې، لوی کبر مې زړه ته راننوت، پر دې اساس مې دا کار وکړ، چې غرور مې مات شي.

حسن بن علي بن ابي طالب وويل: عثمان بن عفان مې په هغو ورځو کې ولید چې خلافت ته هم رسېدلی و، غرمه به په جومات کې ویده کېده، کله به چې له خوبه راپاڅېده، د پوزي نقش به یې پر مخ جوړ و.

علي بن ابي طالب یوه اندازه غوښه د یو درهم په بدل کې واخیسته، پر اوږه یې کېښوده او حرکت یې وکړ.

ورته ویې ویل: ای امیرالمؤمنینه! اجازه راکړئ چې موږ یې یوسو.

ځواب یې ورکړ: پرېږدئ چې پخپله مالک یې یوسي.

عبدالله بن سلام یوه اندازه لرګي پر اوږو ایښي وو او په بازار تېرېده. ورته وویل شول: الله تعالی ته له دې کار څخه معاف کړی نه یې؟

ویې ویل: خو ومې غوښتل چې په دې کار سره مې غرور له ځانه لرې کړم.

د عمر بن عبدالعزیز څراغ هغه وخت ګل شو، چې د مسلمانانو خلیفه هم و، پخپله پورته شو او یې لګاوه.

ورته وویل شول: ای امیرالمؤمنینه! موږ به دا کار کړی و، تا ولې زحمت وګاله؟

ویې ویل: پر ما هیڅ هم ونه شول. کله چې پورته شوم، عمر بن عبدالعزیز وم، اوس مې چې څراغ ولګاوه او بېرته په خپل ځای کېناستم، بیا هم همغه عمر بن عبدالعزیز یم.

یحی بن معین وویل: د احمد بن حنبل په څېر مې هیڅوک هم نه دي لیدلي، ۵۰ کاله مې له هغه سره یوځای ژوند وکړ، په دومره وخت کې بې د هیڅ شي له امله راباندې ځان لوړ نه دی ګڼلی.

ایمان تل خپلو خاوندانو ته تواضع، رحمت او شرافت ورکوي. که مسلمان پر ایمان سربېره دا اخلاق نه لرل، دا په دې معنا ده چې په ایمان

Scanned with CamScanner

کې یې ستونزه ده.

هر څومره چې د شریعت احکامو ته پابند اوسې، پوه شه چې یوازې د الله تعالی په رحمت او مهربانی دې دا توفیق ترلاسه کړی دی او ستا او د بدکارانو ترمنځ توپیر یوازې په دې کې دی، چې الله تعالی د توفیق او هدایت پرده پر تا اچولې ده. ګناهګار انسان ته په دې معنا وګوره چې هغه د الله تعالی رحمت ته اړتیا لري، رټنې او پېغورونو ته یې نه لري.

بې حجابه ښځې او نجلی ته په دې نظر وګوره، چې هغه د نفس او شیطان د وسوسو او د دښمن د تبلیغاتو پر وړاندې ناتوانه شوې ده، نه دا چې په بشپړه توګه له دین څخه اووښتې ده.

هغه کس ته چې جومات ته نه ځي، په دې نظر وګوره، چې دنیا په خپلو پنجو کې ټینګ نیولی دی، نه په دې نظر چې هغه له اسلام څخه لرې شوی دی.

له دې ډډه وکړه چې ځان د هغو عباداتو له امله لوړ وګڼې، چې الله تعالی درته اسانه کړې دي او توفیق یې درکړی دی؛ څکه انسان چې تر څو پورې ژوندی وي، له فتنو څخه خوندي نه دی. امکان لري په زړه کې دې کبر ځای ونیسي او په ډېرو بدمرغیو دې اخته کړي.

موږ ډېر داسې کسان لیدلي دي چې د دین او شریعت په لاره کې له ډېر وخت ټینګښت وروسته بېرته ګرځېدلي دي او ګناه یې کړې وي.

همداراز داسې بدکاران مو هم لیدلي دي چې ډېر وخت یې په بدیو کې تېر کړی؛ خو له هغوی ډېر الله تعالی ته نږدې شوي دي، چې دې بدکارانو څخه په نېکو کارونو کې ډېر مخکښ وو.

## ﴿۳۸﴾

فاطمې رضي الله عنها تر پیغمبر صلی الله علیه وسلم وروسته یوازې ٦ میاشتې ژوند وکړ.

امام ذهبي په دې اړه لیکلي دي: که څه هم فاطمې رضي الله عنها تر خپل پلار وروسته یوازې ٦ میاشتې ژوند وکړ؛ خو هره ورځ به اوبه کېده. پام وکړئ، اوبه کېده به!

عربانو ویلي دي: د خپلوانو لرېوالی ډېر سخت دی. چا چې یو شی له لاسه ورکړی وي، فکر کوي د بدن یو غړی یې پرې شوی دی؛ خو دا پرې کېدل د هغه پر روح او روان ډېر سخت اغېز لري. د ځینو ځای هیڅکله بل څوک نه شي ډکولی.

یعقوب علیه السلام ۱۱ نور زامن هم لرل؛ خو هیڅکله یې د یوسف علیه السلام ځای ونه نیو. پیغمبر صلی الله علیه وسلم ۱۱ مېرمنې نورې هم لرلې؛ خو تر آخره به یې دا خبره په ځلونو تکراروله، الله تعالی راته له خدیجې پرته بل هیڅ غوره بدیل نه دی راکړی.

ربه! د ورکو شویو د درد زغم له تا غواړو!

Scanned with CamScanner

## ﴿۳۹﴾

امریکایي لیکوال رالف سیو په خپل کتاب «د پاچایانو کیسې» کې د غېږنیونې د یوه استاد په اړه رانقلوي، چې د خپل سیال د نیولو لپاره یې ۳۶۰ چلونه زده وو، دې استاد په خپلو شاګردانو کې یو شاګرد ډېر خوښاوه، نو د غېږنیونې ۳۵۰ چلونه یې هغه ته وروښودل؛ خو وروستی هغه یې ور ونه ښود، هغه یې ځان ته وساته او بل هیچا ته یې هم ور ونه ښود.

ورځې تېرې شوې او دا شاګرد یې د غېږ نیونې له مشهورو اتلانو څخه شو، تر دې چې هیچا له هغه سره د مقابلې جرأت نه کاوه. تل د خپلو مټو په زور نازېده او حتا د هېواد پاچا ته یې خبر ورولېږه چې حاضر دی حتا له خپل استاد سره هم سیالي وکړي.

پاچا یې د استاد پر ضد له دې بې‌ادبۍ څخه خپه شو او سملاسي یې امر وکړ چې د دې استاد او شاګرد ترمنځ سیالي وشي.

بالاخره په ټاکلې ورځ دواړه سیالان د یو بل په مقابل کې ودرېدل او حاضرینو په تالار کې سیالي ننداره کوله. کله چې د لوبې د لومړي پړاو زنګ ووهل شو، شاګرد پر استاد د بریا په لېوالتیا پر هغه حمله وکړه او استاد په ډېره خطرناکه بڼه چې خلک یې حیران کړي وو، هغه ونیو، پورته یې کړ، پر ځمکه کلک راوویشت او ماتې یې ورکړه.

کله چې د هېواد پاچا له استاد څخه وپوښتل، چې څه ډول وتوانېد خپل ځوان او پیاوړی شاګرد یې راچپه کړ؟

ورته ویې ویل: ما دا چل د همدې ورځې لپاره له ځانه سره ساتلی و.
حتا که چا درته څه دربنودلي وي او هيڅ شی يې هم له ځانه سره نه وي ساتلي، دا ادب نه دی چې انسان پر هغه چا ځان لوړ وګڼي، چې له هغه يوه ورځ ډېر غوره‌والی لري، حتا که تر هغه غوره او پياوړی هم وي.
هيڅکله د هغه چا په خبره ملنډې مه وهه، چې يوه کلمه يې هم دربنودلې وي. حتا که تا ډېرو زده کړو ته هم لاسرسی موندلی وي او هغه يوه کلمه هم سمه نه شي تلفظ کولای؛ ځکه دا کار پر دې سربېره چې د کرکې لامل کېږي، لويه بې ادبي او د ناپوهۍ نښه ده او پوه شه چې په يو څه پوهېدل او د زده کړو ډېروالی يو بل شی دی.
هيڅکله په هغې ښځې مه شرمېږه چې ته يې په خپله خېټه کې حمل کړې، ډېرې سترياوې يې درسره وګاللې، په ماشومتوب کې يې شيدې درکړې او ويې روزلې، چې پياوړی ځوان شوې، حتا که ډېره ساده هم وي او ته د سليمان پاچايي او د قارون دنيا هم ولرې.
څوک چې خپل اصيلتوب هېر کړي، په واقعيت کې هيڅ اصيلتوب نه لري. هيڅوک د دنياوالو له خدای څخه ډېر عزتمن نه دی او هغه ژمن او وفادار خلک خوښوي. د وفادارۍ يوه غوښتنه دا ده، چې انسان د هغه چا درناوی وکړي، چې حتا د بريا په لاره کې يې ورسره د يوه ګام په اندازه هم مرسته کړې وي او بايد د ټولو خلکو پر وړاندې ادب او درناوی مراعات کړو.

## ﴿۴۰﴾

هیڅکله په تېر پسې افسوس مه کوه. تېر د دې لپاره دی چې درس ترې واخلو، نه دا چې ژوند پکې وکړو. له ژونده تللي کس ته دې اجازه مه ورکوه، چې تا هم له ځانه سره بوځي او هغه چا ته هیڅکله د بیا خیانت کولو اجازه مه ورکوه، چې ستا په حق کې یې خیانت کړی دی.
په ژوند کې دې چې هر څومره خپېړې خوړلي، ترې مننددوی اوسه؛ ځکه ته یې پیاوړی کړی یې.
د هر فریب مننددوی اوسه؛ ځکه تا ته یې ځیرکتیا او پاملرنه در زده کړې ده. د هر ځل لوېدو مننددوی اوسه؛ ځکه در زده کړي یې دي، چې څه ډول بېرته راپورته شې.
د ژوند د کتاب د تېرې پاڼې اړول په دې معنا نه ده چې نور دې هېر کړی دی، بلکې په دې معنا ده، چې نور به دې کنټرول نه کړي، نو پاڼه واړوه.

## (۴۱)

ادریس شاه په خپل ارزښتناک کتاب «قافلة الاحلام» کې لیکلي دي:
د تاتاریانو پاچا یوه ورځ له خپلو ملاتړو سره له ښاره دباندې ووت او په لاره کې د یوه حکیم له څنګه تېر شول، چې له خلکو لرې یې یوازېتوب غوره کړی و.
حکیم چې کله هغوی ولیدل، ورته ویې ویل: له تاسو څخه څوک سل دیناره راکوي، چې نصیحت ورته وکړم؟
پاچا وویل: ای حکیمه! دا څه نصیحت دی چې سل دیناره ارزښت لري؟
حکیم وویل: لومړی سل دیناره راکړه، بیا پوښتنه وکړه.
پاچا پیسې ورکړې او تمه یې لرله چې ډېر ارزښتناک نصیحت واوري.
حکیم وویل: هیڅکله داسې کار مه پیلوه، چې په ختمولو یې نه پوهېږې. د پاچا شاوخوا ټولو کسانو وخندل او فکر یې وکړ، چې له پاچا سره یې چل کړی دی.
پاچا ورته وویل: مه خاندئ. دا نصیحت ډېر ارزښتناک دی. دا د سرو زرو په اوبو یې د خپلې ماڼۍ پر دېوالونو لیکم.
ډېر وخت نه و وتلی چې د پاچا یوه سلاکار د هغه د وژلو هوډ وکړ او یوه کارمند ته یې رشوت ورکړ، چې د پاچا د سر د خرییلو مسؤل

و او هغه ته یې یو خنجر هم ورکړ، چې د پاچا د سر د خرېیلو پر مهال یې په سینه ورننباسي.

په ټاکلې ورځ پاچا دې کارمند ته کښناست او هوډ یې وکړ چې خنجر ورپسې راوباسي، ناڅاپه یې د ماڼي پر دېوال لیکلو ته پام شو، له ځانه سره یې وویل: که په کار کې مې ناکام شم، پاچا ما او زما ټوله کورنۍ را وژني او که راووځم، حتمن مې راتلونکی پاچا وژني، چې راز یې پټ پاتې شي.

پاچا چې د هغه حیرانتیا او اندېښنه ولیده، دلیل یې ورځخه وپوښت.

هغه هم ورته ټوله کیسه وکړه.

پاچا د خپل سلاکار د نیولو امر وکړ او یو شمېر کسان یې په هغو نفرو پسې ولېږل چې د نصیحت د پېرلو په ورځ ورسره وو او هغوی ته یې وویل: آیا اوس هم فکر کوئ چې زه تېرېستل شوی یم؟

ما په هغې ورځ یوازې د حکیم نصیحت ونه پېره، بلکې خپل ژوند او پاچایي مې هم وپېرله.

د یوه کار تر پیلولو مخکې د هغه د پای ته رسولو په طریقه فکر وکړه. تر هغې چې څوک دې د زړه له کومې نه وي غوښتلي، مه وایه چې مینه ورسره لرې؛ ځکه دا کار لوی جرم دی.

تر دې بد کار نشته چې د یو چا په زړه کې شمع روښانه کړې او بېرته یې گل کړې. هیڅکله چا ته مه وایه: هو، حال دا چې غوښتل دې نه ورته ووایې.

تر پایه به د خپل دې کار تاوان ورکړې؛ ځکه هغه کارونه دې کړي

دي، چې باید نه دي واې کړي.

د کوم تمځای اخر ته چې رسېدل نه غواړې، له اوله يې پر لاره قدم مه ږده. له هغو کسانو سره ناسته پاسته مه کوه، چې نه غواړې د هغوی په څېر شې. په کومه خانګه کې چې تخصص کول نه غواړې، له اوله يې مه انتخابوه.

موږ يوازې يو ځل ژوند کوو، پر دې اساس هر څه چې غواړو، بايد له پيله وربانديې پوه شو.

Scanned with CamScanner

## «۴۲»

د «الاداب الشرعية» په کتاب کې له ابن مفلح څخه نقل شوي دي:
یو ځل امام احمد بن حنبل وویل:
یوه نابینا فقیر راته داسې خبره وکړه، چې په مصیبت کې مې د زړه لپاره تر هغې پیاوړې او د سترګو لپاره تر هغې ارامونکې کلمه تر اوسه نه ده اورېدلې:
ای احمده! که د حق په لار کې مړ شې، په واقعیت کې شهید کېږې او که ژوندی پاتې شې، له وياړه ډک ژوند به ولرې.
که انسان د صبر او ایمان غر هم اوسي، بیا هم یو چا ته اړتیا لري چې پر زړه یې مهرباني وکړي.
خوږه خبره انسان ته صبر، زغم او مهرباني وربښي، نو بُخل مه کوئ!

﴿۴۳﴾

امام ابن جوزي په خپل ارزښتمن کتاب «عيون الحکايات» کې يوه کيسه راوړې ده: يوه سړي په دښته کې ژوند کاوه او يو سپی، خر او چرگ يې درلود.

چرگ به لمانځه ته راويښاوه. پر خره به يې اوبه راوړلې او بار او سامان به يې ورته ووړ او سپي به يې ټوله کورنۍ او وسايل ساتل.

يوه گيدړه راغله او چرگه يې وخوړه، په دې پيښه ټول خپه شول.

سړی چې نېک انسان و، ويې ويل: ښايي دا پيښه زموږ په خير وي. بيا هم ماشاءالله، د معمول په څېر يې ژوند ته دوام ورکړ.

بل ځل لېوه راغی، خر يې وداړه او ويې خوړ. په دې پيښه هم ډېر خپه او غمجن شول.

نېک انسان بيا وويل: ښايي دا پيښه هم زموږ خير وي. په همدې توگه څو ورځې تېرې شوې او سپی يې هم مردار شو.

نېک سړي دا ځل بيا وويل: ښايي دا پيښه هم زموږ په خير وي.

بالاخره يوه ورځ راورسېده، چې د سيمې غلو هغه کسان پيدا کړل چې په کور کې يې شور او غږونه وو، ټول يې ووژل او مال يې ترې غلا کړ؛ خو دوی د چرگ، خره او سپي په مرگ د غلو له حملې خخه وژغورل شول.

په پايله کې هغه څه وشول، چې نېک سړي ويلي وو: «ښايي زموږ په خير به وي».

زموږ انسانانو عيب دا دی چې زموږ ليد لنډ او نظر موږ ډېر محدود او

تنګ دی او یوازې د ژوند د ډېرو کوچنيو برخو له ليدو سره بلد يو؛ خو الله تعالی ټولو چارو ته په سمه توګه ګوري او هر څه په حکمت اداره کوي.

د الله تعالی حکمت له موږ پټ او له علم څخه مو بهر دی. کله چې پېښه رامنځته کېږي، دا وخت ترې کرکه لرو؛ خو ورځې تېرېږي او وروسته پوهېږو چې له موږ سره د الله تعالی ښېګڼه له ځان سره زموږ له ښېګڼې غوره ده.

موږ ټول يو شی په ډېر شوق او لېوالتيا غواړو او په اړه يې فکر کوو، چې که ورته ونه رسېږو، ښايي ژوند يې په جهنم بدل شي؛ خو تر يوې مودې وروسته پوهېږي چې خير او ښېګڼه يې هغه ته په نه رسېدو کې وه.

ځينې وخت يو څوک د زړه له کومې غواړو او فکر کوو، چې زموږ نېکمرغي يوازې د هغه په څنګ زموږ له شتون څخه رامنځته کېږي او فکر کوو، چې يوازې زموږ لپاره پيدا شوی دی؛ خو الله تعالی راته تر هغه غوره شخص راکوي، چې له لومړني شخص د محرومېدو له امله په مينه د الله تعالی شکر ادا کوو او د نوي نعمت له امله يې مننذوی کېږو.

داسې خو ښځې ډېر کېږي چې کله يو کار يا دنده له لاسه ورکوو، فکر کوو، چې زموږ رزق يوازې په هغه پورې تړلی دی.

موږ انسانان د خپل بشري ضعف له امله خپلې سترګې همغو بندو دروازو ته نيسو؛ خو الله تعالی ته نه ګورو، چې د رزق ټولې دروازې د هغه په واک کې دي. يو څه وخت وروسته چې د وخت څرخ زموږ په ګټه وڅرخېږي، د هغو نعمتونو له امله خوشالېږو چې الله تعالی يې راکوي او د خپلو بې‌صبريو له امله د خجالت احساس کوو.

د ګډ ژوند ډېرې اړيکې په طلاق پای ته رسېږي؛ خو الله تعالی دواړو ته

تر پخوانیو غوره بدیلونه ورکوي.
ډېرې مېرمنې او مېړونه شته چې د ګډ ژوند ملګری یې بایللی وي او الله تعالی ورته داسې څوک ورلېږلی وي، چې د هغه په څنګ کې یې ټول پخواني غمونه له یاده وتلي دي.
کله چې ابوسلمه وفات شو، ام سلمه یې په بېلتون کې ډېر غمجن شو؛ خو د الله تعالی رسول ور زده کړل چې الله تعالی ته دعا وکړي: ربه! ما ته پر ما د هر راغلي مصیبت په بدل کې اجر را په برخه کړې او ژوند ته مې له مېړه یو غوره کس راولې!
ډېر وخت نه و وتلی چې د الله تعالی له رسول صلی الله علیه وسلم سره یې واده وکړ، چې یوازې د هغې لپاره نه، بلکې د ټول بشریت لپاره د خیر او برکت وسیله شوه.
هغه عوضونه او بدیلونه چې الله تعالی یې موږ ته راکوي، ټول مصیبونه له یاده باسي او کوم جبران چې هغه زموږ په حق کې کوي، د شوق او خوښۍ اوښکې مو له سترګو روانوي. کله چې په حقیقت پوه شو، د هغه نیول زموږ په حق کې لوی رحمت دی.
څه چې یې موږ ته نه دي راکړي، کله چې یې په حقیقت پوه شو، زموږ په حق کې لوی بخشش دی. الله تعالی ډېر پاک دی چې انسان په کوچنیو بلاګانو امتحانوي، چې له لویو بلاګانو خوندي پاتې شي.
**یوه بله کیسه یې رانقل کړې ده:**
یوه پاچا یو هوښیار او پوه وزیر درلود او تل به له وزیر سره یوځای و. هر وخت به چې پاچا له کومې بدې پېښې سره مخ کېده، وزیر به ویل: په دې کې به مو خیر وي.
یو ځل د پاچا ګوته پرې شوه، بیا هم وزیر وویل: په دې کې به موږ خیر وي.

پاچا په غوسه شو او په ډېر قهر یې وزیر ته وویل: زما د ګوتې په پرې کېدو کې څه خیر دی؟

امر یې وکړ چې وزیر زندان ته واچوي؛ خو وزیر په دې حالت کې هم وویل، چې په دې کې به مو خیر وي.

یوه ورځ پاچا د ښکار لپاره له ښاره دباندې لاړ، په ځنګله کې د ګرځېدو پر مهال له خپلو ملګرو جلا شو او داسې خلکو ته په لاس ورغی، چې د بُتانو عبادت یې کاوه.

هغوی هوډ وکړ چې پاچا هغه بت ته قرباني کړي، چې هغوی یې عبادت کاوه؛ خو د هغوی د مشر پام شو، چې د پاچا یوه ګوته پرې شوې ده او باید په دې نیمګړتیا سره د بُت په خدمت کې قرباني نه شي، نو امر یې وکړ چې پاچا ازاد کړي.

پاچا چې د مرګ له خولې راستون شوی و، په ډېرې خوښۍ د لارې له ملګرو سره یوځای شو او د وزیر په یاد کې ډوب شو. کله چې ماڼۍ ته ورسېد، وزیر یې ازاد کړ، بښنه یې ترې وغوښته او ویې ویل: ښاغلیه وزیره! د ګوتې پرې کېدل مې رښتیا په ګټه وو.

خو ته راته ووایه، په دې کې څه خیر و، چې زندان ته لاړې؟

وزیر وویل: ښاغلیه پاچا! زه تل د سیوري په څېر له تا سره یوځای وم، که دې خلکو زه له تا سره نیولی وای، زه یې خپل بُت ته قرباني کولم.

## ﴿۴۴﴾

يو غوره ارزښتناک ټکی چې په تفسير کې مې لوستی دی، د امام قُشيري خبره ده چې سليمان عليه السلام د هُدهُد په اړه ويلی دی: «لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيْدًا..» (النمل: ۲۱)

«بې شکه هغه ته به سخت عذاب ورکړو».

تر ټولو سخت عذاب دا دی چې د انسان او د هغه د محبوب ترمنځ بېلتون رامنځته شي؛ څکه له ملګري څخه بېلبدل انسان داسې کوي لکه د ستنې له سوري څخه چې ساه اخلي.

عربانو د همدې موضوع په اړه څه ښه ويلي دي: د ملګرو او خپلوانو بېلتون ډېر سخت دی.

# ﴿۴۵﴾

لیوناردو داوینچي په خپل کتاب «ادبي آثار» کې داسې وايي: یو سړی د اینځر ونې ته وخوت او د ونې ښاخ د هغه پر لوري کوږ شو. پخه مېوه یې راشکوله او خولې ته کوله.

کله چې د څېرې ونې دا صحنه ولیده، په ډېر غرور یې د اینځر ونې ته وویل: ای بېچاره اینځره: طبیعت چې څومره پام ما ته کوي، تا ته یې نه کوي. وګوره، څه ډول زما دانې په تنګه او داده تړته کې اچوي او په دې یې هم بسنه نه ده کړې؛ بلکې دا کلک پوخونه یې هم راکړل. چې لا ډېره ساتنه مې وکړي او په دې ډول راته هیڅوک زیان نه شي رسولی.

د اینځر ونې د څېرې په ونه پورې ډېر وخندل او ویې ویل: خپله ښه پوهېږې چې انسان څومره هوښیار موجود دی او پوهېږي چې ستا دانې په څومره سختۍ راوبیسي او وخوري، کله دې چې مېوې پر ځمکه ولوېږي، هغه تر پښو لاندې کوي یا یې په تیږه ماتوي او مغز یې خوري.

زما ګرانه! زموږ دواړو مېوه خوري؛ خو هر یو یې په ځانګړې ښه خوري.

زما مېوه په ډېرې ارامۍ؛ خو ستا مېوه په ډېرې سختۍ ترلاسه کوي.

هغه څوک مې خوښېږي چې نرم او مهربانه وي. د زده کړو لوړ اسناد مې هیڅکله ځان ته نه ورجذبوي. کوم لوړ لقبونه چې ترلاسه کوې، دا مې چندان پام ځان ته نه ور اړوي او همداراز اصلاً مهمه نه ده چې څومره مال او شتمني لرې، دا ټول په تا پورې اړوند دي؛ خو نرمي، تواضع او ښه چلند دې زما زړه تابع کوي او ما ستا لوري ته درجذبوي.

هغه څوک مې خوښېږي چې سنجیده خبرې کوي، تر څو د چا زړه

وربانديې ازار نه کړي، کله چې خبرې کوي، دومره په مهرباني غږېږي لکه لاس دې چې پر اوږو ږدي او ارامويي دې.
کله چې څه وايي لکه ذهن چې خوشالوي او زړه ارامويي، کله چې يوه کيسه درته کوي، ته به وايې چې د ټوټه ټوټه زړه د زخم درملنه کوي
هغه څوک مې خوښېږي چې له ټولو خلکو سره په ډېره مهرباني او ملگرتيا چلند کوي. عادي کارمند ته موسک کېږي، پر سرکونو له بېوزله پلورونکو سره نرمي او عاجزي کوي او د هغو شيانو يو څه قيمته اخلي، چې په دې وسيله هغوی ته صدقه ورکړي او په ظاهره د ځان ناخبره اچول د يوې معاملې په توگه ترسره کوي.
هغه څوک مې خوښېږي، چې کله خپل کور ته ننوځي، نېکمرغي، خوښي او ارامتيا هم ورسره کور ته راځي او په دې اخلاقو يې مېرمنه خوشالېږي. بچيانو ته يې مينه ډالی کوي او لور يې په غېږ کې اخلي.
بلکل د باران په څېر، کله چې ځمکې ته راشي، ټول خلک يې د راتلو له برکته خوشالي کوي.
هغه څوک مې خوښېږي، چې نور خلک يې خوښېږي. تل د خلکو خير غواړي او باور لري چې د خلکو بريا او نېکمرغي هيڅ شی د هغه له برخې څخه نه کموي او ټولو خلکو ته د خير او برکت دعا کوي.
هغه څوک مې خوښېږي چې دا باور لري دنيا د گرځېدلو لپاره ده او تر ټولو غوره شی چې بايد له دې لارې ترلاسه شي، نېک او صالح عمل دی او ارزښتناک شی چې پخپل يادگار کې يې پرېږدي، ښه چلند او نېک نوم دی.
ربه! موږ د نرمی په گاڼه سينگار کړه او په قيامت کې له هغوی سره اساني وکړه چې نرمي يې د ژوند دود گرځېدلی دی.

## ﴿۴٦﴾

په دې دنیا کې تر ټولو تریخ شی منه‌غوښنه نه دی چې ځینې خلک وایي او علقم هم نه دي چې ځینې نور وایي، بلکې تر هغو تریخ دا دی چې په حق کې دې خیانت وشي.

دا چې په همغه لاس پر مخ کلکه څپېړه وخورې، چې یو وخت به دې ښکلاوه.

په همغې پښه لغته وخورې چې اغزی به دې ورباندې نه لورېده.

دا چې د کلونو کلکه شوې ټوټه د شمعې ترڅنګ ژوند وکړي او اخر بې همغه شمع وسوځوي.

تر ټولو سخت درد د هغه چا خیانت دی چې تا ټول عمر په غېږ کې نیولی وي.

❀

## ﴿۴۷﴾

چینایی ادیب «یوهسیو صن» په خپل ارزښتمن کتاب «د لرغوني چین افسانې» کې یوه کیسه رانقل کړې ده:
تین جایو په ډېر اخلاص د دووق خدمت کاوه؛ خو دووق د تین جایو اخلاص ته اهمیت نه ورکاو او تین جایو له دې امله ډېر رنځېده.
یوه ورځ یې دووق ته وویل: غواړم د ځانې په څېر لرې ځای ته سفر وکړم.
دووق وویل: څه ویل غواړې؟
ویې ویل: ښاغلیه دووق! آیا ځینې وخت چرګ ته متوجه شوی یې؟ کرم تاج یې چې پر سر دی، د هغه د ښکلا نښه ده، قوي پنجې یې د هر دښمن پر وړاندې د څواک او زړورتیا نښه ده او کله چې د خوړو لپاره څه پیدا کړي، نورو ته هم ور غږ کوي، دا د خیرغوښتنې او نېکۍ نښه ده.
لمانځه ته زموږ په راویښولو کې د هغه دقت موږ ته د رښتیا او نېکۍ درس راکوي؛ خو سره له دې چې چرګ دومره ډېرې ښېګڼې لري. بیا هم هره ورځ لسګونه چرګان حلالېږي، چې د دسترخوان پر مخ د خلکو لوښي ورباندې ډک شي.
آیا نه پوښتې چې ولې؟
دوق وویل: ولې؟
ځواب یې ورکړ: څکه چرګ تل زموږ په لاسرسي کې دی؛ خو له بلې خوا زانه چې په هر پرواز کې ۳۰۰ کیلومتره لاره وهي؛ خو کله چې ستاسو

باغ ته د دمې لپاره راتيتېږي، ستاسو ټول کبان او کيشپان خوري او په ونو کې مو منې خرابوي.
سره له دې چې دا مرغه د چرګ په پرتله هيڅ ښه ځانګړنه نه لري؛ خو بيا هم تاسو د هغه قدر کوئ او د هغو د خرابيو په اړه غبرګون نه ښيئ.
پوهېږئ ولې؟
ځکه دا مرغه ډېر ناياب دی او تل دې د سترګو په وړاندې نه وي.
پر دې اساس زه هم غواړم د ځانې په خبر سفر وکړم، چې په خپل ځای سربېره يې په نورو ځايونو کې هم قدر کېږي.
عربانو ويلي دي: د يوه شخص په نزد تر ټولو بې‌ارزښته شی کورنی او خپلوان دي. دې ښکلې چينايي افسانې د امام ابوحنيفه د ژوند کيسه رایاده کړه. دې لوی امام تقواداره او عابده مور لرله او د هغې ډېر قدر او درناوی يې کاوه؛ خو مور يې هيڅکله د هغه د فقهي موضوعات او فتوا نه منله. يوه ورځ په يوه ديني ټکي نه پوهېده، امام ورته فتوا ورکړه؛ خو د هغه فتوا يې ونه منله او ټينګار يې وکړ چې د وخت فقيه «عمر بن ذر» ته ورشي، چې موضوع له هغه سره شريکه کړي.
امام عمر بن ذر ورته وويل: په دې موضوع کې اختلاف دی؛ خو له دېرو شخه د امام ابوحنيفه خبره راجح او د عمل وړ ده. بېځايه يې نه دي ويلي: «خلک په اسلامي فقه کې د امام ابوحنيفه د پوهې د درمند وږي شکوونکي (خوشه شکوونکي) دي. بيا يې هم مور د هغه فتوا قبوله نه کړه.
مور همداسې يو، تل د هغو شيانو په ارزښت نه پوهېږو، چې له موږ سره دي. دا له دې امله دي چې ډېر عادي کېدل د يوه شي کشش او جاذبه کمرنګه کوي او موږ تل په دې فکر کې يو، چې خلا بايد تل له لرې

ښځه وي.
د دنیا یو دود او عادت دا دی چې د یوه انسان په وړتیاوو، لارښوونو او هڅو وروستي باور کوونکي به د هغه قوم وي. قریشو د احد په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سر مبارک زخمي کړ او د هغه د مخې مبارک غاښ یې مات کړ؛ خو انصاري ښځې چې پلار، میړه او زوی یې شهیدان شوي وو، وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم څه حال لري؟
ورته وویل شول: هغه په بشپړه توګه روغ دی.
ویې ویل: هغه ما ته یې راوښیئ.
کله چې یې د الله تعالی رسول ولید، ویې ویل: ای د الله تعالی رسوله! تر تا وروسته هر غم او مصیبت هیڅ هم نه دی. رښتیا چې ډېر عجیب دی، ډېر عجیب!
خپل قوم یې وینې توېوي او انصاری ښځه چې د وینې هیڅ نږدېوالی یې ورسره نه درلود او ټول خپلوان یې بایللي وو، وایي:
تر هغې چې ته په خیر یې، هیڅ غم نشته.

## «۴۸»

کله چې جساس بن مره، کلیب بن ربیعه وواژه، حارث ابن عباد مناسبه ونه ګڼله، چې غچ واخلي او داسې خبره یې وکړه، چې د تل لپاره یادګار پاتې شوه: «**ألزیة عندالکرام الاعتذارُ**».

«د عزتمنو لپاره دیت اخیستل د ناتواني نښه ده».

کله چې زید بن سالم، جبیر وواژه، حارث بن ربیعه په داسې حال کې ووېل، چې له ډېرې غوسې یې وینه په رګونو کې خوټېده: د خپل زوی د وینې په بدل کې به د سیند د شګو، د اسمان د ستورو او د صحرا د رېګ په اندازه خلک وژنم او د تغلبیانو پر وړاندې یې جګړه پیل کړه، چې نږدې و، هغوی له یوې مخې ختم کړي.

د نورو د زخمونو په اړه ډېر محتاط اوسه! هیڅکله د هغه خیانت خوند کم مه ګڼه، چې خپله دې یې خوند نه دی څکلی؛ څکه د زړه په ژورو کې داسې درد رامنځته کوي، چې پوښتنه یې مه کوه.

دا درد یوازې او یوازې حس کېدای شي!

## ﴿۴۹﴾

یوناني فیلسوف په خپل کتاب «افسانې» کې د دوو چینګښو کیسه رانقل کړې ده: دوو چینګښو په یوه ډنډ کې ژوند کاوه او ترمنځ یې د دوستۍ ډېر ژور پیوند ټینګ و. کله چې ګرم اوړی راورسېد، د ډنډ اوبه یې وچې کړې. چینګښو په خپلو کې مشوره وکړه چې د ژوند لپاره بل ځای پیدا کړي. د لټون پر مهال د یوې څاه له څنګه تېرې شوې، چې ډېرې اوبه یې لرلې.
چینګښې خپلې ملګرې ته وویل: خومره ښکلې څاه ده، رڼې او پاکې اوبه لري. همدا ځای د استوګنې لپاره انتخابوو، نو راځه چې ځا ته ور ودانګو.
هوښیارې چینګښې ورته وویل: فرض کړه چې څاه ته داخلې شوو او ډېرو اوبو او خوراک ته مو لاسرسی وموند، آیا فکر دې کړی چې له کومې لارې به بېرته راوځو؟
په هیڅ کار تر هغې اقدام مه کوه، چې د هغه پای دې نه وي سنجولی.
پیلول ډېر سخت نه دي، یوازې لومړی ګام یو څه سختي لري؛ خو مهارت د لارې په پای ته په رسېدلو کې دی.
پیلوټان لومړی چل دا زده کوي چې څه ډول له هوا څخه ځمکې ته ځان واچوي. هوښیار انسان د کار آخر او پایلې ته فکر کوي؛ ځکه په بې‌پروایی او بېړه ژوند په ناکامی پای ته رسېږي.
درسي پروګرامونه له ټولو ښوونیزو مرستندویه وسایلو سره یوازې یوه وسیله ده.

شتمني او پيسې په پيل کې انسان ته ډېر ژور ګوري، چې تر څو کلونو وروسته څه ډول د دې شخص په ژوند کې نفوذ وکړي. ګوري چې بايد په کوم ارزښت سره د هغه په لاسرسي کې شي او په کومو مهارتونو کې يې وساتي او ټول پلانونه د همدې سنجشونو پر اساس تېروي.
مسلمانان په مکه کې له مشرکانو سره له جګړې څخه منع شول؛ ځکه عقيده پر توره غوره ده او هغه توره چې عقيده ورباندې واکمني ونه لري، ژر په دښمني بدلېږي؛ خو کله چې عقيده د انسان په وجود کې نفوذ کوي، توره هم د عقيدې تابع کېږي او د تورې خاوند پوهېږي چې د هغې د ګرځولو هدف څه دی او په کوم ځای کې بايد ترې کار واخيستل شي.
پر دې اساس کله چې ربعي بن عامر د فارس د لوی رستم شاهي دربار ته داخل شول، په ډېر صراحت او جرأت يې اعلان وکړ: الله تعالی موږ رالېږلي يو چې انسانان د بندګانو له عبادت څخه د الله تعالی عبادت ته راوبلو او د کفر ظلم د اسلام په عدالت بدل کړو.
ربعي بن عامر د پېغمبر صلی الله عليه وسلم د مکتب زده کوونکی و او ښه پوهېده چې له کوم ځايه يې پيل او په کوم ځای يې ختم کړي.
يو ځل معاويه د ستاينې په دود عمر بن عاص ته وويل: تر اوسه څوک ستا هوښيارۍ ته رسېدلی دی؟
عمرو ورته وويل: تر اوسه مې هيڅ کار نه دی پيل کړی؛ خو دا چې د پای په اړه مې يې فکر کړی وي.
معاويه وويل: خو ما داسې کار نه دی پيل کړی، چې تر اخره يې رسول نه غواړم.

## ﴿۵۰﴾

د «هغه څه چې ستوري يې زموږ لپاره لري» په رومان کې له امريکايي ليکوال «جون گرين» څخه ډېره دردوونکې کيسه رانقل شوې ده، چې «هيزل گريس» د «اگوست» د مړينې په اړه وايي:

بيا مې پام شو چې هيڅوک له ما سره يوځای نه شول، چې له هغه سره وژاړم او دې کار ډېر خپه او غمجن کړم.

يوازينی کس چې غوښتل مې د اگوست د مړينې په اړه ورته ووايم، پخپله اگوست و او وروسته متوجه شوم چې د جنازې مراسم د مړو لپاره نه نيول کېږي، بلکې د ژونديو لپاره نيول کېږي.

دې کيسې مې په رښتيا په زړه کې پنجې ښخې کړې. معلومېږي چې موږ په دې زمانه کې د خپلو دوستانو په مړينه نه ژاړو، څومره چې له هغوی پرته د ځان لپاره ژاړو.

يعنې موږ د ځان لپاره ژاړو، نه د هغوی لپاره.

Scanned with CamScanner

# «۵۱»

په کیسو کې راغلي دي: په نړۍ کې یو عجیبه بازار و، چې د احوالو بازار یې ورته وایه. هر چا به چې خپل حال او احوال نه خوښاوه، هلته به تلل، خپل حال به یې پلوره او په بدل کې به یې د ځان لپاره به حال پېرودهِ؛ خو د حیرانتیا ځای دا و چې هر چا به نوی حال اخیست، تر یوې لنډې مودې وروسته به له هغه سره بېرته بازارا ته راستنېده، خپل همغه لومړنی حال به یې اخیست او له هغه سره به یې ژوند ته دوام ورکاوه.
موږ ټول انسانان ډېر شیان لرو او په وړاندې یې ځینې شیان کم لرو؛ خو د افسوس ځای دا دی چې هغو شیانو ته نه گورو، چې لرو یې؛ خو تل مو سترگې هغو شیانو ته وي، چې نه یې لرو او د ترلاسه کولو لپاره یې اندېښنه کوو.
زموږ نظر تل هغو شیانو ته وي، چې نور یې لري او هغو شیانو ته نه گورو، چې هغوی ترې بې‌برخې دي.
ما ډېرو ځایونو ته سفر کړی دی، له ډېرو خلکو سره مې لیدلي دي. د نړۍ مشهورو شخصیتونو، سیاستوالو، دعوتگرو، شتمنو، لیکوالو یوه هم راته د شخصي ژوند په اړه نه دي ویلي، له دې پرته چې د ژوند په ډېرو برخو کې حتمن له محرومیت سره مخ وو او د ډېرو نعمتونو ترڅنگ یې ځینې شیان نه لرل.
یوه مشر د خپلو فرهنگي خبرو په پای کې راته وویل: تل د یوه رښتیني دوست د لرلو په هیله یم، چې ما په سم او حقیقي ډول درک کړي، نه دا

چې يوازې په ظاهر مې خان خبر کړي.
د دې هيلې سادگی ته فکر وکړئ، محروميت يوازې د پيسو په نشتون کې نه دی. هر څه چې په ژوند کې کم لرو، محروميت دی؛ خو انسان په دې فکر دی چې له کم لرلو پرته هيڅ محروميت نشته.
هغه ښځه چې د نړۍ يو خوا او بل خوا سفر کوي او ستاسو ورباندې رخه راځي، ښايي زوی به نه لري او څومره هيله به کوي، چې ټول مال او شتمني به يې له لاسه وځي؛ خو د هغو په بدل کې ورته الله تعالی يو ماشوم ور په برخه کړي، چې هغه ته د «مور» غږ وکړي.
هغه بوډۍ ښځه چې زامنو يې په ښه توگه هغې ته پاملرنه کوله او هغې هم په ډېره مينه روزلي وو، لارښوونې يې ورته وکړې او د شتمن کېډو لارې يې وروښودې، حتا نورو زړو ښځو به ورسره کرکه کوله؛ خو همدا زړه ښځه له بلې خوا د موټر لاندې شوي زوی د مړينې له امله ژاړي او کله چې يې ټول شاوخوا وگړي فکر کوي، چې د هغې د زړه زخم روغ شوی دی، کله چې ويني د زوی د ماشومتوب ملگري يې واده کړی، په ډېر خپگان وايي: که نن مې زوی ژوندی وای، ښايي هغه هم واده کړی وای. اعتراف کوم چې د فقر او بېوزلۍ ژوند ډېر سخت دی؛ خو داسې شتمن پېژنم چې ناروغي يې په حق کې رحم نه کوي او خوراک يې يوازې څو گېډۍ راشکول شوي وابنه دي.
هيڅ شی محروميت او بېوزلي د انسان په زړه کې نه ښکلی کوي، پرته له دې چې د دواړو جهانونو قضا او تقدير ته سليم شي او پرته له دې چې دنيا له ټول حقيت سره وپېژني او اعتراف وکړي چې دنيا د امتحان ځای دی، نه د مکافاتو د ترلاسه کولو ځای.
د کښت ځای دی، نه د حاصل د راټولولو ځای.

پرته له دې چې پوه شي د انسان امتحان په دې کې دی، چې له هر شي محروم شي، باید پر وړاندې یې صبر وکړي.

دا چې باید پوه شو، چې زموږ د وجود او ژوند حقیقت په دې خاورینه کره کې څه دي؟

باور وکړو چې دنیا د دې لپاره ډېر لندمهاله فرصت دی چې ګټه ترې واخلو او د هغې نړۍ لپاره چې تلپاتې ده، خپل کور په جنت یا دوزخ کې جوړ کړو.

Scanned with CamScanner

## ﴿۵۲﴾

په ۱۹۴۲ز کال کې د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال یوې الماني سمندري کښتۍ د انګلستان کښتۍ ډوبه کړه. د کښتۍ ټوله سپرلی ختمه شوه، یوازې «بون لیم» ۱۳۳ ورځې د کښتۍ پر تخته تېرې کړې او د سمندر ساحل ته ورسېد.

په دې ورځو کې یې د مړو کبانو غوښې او د مرغانو وینه خوړله. کله چې یې ومونډ او کیسه یې د خلکو ترمنځ خوره شوه، ترې ویې پوښتل: له دې ورځو دې څه درس زده کړ؟

ویې ویل: که یو څه خواړه او اوبه ولرې، له ژونده د هیڅ شکایت حق نه لرې.

موږ هر یو لرګینه تخته لرو، چې د ژوند په ساحل کې په لامبو ده؛ یعنې موږ هر یو په تقدیر کې سختې ورځې لرو. زه چې فکر کوم، باید د ژوند حساب و کتاب ته ورستانه شو. له ځانه سره یو څه حساب تصفیه کړو او ژوند ته خپل نظر سم کړو. په ځانګړې توګه هغه شیان چې په واک کې یې لرو، که څه هم ډېر کم ښکاره شي.

## ﴿۵۳﴾

ناسان اوسويل په خپل کتاب «د ولسي کيسو ټولګه» کې يوه کيسه ليکلې ده: يوه پيشو او يو سپي په يوه ټوټه پنير له يو بل سره مخالف شول او هر يوه ځان د مقابل لوري پر وړاندې مستحق ګاڼه.

کله چې يې اختلاف زيات شو، هوکړه يې وکړه چې ګيدړې ته به ورځي، چې د دواړو ترمنځ پنير مساوي او عادلانه ووېشي.

ګيدړې ورته وويل: تاسو عادل قاضي ته راغلي ياست. چاقو يې راواخيست او پنير يې په منځ دوه ځايه کړ.

سپي وويل: کومه برخه دې چې پيشو ته ورکړه، زما له برخې لويه ده.

ګيدړې وويل: ته په حقه يې، د پيشو برخه يې راواخيسته او يو څه يې ترې پرې کړه او د سپي پر برخه يې کېښوده.

پيشو وويل: اوس د سپي برخه تر ما ډېره شوه.

ګيدړې وويل: ته رښتيا وايې، يو څه يې د سپي له برخې راواخيسته او د پيشو پر برخه يې کېښوده.

ګيدړې په همدې ډول وېش کاوه او پيشو او سپي ورباندې نه راضي کېدل او بيا به ورتلل، تر څو ترمنځ يې عادلانه وېش وکړي. په پايله کې ګيدړې ټول پنير د هغوی مخته وخوړ.

هر څوک دا وړتيا نه لري چې زموږ په اختلافاتو او دعوو کې منځګړتوب او قضاوت وکړي. څوک چې زموږ د ژوند په اختلافاتو کې مداخله کوي، ښني د خياطانو په څېر دي، چې په جامه کې موجود سوري

ګنډي؛ خو ځینې د کېندونکو وسایلو په ځېر دي، چې هر څومره زموږ
شخړو او اختلافاتو ته رانږدې کېږي، درز نور هم زیاتوي او ژوروي. دا
چې په ژوند کې طبعاً د خلکو ترمنځ اختلافات او د نظرونو او چلندونو
ټکر رامنځته کېږي او ځینې وخت خلک هغه چا ته اړتیا لري، چې ترمنځ
یې مداخله وکړي، د نظرونو اختلاف یې سره نږدې کړي او د افکارو د
اختلاف زاویې اصلاح کړي.
خو د ژوند د اختلافاتو د لمنځه وړونکو په ټاکلو کې باید دومره محتاط
وي لکه یو چا ته چې د تل لپاره په خپل ژوند کې ځای ورکوو.
له دې صورت پرته به خبره رسوایي او بې‌نظمۍ ته ووځي او هیڅ کار به
ونه کړای شي، پرته له دې چې د پښوا په پرتله به اختلافات او واټنونه نور
هم پسې زیات کړي.
چا ته چې د اختلاف د حل لپاره مراجعه کوو، باید هغه څوک وي چې
د ستونزې په دوام او ډېرېدو سره خپلې ګټې ونه لټوي او د اوبو په خړولو
کبان ونه ونیسي.
یوه قصاب د غوا د ورانه هډوکی په تبرماتاوه. ناڅاپه د دې هډوکي یوه
ټوټه والوته او په سترګه کې یې لاړه. سملاسي د کلي ډاکټر ته ورغی،
یوازینی کس چې په لومړي شیبه کې پوه شو چې قصاب څه ستونزه لري؛
خو هغه ته یې یو څاڅکی ورکړ او سپارښتنه یې ورته وکړه، چې په سترګه
کې یې واچوي او په دوو ورځو کې یو ځل بیا ورشي.
قصاب به په هر ځل ورتګ کې یو څه غوښه هم له ځانه سره اخیسته او
ډاکټر ته به یې وروړله. ډاکټر به یې درملنه کوله، چې په حقیقت کې هیڅ
درملنه نه وه.
څه موده وروسته قصاب بیاځلي ډاکټر ته ورغی؛ خو هغه یې ونه موند او

Scanned with CamScanner

د پلار پرځای یې زوی ولیږه چې پر طبابت سربېره یې د طب علم تدریس هم کاوه.
د ډاکټر زوی د قصاب سترګې ته وکتل او ویې ویل: ستاسو ستونزه ډېره جدي نه ده. د قصاب له سترګې یې د هډوکي په لرې کولو پیل وکړ او موضوع ختمه شوه.
کله چې یې پلار د درملنې ځای ته راغی، زوی یې ورته کیسه وکړه.
پلار یې زوی ته وویل: راته ووایه، تر دې وروسته به له کومې لارې غوښه خورې.

Scanned with CamScanner

﴿۵۴﴾

لوی عابد او مشهور اسلامي فقیه «محمد بن واسع» د قتیبه بن مسلم باهلي په نظامي پوځ کې د کابل د فتحې په موخه راووت.
کله چې محاصره سخته شوه، قتیبه د پوځ نظامیانو ته وویل: وګورئ، محمد بن واسع څه کوي؟
لاړل چې له هغه خبر ترلاسه کړي، هغه یې په داسې حال کې ولید چې د شهادت ګوته یې اسمان ته پورته کړې او وایي: «یا حی یا قیوم، یا حی یا قیوم».
کسان بېرته راستانه شول او هر څه یې چې لیدلي وو، قتیبه ته یې وویل.
قتیبه ډېر خوشاله شو او ویې ویل: زېرى مې درباندې، مور ګټونکي یو! ځکه د محمد بن واسع د شهادت ګوته له زرو تورو هم غوره ده.
او ته مسلمانه وروه او خورې!
کله چې دې د ژوند سختۍ راګېر کړي او هر څه دې په توان کې وو، له اسبابو او وسایلو دې ګټه واخیسته؛ خو بریا وځنډېده، کافي ده چې بوازې دې زړه اصلاح کړې او د شهادت ګوته دې اسمان ته پورته کړې. د دنیا د ټولو غوټو حللارې په اسمان کې دي!

# «۵۵»

یافعي په «مرآة الجنان» کتاب کې لیکلي دي:
وزیر بن زیّات سخت ظالم و او هغو دښمنانو ته یې تنګ قفس جوړ کړی و، چې په زندان کې به یې اچول او د هغو په شاوخوا کې یې اوږده مېخونه هم نصب کړي وو. که بندي به ځان خوځاوه، مېخونو به یې بدن ورنه زخمي کاوه.
تر دې وړاندې هیچا خپلو دښمنانو او بندیانو ته داسې عذاب نه و ورکړی. کله به چې له هغو څخه یوه ویل: ای وزیره! رحم وکړه! د هغه په ځواب کې به یې ویل: دلته رحم نشته.
وخت تېر شو، خلیفه متوکل پر وزیر برلاسی شو او امر یې وکړ چې په همغه قفس کې یې واچوي چې په خپله یې زندانیانو ته جوړ کړی و.
وزیر خلیفه ته وویل: ای خلیفه رحم وکړه!
په ځواب کې یې ورته ویل: دلته رحم نشته.
ابن زیات ۴۰ ورځې په صندوق کې پاتې او بیا مړ شو.
په دې دنیا کې د الله تعالی یو قانون دا دی چې دا یې څرګندونکې پیدا کړې ده. هر انسان وختي یا ناوخته په همغه جام کې اوبه څښي چې نورو ته یې پکې اوبه ورکړې دي. بدي بدي ده او نېکي نېکي!
څوک چې څوک مات کړي، پخپله به هم مات شي، څوک چې پر چا ظلم وکړي، پر ده به هم ظلم وشي. څوک چې د نورو په حق کې بې رحمي وکړي، د هغه په حق کې به هم بې‌رحمي وشي. د چا زړه چې د

نورو لپاره نرم شي، د نورو زړونه به هم ورته نرم شي او حتا لويې ډبرې به ورته په موم بدلې شي.

د ابراهيم خليل الله مبارک پل چې په کعبه کې د تل لپاره پاتې شوی دی، د دې لپاره دی چې هغه خپل زړه د الله تعالى د رضا په خاطر نرم کړ، الله پاک هم د هغه تر پښو لاندې تيږه نرمه کړه، له دې پرته دا عادت نه دی چې سختې ډبرې دې د خلکو تر پښو لاندې نرمې شي.

موږ چې نن له خلکو سره هر ډول چلند کوو، په واقعيت کې په خپل دې کار سره انتخابوو چې سبا نور له موږ سره همدا ډول چلند وکړي. موږ کروندگر يو او يوازې هغه شيان ريبو چې کرلي مو دي، ښخې برابر او له کمښت او ډېرښت پرته!

تر الله تعالى پرته هيڅ ذات ډېر عدالت کوونکی او وفاکوونکی نه دی.

کله چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم له ابوبکر رضي الله عنه سره په پټه مدينې ته هجرت وکړ او تر لسو کالو وروسته بېرته په رڼا ورځ له اسلامي لښکر سره د ښار له څلوور دروازو څخه مکې ته ننوتل، بشپړ برابر او په حقه.

هغه څه چې د يوسف عليه السلام د ورونو لاسونه يې هغه ته د خيرات لپاره اوږده کړل، همغه کار و چې هغه يې د کمو پيسو په بدل کې پلورلی و.

نن خلک ښه سيراب کړئ، تر څو د خپلو راتلونکو تندو د ماتولو لپاره مو کار کړی وي، د نن نېکي د سبا زېرمه ده.

## ﴿۵۶﴾

عبدالرحمن ثقاف په خپل ارزښتناک کتاب «هندي عود» کې وايي:
يوازې هغه انسانان له ېلتون څخه اغېزمنېږي چې لوی روح او لوړ معنويت لري؛ خو کله چې خر له اس سره يوځای وتړې او بيا دواړه له يو بله جلا کړې، خر نه اغېزمنېږي؛ خو اس ډېر تاثر او خپګان څرګندوي.
پر دې اساس هغه چا ته مه حيرانېږه چې له تا سره د يوځای والي په ارزښت پوه نه شو او له هغه څخه بېلتون دې له يوځای‌کېدو څخه ښه و.
خلک په دې اړه په دوه ډوله دي:
هغه کسان چې د خره عادت لري او هغه چې د اس عادت لري، يعنې معرفت او اصالت لرونکي انسانان او بې‌معرفته او کم‌اصله انسانان.

# ﴿۵۷﴾

د «الحکمة والأحابیل العربیة» کتاب کې راغلي دي:

یو وزیر ۳۰ کاله په ډېر اخلاص او سرښندنه د پاچا خدمت وکړ او د هغه په شتون کې د پاچا مقام دومره لوی شو چې حتا د کینه کوونکو زړونه یې د خان پر ضد دردولي وو.

کوم کسان چې د وزیر په شاوخوا کې وو، په هغه پورې یې خبرونه، تورونه او تبلیغات وکړل، تر دې چې پاچا د هغوی خبرې ومنلې او امر یې وکړ چې وزیر باید اعدام شي.

پاچا به د یوه کس د اعدامولو امر داسې صادراوه، چې تورن به یې د وږو سپیو له رمې سره نږدې تاړه او هغه به یې ژوندی وربانديې خوړ.

وزیر له نیوکو پرته د پاچا امر ومانه؛ خو یو وړاندیز یې وکړ، چې لس ورځې دې اجازه ورکړي چې خپلوانو او ملګرو سره خدای پاماني وکړي او شخصي چارو ته رسېدنه وکړي.

پاچا د وزیر خبره ومنله.

وزیر کور ته لاړ او هر څومره سره زر او ګاڼه یې چې لرله، وایې خیسته، د سپیو رمې ته ورغی او ټول یې د سپیو د روزنې مسؤل ته ورکړل او له هغه یې وغوښتل چې اجازه ورکړي تر دې وروسته د سپیو روزنې، خوړو او اوبو ته هغه پخپله رسېدنه وکړي.

دې سړي یې وړاندیز ومانه او پر دې سرو زرو سربېره یې لس ورځې به تفریح او سات تېرې کې تېرې کړې. په دې لسو ورځو کې به وزیر سپیانو

ته خواړه ورکول، د هغوی سرونه به یې لمسول او رسېدنه به یې ورته کوله. ټاکل شوې ورځ چې راورسېده، پاچا حاضر شو، چې د اعدام د حکم د نرنیبولو شاهد واوسي. وزیر یې وتاړه او سپیان یې وربانديې ورخوشې کړل؛ خو د حیرانتیا ځای دا و چې وزیر ته د سپیانو له رسېدو سره سم سپیانو د هغه د سر او غاړې په لمسولو پیل وکړ او هېڅ زیان یې ورته ونه رساوه.

پاچا چې د وزیر په وړاندې د دې کار پوښتنه له هغه څخه وکړه، وزیر ورته وویل: ما لس ورځې دوی وروزل او ساتنه مې یې وکړه؛ خو ۳۰ کاله مې ستا خدمت وکړ، نن مې د مرگ خولې ته ورکوې!

د پاچا مخ له ډېرې خجالتۍ سور شو او په ډېر غیرت او جذبه راغی. نه یوازې وزیر یې وباښه، پر دې سربېره یې ټول هغه کسان ونیول چې په وزیر پسې یې دسیسه جوړه کړې وه او له وزیر څخه یې وغوښتل چې هغوی ووژني؛ خو وزیر ټول وبښل او په دې یې بسنه وکړه چې ټول له دندو لرې کړي.

په ژوند کې به کار نه ده چې حتمن د هغو کسانو حق ادا کړئ چې ښه بې درسره کړي دي، بلکې کافي ده چې ښېگڼه یې هېره نه کړې.

باور وکړئ، د نورو د ښېگڼو د هېرولو خوند ډېر تریخ دی، ډېر تریخ. هېڅ شی تر دې ډېر دردوونکی نه دی، چې د هغه چا په وسیله دې ریښه ورېستل شي چې خپله دې د هغه د کرلو هڅه کړې وي. هېڅ شی تر دې تریخ نه دی چې په هغه لاس څپېړه وخورې، چې ټول عمر دې ښکلاوه. هېڅ شی تر دې ډېر خوروونکی نه دی، چې له هغه چا څخه قوي ضربه وخورې، چې ټول عمر دې د نورو د وارونو پر وړاندې د هغه دفاع کړې وي.

معن بن اوس د قدر نه پېژندنې او انکار مفهوم په دوو بیتونو کې خلاصه کړی دی او په دې ډول یې په ښکلي سبک بیان کړی دی؛

**أعلّمه الرّماية كلّ يومٍ**

**فلما اشتد ساعده، رماني**

**و كم علمته نظم القوافي**

**فلما قال قافيةً هجاني**

«هره ورځ به مې ورته د غشي ویشتلو هنر ورزده کاوه؛ خو کله چې یې مټې پیاوړې شوې، زه یې د غشي نښه وګرځولم، هغه ته مې د شعر او نظم ویلو هنر څومره ور زده کړ؛ خو کله چې د قافیې په ویلو وتوانېد،زه یې بد یاد کړم».

# «۵۸»

په ۱۹۲۶ز کال په «سان بطرسبرغ» ښار کې یو ناروغ، اروپاوه ته ورغی او له خپګان او زړه تنګون څخه یې ورته شکایت وکړ.

د خبرو تر تبادلې او د ناروغۍ تر تشخیص وروسته ډاکټر ته معلومه شوه چې هغه ډېرې خوشالۍ ته اړتیا لري، نو ورته ویې ویل: تر دې وروسته د ټوکو او خندوونکي کتابونه ډېر ولوله او له دې ډلې مهم کتاب چې باید ویې لولې، د «میخایل زوشینکو» اثر دی. دا کتاب مطالعه کړه او ډاډه یم چې له لوستلو به یې خوند واخلې.

ناروغ اه وکړ او ویې ویل: زه په خپله میخایل زوشینکو یم.

د انسان په دنیا کې د دې خاورینې کرې له ژورتیاوو او سمندرونو څخه هم ډېرې ژورتیاوې او سمندرونه شته، نو په هغه څه مه تېروځئ چې د خلکو د خنداوو تر شاه یې وینئ. د دې خنداګانو تر شاه ژور زخمونه او لوی خپګانونه پټ دي، چې خاوند یې له نورو پټوي، چې له ځان پرته نور هیڅوک یې له حیرانوونکو رازونو خبر نه شي او د هغو تفریحي سفرونو تر شا ژور زخمونه پټ دي چې ځینې خلک یې ترسره کوي او یوازې الله تعالی او هغوی پخپله ورڅخه خبر دي.

هغه څوک ړوند دی چې **یوازې** په ظاهره تر سترګو کېدونکي شیان ویني.

## ﴿۵۹﴾

د دنيا طبيعت داسې دی چې ځينې وخت پر انسان تنګيږي او موږ ورته په خپل هغه انساني نظر ګورو چې له لمس کېدونکو شيانو پرته بل څه نه درک کوي، وينو چې کلک کولپ وراچول شوی دی او هيڅ کيلي نه لري.

خو که د ايمان په سترګه ورته وګورو، پوهيږو چې دا تنګسيې د لويې ارامتيا او سملاسي پراختيا پيل دی، هر څومره چې غمونه زيات شي، ژر په يوه وار رژيږي او لمنځه ځي.

د غمونو د ګڼه ګوڼې او د مصيبتونو د حملې پر مهال کار وروستي حد ته رسيږي، تر هغې چې نور يې د زغملو حوصله او ورتيا نه پاتې کيږي.

که بنده په دې ځورونکې شيبه کې خپل ټول کارونه الله تعالی ته سپاري، له ټولو خلکو تمه پرې کوي او يوازې له الله تعالی سره اړيکه ټينګوي، پراختيا او الهي مرسته ورته د معجزې په توګه مخه کوي.

په هغې شيبه کې چې د نوح عليه السلام د قوم لخوا د هغه ځورول او تکليفول خپل وروستي حد ته ورسېد او نوح عليه السلام وليدل چې نور له دې بې‌ادبه قوم څخه هيڅ تمه نه شي کېدلای، د خپلې دعوې اسناد يې له تنګې ځمکې هغه لوی اسمان ته پورته کړل چې پوهېده د دې ستونزې د حلولو لپاره د پراخې خای لري او د پراختياوو يوازينی مرجع ته يې وړاندېز وکړ، د کښتۍ د جوړولو امر ورته وشو.

په هغې شيبه کې چې ابراهيم عليه السلام يې په منجنيق کې کېناوه، څو هغه اور ته يې ور واچوي، چې له ډېرو ورځو راهيسې يې بل کړی و.

ټولو تنداره کوونکو فکر کاوه چې ابراهيم عليه السلام د خلاصون هيڅ

لاره نه لري؛ خو د ابراهیم علیه السلام زړه ډاډه و چې له الله تعالی پرته هیڅ ذات نه شي کولای چې غمونه او سختۍ لمنځه یوسي، ویې ویل: «**حسبي الله و نعم الوکیل**». دا خبره یوازې هغه مسلمان کولای شي چې راسخ ایمان او له الله تعالی سره له مینې ډک زړه ولري. همدا خبره وه چې الله تعالی د خپل خلیل پر مخ د ځمکې قوانین بدل کړل او سوځوونکې اور یې په زرغون او خوندي بڼ بدل کړ.

په هغې شپه کې چې موسی علیه السلام له بني اسرایلو سره د قلزم سیند ساحل ته ورسېد او فرعون او ګڼ لښکر له شا په تعقیب کې پسې ور ورسېد او بني اسرائیلو دا دردوونکې حالت په خپلو سترګو ولید؛ خو کله چې بني اسرائیلو فریاد کاوه، چې: ﴿إِنَّا لَمُدْرَكُونَ﴾ [الشعراء:٦١]«هغوی به مونږ ومومي»، نو موسی علیه السلام ورته وویل: ﴿كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾ [الشعراء: ٦٢] «داسې نه ده، رب مې له ما سره دی او هدایت به راته وکړي».

یوه شېبه تېره نه شوه، چې الهي امر راورسېد او موسی علیه السلام ته وویل شول، چې خپله امسا په سیند کې ووهي.

موسی علیه السلام همداسې وکړل، ناڅاپه سمندر پرې شو او د خلکو د سترګو په وړاندې وچه او هواره لاره راښکاره شوه. بني اسرائیل دومره په اسانۍ تېر شول، چې حتا پښې یې هم لمدې نه شوې. دا حیرانوونکې معجزه د هغې امسا له امله رامنځته نه شوه، چې د موسی علیه السلام په لاس کې وه، بلکې د هغه ایمان له امله وه چې په زړه کې یې و.

په هغې شېبه کې چې دنیا د خدای د پیغمبر لوط علیه السلام په نظر کې تنګه ښکاره شوه او مېلمانه یې په کور کې وو، چې قوم یې د هغوی عزت ته د لاس اچولو هوډ وکړ او توان یې هم نه درلود چې د هغه پر ضد ودرېږي، الله تعالی ته یې غږ کړ او خپل حال یې هغه ته وړاندې کړ، چې

ټولې دروازې يې پر مخ ترل شوې دي او د هغه د مينې او مهرباني له بلاکيفه غېږې پرته بل پناه ځای نه دی ورپاتې، ناڅاپه د ناهيليو له ژورو څخه د پراختيا لمر راوخوت او مېلمنو يې خبر ورکړ چې دعا يې د الله تعالی په دربار کې قبوله شوې ده او ژر به يې ستونزو ته رسېدنه وشي.

جبرايل عليه السلام د بدکارانو دا کلی په خپل يوه وزر کې ونيو او فضا ته يې داسې پورته کړ، چې حتا د دنيا اسمان ته يې ورساوه او پرښتو د کلي د سپيانو غپا اورېده. له همغه ځايه يې سرچپه پر ځمکه راوغورځول او ټول په يوه وار تباه شول.

ګرانه وروره! خدای اوس هم همغه خدای دی، نو مه ناهيلی کېږه.

په هغې شپه کې چې د قريشو او يهودو د نظامي جماهيرو د پوځ اتحاد د مدينې ښار په شاوخوا کې محاصره کړ او ځمکه پر خپل لويوالي سربېره پر پيغمبر او د هغه په ملګرو تنګه شوه او درک يې کړه چې د الله تعالی له بلاکيفه غېږې بله هيڅ لاره نه لري، له مخلوقاتو يې اړيکه پرې کړه او د مخلوقاتو له خالق سره يې اړيکه ټينګه کړه. ناڅاپه تېز باد راوالوت، دېګونه يې چپه، خېمې يې راوېستې او د هغوی اوروته يې ګل کړل. بالاخره تېښتې ته مجبور شول او سيمه يې پرېښوده.

خدای اوس هم همغه خدای دی، نو پراختيا يوازې له همغه وغواړه.

يوه کيسه رانقل شوې ده: يو ظالم پاچا چې پر خلکو يې حکومت کاوه، امر وکړ چې د هېواد تر ټولو تکړه ترکاڼ راولي، چې ډېره ښکلې څوکۍ ورته جوړه کړي.

پاچا ورته وويل چې د پخواني څوکۍ په بدل کې يوه بله جوړه کړي او ټينګار يې وکړ چې بايد ډېره کلکه او برابره وي، له ځانګړې ښکلا او جذابيت څخه برخمنه وي او د خلکو پام ځان ته ورواړوي.

ترکاڼ په داسې کار کې د ماموريت له امله ډېر خوشاله شو او دا کار يې

د خان لپاره د ویاړ خبره وګڼله. ډېر وخت یې کار وکړ چې ځوکۍ چمتو شوه. پاچا په دې ورځ ډېر په غوسه و، کله چې یې ځوکۍ ولیده، خوښه یې نه شوه، امر یې وکړ چې ترکانې اعدام کړي.
وټاکل شوه چې سبا ته وختي ترکاڼ په دار وځړول شي. ترکاڼ له پاچا وغوښتل چې یوه شپه کور ته د تلو اجازه ورکړي او شپه له خپلې مېرمنې او بچیانو سره تېره کړي. پاچا یې خبره ومنله او اجازه یې ورکړه. ترکاڼ ونه توانېده چې د شپې ویده شي او ټوله شپه د اندېښنې له امله ویښ و، څنګه به خوب ورشي، په داسې حال کې چې سبا ته په دار ځړول کېږي؛ خو مېرمنې یې ورته وویل: غم مه کوه، اوس کرار ویده شه. خدای پاک یو دی او د رحمت دروازې یې بې‌شمېره دي. ترکاڼ د خوب په بستر کې څملاست؛ خو تر سهاره یې سترګې سره ورنغلې.
سهار وختي یې د پاچا د نظامیانو او د اسونو غږونه د خپل کور له دروازې سره نږدې واورېدل او باور یې وکړ چې هغوی راغلي دي چې هغه د اعدام لپاره بوځي.
کله چې یې د کور دروازه خلاصه کړه، د پوځ مشر ورویل: پاچا مړ شوی دی، راځه چې د تکفین او تجهیز لپاره یې تابوت چمتو کړو.
هر څومره دې چې دنیا په زړه کې تنګه شي، مه هېروه چې الله تعالی دروازې له کیلي پرته نه دي پیدا کړې. هیڅ سختي بې‌اسانی نه ده.
الله تعالی یوازې خپل بندګان له ستونزو سره مخ کوي، څو د هغه دروازه ور وټکوي. کله چې الله تعالی وګوري چې د بنده په زړه کې یې له هغه پرته هیڅوک لوی نشته، په ژوند کې یې پراختیا او نېکمرغي راوړي او د دردونو درملنه یې کوي، نو زړه دې په الله تعالی پورې وتړه.

## ﴿۶۰﴾

استیفن کینګ، مشهور امریکایي رومان لیکونکي وغوښتل چې خپل لومړی رومان خپور کړي. پر دې اساس یې څو خپرندویه ټولنو او جریدو ته معرفي کړ؛ خو نتیجه یې ورنه کړه، کور ته لاړ او له ډېرې غوسې یې د خپل رومان پاڼې په خځل ټوکرۍ کې واچولې. کله چې ستیفن کینګ خپلې خونې ته ننوت. مېرمن یې له خځل ټوکرۍ څخه راواخیست او یوې نوې خپرندویه ټولنې ته یې ولېږه.

دې خپرندویه ټولنې رومان ډېر خوښ کړ او د هغه د چاپ او خپرولو اقدام یې وکړ. کتاب په کم وخت کې د لوستونکو ترمنځ ډېر محبوبیت ترلاسه کړ او اوس یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د پلور شمېر ۳۵۰ میلیونو ته رسېدلې دی.

که څوک غواړي له دې کیسې څخه درس واخلي، دا دی: که غواړې چې یو څوک بیاځلې هیلې او ژوند ته راوګرځوې، په لاره کې ورته داسې څوک ودراوه چې په هغه او د هغه په وړتیاوو باور ولري.

پر دې اساس له هغو سترګو لرې اوسه چې کوچنی او کم ورته ښکارې او ارزښت نه درکوي، له هغو لاسونو لرې اوسه چې غواړي وزرونه دې زخمي کړي.

هغه چا ته ورنږدې شه او بنه ډېر ورنږدې شه، چې وايي: «ته یې کولای شې».

## ﴿٦١﴾

د خراسان يو شخص د مصر په بازار کې ګرځېده او د قيمتي ډبرو او د هغو د ځانګړنو او نښو په اړه يې ځانګړې مهارت درلود او هغه تيږه به يې لټوله چې په خپلې شاوخوا کې به يې مچان نه پرېښودل او له تيږې سره نږدې به نه کېناستل.
په دې جريان کې يې خپله د پام وړ تيږه له تيږې پلورونکي سره وليده او د هغې د بيې پوښتنه يې ورځخه وکړه. دې سړي د ډبرې بيه ۵ درهمه وويل. خراساني سړي ژر پيسې ورکړې او تيږه يې له پلورونکي واخيسته.
پلورونکي په ملنډو خراساني کس ته وويل: دا تيږه مې څو ورځې وړاندې د يوه ماشوم په لاس کې وليده، د څو خورماوو په بدل کې مې ترې واخيسته او تا په خپل کمعقلتوب سره له ما په ۵ درهمو واخيسته.
خراساني وويل: راپورته شه دروښيم چې زه کمعقل يم که ته. له لاسه يې ونيو او خورما پلورنځي ته يې بوتلو. د خورماوو ټوکرې چې ډېر مچان وريانډې راټول وو، په ټوکرۍ کې يې د تيږې په اچولو سره ټول مچان والوتل. تيږه يې چې راپورته کړه، ټول بيا په خورماوو راټول شول، کله چې يې پکې واچوله، بيا هم ټول مچان وتښتېدل.
بيا يې پلورونکي ته وويل: دا ډبره پاچايان د مچانو له بېروبار څخه د خپلو دسترخوانونو د ساتنې لپاره غواړي. دا ډبره مې د ۵۰۰ درهمو په بدل کې هم اخيسته.
لرغونې سکې زما او ستا په نظر کې عادي او بې ارزښته شيان دي. زما او

ستا په نظر هغه ډېره ده، چې پر هغو د خط په ليکلو يې په ارزښت کې کوم ډېروالی نه راځي؛ خو د ټولنپوهانو او لرغونپوهانو په نظر يو هنر بلل کېږي.

زه په خپل کتابتون کې د متنبي يو ټوک ديوان لرم چې د ابن جني په خط ليکل شوی دی او پخپله متنبي هم د هغه په حاشيو کې ځينې موارد په خپل لاس ليکلي دي. کتاب په اصل کې په خطي بڼه وه او وروسته په دوو جلا ټوکونو کې چاپ شو، چې يو يې په نوي قلم او تصحيح او بل يې په همغې خطي نسخې دی.

داسې ساتنه يې کوم لکه د سليمان عليه السلام له شتمنۍ څخه چې وروستی خزانه پاتې وي. خو زما د کورنۍ د نورو کسانو له نظره دا يو عادي کتاب دی، چې زما د نورو سلګونو کتابونو تر څنګ د الماری په يوه خوا کې ايښی دی.

اصله خبره مې دا کوله چې مونږ انسانان هم د همدې لرغونو آثارو په څېر يو او په خپل ارزښت او مقام نه پوهېږو؛ خو دا چې له هغه چا سره اوسو، چې ارزښت راکوي او په قدر مو پوهېږي.

د مچانو ډېره هغه تيره وه چې پر څمکه غوځول شوې وه؛ خو څوک يې چې په قدر پوهېدل، هغه راغی ويې ليده، له هغه سره په پام ورې شتمنی بدله شوه.

که د متنبي ديوان يوه سموسه پلورونکي ته ورکړې، په پاڼو کې به يې خپلو پېرودونکو ته سموسې ورکوي. له بلې خوا که موناليزا راباندې په سل ډالرو وپلوري، نه يې اخلم؛ ځکه ګټه راته نه لري.

تل له هغو کسانو سره اوسئ، چې ستاسو په ارزښت پوهېږي.

## ﴿۶۲﴾

مسعودي په خپل ارزښتناک کتاب «مروج الذهب» کې وايي: د عربو ښځو يو عادت دا و چې کله به يې ماشوم ژړل، هغه به يې نه ويده کاوه؛ ځکه ويرېدلې چې غم او خپګان يې په بدن کې خپور نه شي، بلکې هغه به يې په يوه کار او خبره په خندا کاوه او ماشوم به خوښۍ ويده کېده. همدا لامل و چې کله به لويېده، بدن به يې ښه وده کوله، رنګ او وينه به يې ښه تصفيه کېدل او عقل او هوش به يې فعال وو.

له هغه چا لرې اوسه چې درد دې هڅوي او اوښکې دې ورته ارزښت نه لري. تر دې بدتر دا چې دا ټول کارونه د مينې په نوم ترسره کړي.

زما ګرانه! څوک چې مينه درسره لري، نه دې خوروي. موږ هر يو حق لرو چې پر هغې بستره څملو چې ارامتيا پکې وي.

# ﴿۶۳﴾

مشهور روسي اديب ليوتولستوی د «افسانې» په کتاب کې ليکلي دي:
دوو چرګانو د يوې خځل تو کرۍ په سر شخړه وکړه. يو تر بل هغه قوي و، کمزوري ته يې ماتې ورکړه، له صحنې يې وياسه او وروسته په چرګانو بوازينی حاکم چرګ شو.
چرګوړې او چرګان د دې چرګ له شاوخوا راټول شول، د هغه په ستاينو يې پيل وکړ او په شاوخوا کې يې په شعرونو او غزلونو شروع وکړه.
چرګ چې د بريا له امله ډېر هيجاني شوی و، غوښتل يې دا وياړ يې لرې سيمو ته هم وغزيږي، نو پر انبار والوت، خپل وزرونه يې پورته کول او ټېټول او په لوړ غږ يې وويل. اهاء ما ته وګورئ، زه بوازينی او بريالی چرګ يم او په دې دنيا کې هيڅ چرګ زما په اندازه بريا نه ده ترلاسه کړې. تر اوسه يې لا خپلې خبرې نه وې ختمې کړې چې ناڅاپه له هوا څخه باز رابنکته شو، هغه يې په منبوکه ووهه، مړ يې کړ، په خپلو پنجو کې يې فضا ته پورته کړ، له ځانه سره يې يووړ او د ځان او بچيانو خوراک يې کړ.
هغه بريا وژونکې ده، چې د غرور او ځان خوښونې لامل شي. هغه انسان چې خپله بريا نه شي ساتلی، زما په اند ناکامي ورته غوره ده؛ ځکه ناکامي زياتره وخت انسان عاجز او متواضع کوي او له کبر څخه يې ساتي.
هڅوي يې چې په خپلو کارونو کې ښه فکر وکړي او د بل ځل لپاره په همغو وسايلو او شرايطو سره لاس په کار نه شي، بلکې موخو ته د رسېدو لوری غوره او ګټور لوري ته بدل کړي، چې د لومړي وار نامطلوبې پايلې

بیا ترلاسه نه کړي.

مبالغه به نه وي که ووایم: هغه درس او لیدلوری چې ماتې یې انسان ته وربښي، له هغو درسونو ډېر غوره دی، چې له بریا یې زده کوو، نه دا چې ووایو: ماتې په خپل ذات کې غوره او ښه دی او بریا سخته او بده ده؛ ځکه د انسان نفس د سرکشه اس په څېر دی او ډېر کم وینو چې څوک دې خپل نفس په کنټرول کې وساتلی شي.

موضوع بېخي ناروغی او روغتیا ته ورته ده. موږ چې کله ناروغ یو، ماتېږو، عاجزي او تواضع ته مخه کوو، خپل رښتیني ظرفیت پېژنو او الله تعالی ته داسې پناه وړو چې یو مسلمان باید داسې وي.

یو ځل مې د یوه ډاکټر خبره واورېده چې سرطاني ناروغان یې لیدل، هغوی مرگ ته نږدې وو او ډاکټر یې هم له رغېدو ناهیلی شوی و، ویل یې:

داسې ناروغان مې ولیدل چې یا به یې قرآن کریم تلاوت کاوه یا به یې ذکر او تسبیح ویله؛ ځکه دوی دنیا په رښتیني توگه لیدله.

د دې کیسو له راوړلو مې مطلب دا و چې ناروغي رښتیا انسان اصلاح کوي؛ خو په روغتیا کې موږ خپل ډېر مسؤلیتونه او کارونه هېروو او هغه ځای له یاده باسو چې باید ور ورسېږو.

په هر حال، په دواړو صورتونو کې کُلي قضاوت کول سم کار نه دی؛ ځکه ډېر بریالي او شتمن انسانان خپله تواضع او عاجزي په هر حالت کې ساتي. ډېر داسې ناکام کسان هم شته چې د ناوړه چلند او اخلاقو له امله داسې فکر کوي، چې دا څاورینه کره رهبري کوي؛ خو مهمه خبره دا ده چې بریا باید موږ دې ته ونه هڅوي چې په خپلو وړتیاوو کې مبالغه وکړو او له خپل ظرفیت څخه لوی گامونه واخلو.

## ﴿٦٤﴾

هنرمند بليغ حمدي د عبدالحليم حافظ ملګری و. بليغ حمدي له يو چا سره يو طرفه مينه لرله او حافظ عبدالحليم د هغه له دې حاله خبر و. يوه شپه عبدالحليم د بليغ حمدي په دې عاشقانه احساساتو ملنډې ووهلې او په شوخی یې هغه ته پېغور ورکړ.

حمدي ورته خط وليکه او ورته ويې ويل: ګران ملګري عبدالحليم ته سلام او تر هغه وروسته: غواړم دې خبرې ته مو پام راواړوم چې کوم پېغور دې نن راکړ، زما احساسات دې ورباندي سخت تېپي کړل. هيله کوم زما له احساساتو سره دومره ساده چلند مه کوه او په دومره لويه مينه ملنډې مه وهه.

فکر نه کوم، که وروسته وپوهېدای شې او د ښښې غوښتلو لپاره راسره اړيکه ونيسې، زه دې وبښلی شم او د پخوا په څېر خبرې اترې ولرو.

خو ته ګرانه وروره!

د انسان تر ټولو لويه شتمني د هغه زړه دی، نو ډېر پام ورته کوه. هيڅوک نه شي کولای چې د بوه انسان احساسات درک کړي، چې زړه ته یې داخل نه شي. هغه څه چې ستا په نظر کې یو سطحي او سرسري احساس معلومېږي، د بوه بل انسان لپاره به ټول ژوند او هر څه وي او د انسان دا نرم او بې هډوکو غړی يعنې ژبه کله نا کله له تورې هم ډېر ځېرووونکی او وژونکی عمل کوي.

# ﴿٦٥﴾

کېدای شي د رزق او روزی په اړه دې شکایت وکړې، ښایي ووایې: زه له دې څو عادي او معمولي وسایلو پرته د روزی لپاره هیڅ لاره نه لرم.

زما رزق له همدې تنګ سوري څخه پرته، چې په نظر کې مې د ستنې د سوري په څېر دی، له لوی ځای څخه نه راځي.

له دې پرته بله دنده، لاره او عاید نه لرم.

ښایي له ځانه سره ووایې: دا کم معاش چې لرم، ښایي د میاشتې تر پایه بې ترلاسه کړم یا یې ترلاسه نه کړم یا دې ژوند له دې هم خراب او بد شي او د یوې دندې په لټه کې شې؛ خو په ترلاسه کولو یې ونه توانېږې.

د ژوند تر وسوسو لاندې راشې او هېر کړې چې کار او هڅه د رزق او روزی له دروازو څخه ده او روزي ورکوونکی یوازې الله تعالی دی.

پر دې اساس، کله چې دې پایلې ته رسېږې چې د ځان تدبیر کوونکی او روزي ورکوونکی ته په خپله یې، د ژوند د تنګسې له امله دې سینه تنګېږي او د خپګان احساس لاس درکوي.

ګرانه وروره! ته مخلوق یې! که روزي دې کمېږي یا ډېرېږي، یوازې او یوازې ستا د خالق په امر کېږي او دا دنیا د امتحان له دار پرته بل څه نه دي. دا عادي خبره ده چې څوک چېرته امتحانېږي، ارامتیا او سکون نه لري.

خو موږ انسانان د خپلې ناپوهی له امله فکر کوو چې په دنیا کې تر ټولو سخت امتحان زموږ همدا ژوند دی او نور زموږ په څېر په سختی کې

واقع نه دي. حال دا چې ډېر کسان له مور ځخه په سختو امتحانونو کې واقع دي.

له يوې بانده‌چي ښځې يې وپوښتل: رزق او روزي مو له کومه کېږي؟

وېې ويل: که پوهېدای چې روزي مو له کومه کېږي، هيڅ به ژوندي نه واى؛ خو دا الله تعالى دى چې که يوه دروازه بنده کړي، بله پرانيزي.

شيخ علي طنطاوي په خپل مهم کتاب «الذکريات» کې وايي: په مصر کې پخواني ډيپلومات شيخ صادق مجدوي راته وويل: يو ځل د يوه مهم سياسي کار لپاره روسيې ته روان شو او دا وېره يې په زړه کې وه، چې هسې نه داسې ښار ته لاړ شي، چې خلک يې حرامې غوښې خوري، پر دې اساس يې دوه چرګان له ځانه سره وړي وو او امر يې وکړ چې حلال يې کړي، مېرمنې يې ورته پاخه کړل او د سفر د توکو په منځ کې يې ورته کېښودل.

کله چې شيخ روسيې ته ورسېد، يوه مسلمان شيخ مېلمستيا ورته وکړه، دا يې مناسبه ونه ګڼله چې هغه غوښه له ځانه سره يوسي چې په کور کې يې ورته پخه کړې وه، په لار کې يې يوه ښځه له خپلو بچيانو سره وليده او د هغو په څېره کې يې لوږه احساس کړه، غوښه يې هغوی ته ورکړه چې لوږه يې وربانديې ختمه شي.

ډېر وخت نه و وتلی چې له مصر ځخه ورته ايميل وشو، چې بېرته مصر ته ستون شي، له هغه مهم ماموريت ځخه صرف نظر شوی دی چې ته ورغلی يې.

ګرانه وروره! له مصر ځخه روسيې ته د دې کس سفر يوازې د يوه کار د ترسره کولو لپاره و: يعنې هغه دوه چرګان چې د هغه په نصيب کې نه وو، بلکې د زړې ښځې او د هغې د بچيانو روزي وربورې تړلې وه، د ۴۰۰۰

کیلومتره په مزل کولو بې روسیې ته یووړه، هغوی ته یې وسپارله او ژر بېرته ستون شو.
که رزق او روزي دې په کوم شي کې وي، الله تعالی یې د خپلو مخلوقاتو په وسیله راوړي او حتا د کور د دروازې تر شا یې در رسوي.
که د دې برعکس وي، هیڅکله به یې ترلاسه نه کړې، حتا که د خوب د تخت د صندوق په داخل کې دې هم وي.
دا کیسه په دې معنا نه ده چې تر دې وروسته له کارونو او هڅو لاس واخله. په دې معنا هم نه ده چې د رزق د ترلاسه کولو لپاره باید حتمن او له دمې پرته کار وکړې او زحمت وګالې، بلکې په دې معنا ده چې زړه دې په الله تعالی پورې وتړې، کله چې دې دا کار وکړ، لویې ارامتیا ته لاسرسی مومې.
په دې معنا ده چې د هغه په عدالت ایمان راوړې او باور وکړې چې هغه الله تعالی د چا په حق کې د ذرې هومره ظلم هم روا نه ګڼي او د الله تعالی په حکمت ایمان راوړې، که څه هم ستا له نظر او علم څخه غایب دی.
په دې معنا ده چې زړه او نظر دې پاک کړې.
د خلکو رزق او روزۍ ته په زهرجن نظر مه ګورئ.
څوک چې د خلکو توکو ته د حسد په نظر ګوري، زړه یې توربېږي، روزي یې بې‌برکته کېږي او پښېمانتیا او ناارامي یې داسې خوري لکه اور چې لرګي خوري. داسې خلک نه د شتمنو شتمنۍ او نه د فقیرانو قناعت ته رسېږي.
عقیده دې سمه کړه چې زړه دې ارام شي. په ژوند کې هیڅکله اضافي فرصتونه په لاس نه درځي. هر څه دې چې له لاسه وتلي دي، په دې معنا ده چې په اصل کې ستا لپاره نه وو پیدا شوي او هر څه چې ستا لپاره پیدا

Scanned with CamScanner

شوي دي، هيڅکله دې له لاسه نه وځي.

په دې اړه يو کيسه ده چې:

يوه شتمن سوداګر يو بې‌پروا زوی درلود، چې د پلار مال يې بې‌حسابه مصرفاوه او د سوداګر فکر ټول همدې زوی ته و، چې که مړ شم، ټوله شتمني به مې دا بې‌پروا زوی بې‌ځایه مصرف کړي او ټوله شتمني به مې په څو ورځو کې ختمه کړي.

نو دا خپل غم و درد يې له يوه هوښيار ملګري سره شريک کړ. ملګري يې ورته وويل: د زوی د کارونو مسؤليت ستا پر غاړه دی.

سوداګر په حيرانتيا وپوښتل: زما؟ ولې؟

ملګري يې وويل: تا هغه ډېر نازولی دی او دا کار د دې لامل شو چې هغه بې‌پروا را لوی شي.

د مال او شتمنۍ په ارزښت يې پوه کړه او امر ورته وکړه چې په خپل زيار او زحمت روزي ترلاسه کړي. ته ډېر سوداګريز کاروانونه لرې، امر ورته وکړه چې د يوه کاروان رييس دې شي، چې پېر او پلور وکړي، څينې وخت به سوداګرۍ کې تاوان وکړي.

پروا نه لري، مهمه دا ده چې پر ځان باور پيدا کړي. د وخت په تېرېدو به په هر څه پوه شي او په هر کار کې به تجربه ترلاسه کړي.

سوداګر د دې هوښيار ملګري مشوره ډېره خوښه کړه او هوډ يې وکړ چې حتمن به همداسې کوي.

کله چې يې زوی ته د دې کار امر وکړ، خبره يې رد کړه او عذر يې وړاندې کړ چې دا کار نه شي کولای.

پلار يې ورته وويل: دا کار ډېر سخت نه دی، څينې نور کسان دې هم په ځنګ ګومارم، په کارونو کې به مشوره درکوي او لارښوونه به درته کوي؛

خو هر ډول چې کيږي، بايد پخپله دې روزي ترلاسه کړي.
زوی يې د پلار دا ټينګار زړه نا زړه ومانه او سهار وختي د سوداګريز کاروان په رأس کې واقع شو. کاروان حرکت وکړ، تر مابنامه يې لارې ته دوام ورکړ، د شپې د دمې لپاره يې بارونه ښکته کړل او شپه يې په لاره کې تېره کړه.
سبا سهار د سوداګر زوی تر ټولو مخته راوينښ شو، چيګې غونډۍ ته وخوت، دښتې ته يې وکتل او ډېره ښکلې ورته ښکاره شوه.
ناڅاپه يې وليدل، چې زمري يو سوی ښکار کړی دی، په خوله کې يې نيولی، د غار تر خولې لاړ، بيا يې پر ځمکه کېښود او په خپله مخه روان شو.
څو شېبې وروسته ړنده ګيدړه له غار څخه راووتله او بوی يې کش کړ، تر دې چې د سوي جسد ته ورسېده، هغه يې په خوله کې ونيو، غار ته ننوتله، چې خپله خېټه ورباندې مړه کړي.
د سوداګر زوی د دې عجيبې منظرې په ليدو له ځانه سره وويل: پلار مې څومره ساده او خوش باوره دی.
کله چې الله تعالی د ړندې ګيدړې روزي هېره نه کړي، آيا امکان لري چې زما بينا ځوان روزي هېره کړي؟
نو ولې بايد کار وکړم او بې ځايه زحمت وګالم؟
پر دې اساس يې د کاروان کسانو ته وويل چې کاروان بېرته ښار ته سيده کړي. حرکت يې وکړ او مابنام يې پلار ته ورسېدل.
پلار يې په حيرانتيا ورڅخه وپوښتل: څه شی دې د بېرته راستنېدو لامل شو؟
زوی يې چې هر څه ليدلي وو، ورته بيان يې کړل او بيا يې وويل: پلاره!

کله چې الله تعالی د ړندې ګیدړې روزي هېره نه کړي، آیا زما به هېره کړي؟

پلار یې ورته موسک شو او ورته ویې ویل: زویه! پوهېږم چې الله تعالی د هیچا روزي نه هېروي؛ خو زما خوښېږي چې ته هغه زمری اوسې، چې نورو ته بخشش وکړې، نه ګیدړه چې نورو ته سوال وکړې.

او ته ګرانه وروره!

هڅه وکړه د دې کیسې تر لوستلو وروسته زمری اوسې، نه ګیدړه. په دې هم باید پوه شې، که هڅه وکړې یا یې ونه کړې، په هر صورت درته الله تعالی روزي درسوي. دا خل دې چې کهف سورة تلاوت کړ، په ډېر غور او فکر یې ولوله او د هغو دوو یتیمو هلکانو کیسې ته چې ورسېدې، لږ غور وکړه، چې د الله تعالی له دوستانو څخه یوه دوست خضر او د هغه له پیغمبرانو څخه یوه پیغمبر ډېره اوږده لاره تر شا پرېښوده، چې هغه دېوال بیاځلي ورغوي او پرېنږدي چې د دې دوو یتیمو ماشومانو حق ضایع شي.

کله چې دې الله تعالی په تقدیر کې څه لیکلي وي، نه یوازې تا ته درسېږي، بلکې په خپل وخت یې د ترسره کولو لاره درته اسانوي. الله تعالی دې په دې جالبه طریقه رزق او روزي ترتیبوي او په دې عجیبه طریقه یې خپلو بندګانو ته په واک کې ورکوي.

هر څه همداسې دي. کومه ډوډۍ چې ته خورې، ډېرو خلکو وریاندې زحمت ایستلی دی، چې تا ته یې په واک کې درکړي.

کروندګر د غنمو تخم کرلی دی، غټ کړي یې دي، بیا یې ریبلي دي، بل چا اوړه کړي دي، یوه بل کس له یوه ښار څخه بل ښار ته لېږدولي دي، چې بر خلکو یې وپلوري، یو بل چا اخیستي دي، لامده کړي یې دي،

Scanned with CamScanner

ړوړې بې ورڅخه پخه کړي او په پای کې تا ته در رسېدلې ده.

مېړمنه دې د هغې د موروپلار په کورنۍ کې روزل کېده او لويېده، په داسې ډول چې تا د هغې په روزنه او وده کې هيڅ زيار نه دی ګاللی.

د يوه انسان د جوړولو لپاره يوه کورنۍ زيار ګالي او مخکې تر دې چې ته يا هغه دنيا ته راشئ، د دواړو په تقدير کې ليکل شوي دي، چې د يو بل د ګډ ژوند ملګري به شئ.

له دې ټولو مسايلو وروسته آيا دا مناسبه ده چې انسان د رزق له امله انديښنه او تشويش ولري.

ايا مناسبه ده چې يو څوک له بل چا سره د الله تعالی د ورکړو په اړه کينه وکړي؟

آيا مناسبه ده چې انسان له يوه شي څخه د محروميت له امله غمجن شي؟

يوازې کافي ده چې پوه شو.

يوازې کافي ده چې له الله تعالی سره په درناوي چلند وکړي!

## ﴿٦٦﴾

د روسیې په «مورمانسک» ښار کې د «سیمین» په نامه د یوې پیشو یادګاري لوحه لګېدلې ده. هغه پیشو چې دوه زره کیلومتره لاره یې په پښو له مسکو څخه تر مورمانسک پورې ووهله، چې د خپل خاوند کورته ستنه شي.

دا حقیقت دې سترګو ته مخامخ کړه. وخت او ځای یوازې دلیل دی، هر څوک چې وغواړي، بې له شکه یې کولای شي. څوک دې چې په نشتون کې ناارامه وي، دنیا درته راستنوي. څوک چې دې له لرېوالي تړی وي، هڅه کوي، چې لیدو ته درشي.

په ظاهره د خوږو او غوړو خبرو له منلو ډډه وکړه. یو ځل عمل کول تر هغې خبرې زر وارې غوره دی، چې یوازې په ژبه ویل کېږي او عمل پرې نه کېږي.

## ﴿۶۷﴾

د چین د پاچا پر سلاکار «تشوکو لیانګ» یې تور ولګاوه چې د دولت له دښمنانوسره پټه اړیکه لري، حال دا چې داسې خبره نه وه.
پاچا هوډ وکړ چې هغه ووژني؛ خو د ثبوت د نشتون له امله یې د دې مخالفت وکړ، د دې په مقابل کې یې هغه ته د یوه ناشوني کار امر وکړ، چې ماتې ورکړي.
پاچا ورته امر وکړ چې باید په درېوو ورځو کې د دولت عسکرو ته زر غشي چمتو کړي.
پر دې اساس یې ۲۰ کښتۍ راواخیستې، له وښو یې ډکې کړې، هر یوه یې په یو بل پسې وتړله او ماښام چې لړې هم د سمندر په فضا کې ډېرې شوې، ټولې کښتۍ یې د دښمن د کنډک پر لوري ولېږلې.
دښمنانو یې فکر وکړ چې دا یو جنګي تخنیک او چل دی او باید دا موضوع له نږدې څخه وارزوي، پر دې اساس هغوی له بېخي نویو غشو سره د کښتیو پر لوري د غشو په ویشتلو پیل وکړ. لیانګ تر دوو ساعتونو وروسته ټولې کښتۍ راټولې کړې او سل زره غشي یې ورڅخه راټول کړل، ټول یې پاچا ته راوړل، کیسه یې ورته وکړه، چې خبره یې ونه غورځوي.
پاچا یې له خپل سلاکار څخه بښنه وغوښته، حالات بېرته عادي شول او هر څه سم شول.
هغه کسان چې ترخنګ یې داسې یاست لکه په ماین چې قدم ږدئ،

Scanned with CamScanner

ښايي هره شېبه وچاودېږي او تاسو ته زيان ورسوي، ژر تر ژره ترې ځانونه لرې کړئ.

هيڅ شی تر هغې اړيکې بدتر نشته چې تا د ساعت پر مدار وګنې او هر ځل مجبور اوسئ، چې يوه کلمه زر ځله تکرار کړئ، تر څو د هغوی د خوښې پر اساس برابر شي او د دې لپاره چې ستاسو چلند او حرکت د هغه له مزاج او طبيعت سره ټکر ونه کړي، مجبور اوسئ چې هغه له هرې نيمګړتيا څخه خالي کړئ.

يوازې هغه کسان چې په عادي او ارامه بڼه د يو بل ترڅنګ دي او حتا که يو ځل په ګناه هم اخته کېږئ، بيا هم د خونديتوب احساس کوئ، داسې کسان د ځانونو کلک ملګري کړئ او مه يې پرېږدئ، چې درڅخه لاړ شي.

تر دې هيڅ شی بدتر نشته، چې تل د يو چا په ازمېښت کې اوسې او هره شېبه مجبور اوسې چې هغه ته خپله ملګرتيا او ژمنتيا ثابته کړې.

دا ډول ملګرتيا دې په داسې ځای کې واقع کوي، چې فکر وکړې په داسې ميدان کې په جګړه بوخت يې چې د اوربند لپاره يوه شېبه فرصت هم نه لرې او په دې ميدان کې له دې پرته بل کار نه شې ترسره کولی چې ټول وخت د هغه په خوشالولو تېر کړې.

خو زه ګومان نه کوم چې څوک دې په دې دنيا کې داسې ژوند ته سترګې په لاره وي.

## ﴿۶۸﴾

سيبرد کينګ د ساميه جمال په نوم په يوې ښځې مين شو او له هغې سره بې په خبرو کې وويل: په هر خداى چې ايمان لرې، په هغه ايمان راوړم او ته يوازې همغه خداى ته پابنده اوسه، چې ايمان ورباندې لرې. بالاخره بې له دې ښځې سره د مينې له امله اسلام راوړ او له هغې سره د واده لپاره بې پر هغه عبدالله نوم کېښود.

ساميه خپله ټوله شتمني د هغه په نوم ثبت کړه، چې ثابته کړي له هغه سره څومره لري. څنګه چې واده وشو، د هغې ټول مال او شتمني بې له څانه سره يووړه او وتښتېد. په دې ژوند کې له هغو انسانانو سره مواجه کېږئ، چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره هر کار ته چمتو دي.

د انسان اصليتوب تر رنګ، غوښې او پوستکي لاندې پټ دی، چې انسان بې پوښلی دی. هر ځل په دواړو پښو په سيند مه ورګډېږه، لومړی يو پښه په ډېر احتياط ورداخله کړه او ورپسې دويمه هغه هم په ډېر احتياط او فکر ور دننه کړه.

## ﴿٦٩﴾

په مهابهارتا، کې د هندي حماسې په اړه په يوه کتاب چې په درېيمه قبل الميلاد پېړۍ کې ليکل شوی، داسې راغلي دي:
د «برهمني» يوه پيروان پر «وداها» چې د هندوانو څلور مقدس کتابونه دي، بشپړ تسلط درلود. د دې ترڅنګ د وخت يو تکړه جنګيالی و، هغه ملګري ته يې ډېر خدمتونه وکړل چې د هغه په ديني پوهې او زړورتيا يې باور کړی او پاچايي يې ته يې رسوي.
په پايله کې دې عالم او جنګيالي برهمني ځوان خپل ملګری پاچايي ته ورساوه او هغه يې د خلکو سياسي رهبر او ملي مشر کړ.
دې برهمني به چې هرکله هغه پخوانی ملګری (چې اوس پاچا و) ليده، ويل به يې: په خير راغلې زما ملګريه!
خو هغه به يې په ځواب کې ورته ويل: موږ پخوا سره ملګري وو او زموږ ملګرتيا همغه ستا د ولسي نفوذ او قدرت پر اساس وه، چې له يو بل سره ملګري شوو، چې زما اړتياوې او کارونه به يې پوره کول او ستونزې به يې راته حلولې.
اوس نه شتمن له اړمن سره ملګرتيا کوي او نه پياوړی له کمزوري سره، نو په دې صورت کې څوک خپل پخواني ملګري ته اړتيا لري؟
د مېړنيو احسان هېرول څومره بد کار دی. څومره بد دی هغه ړوند چې د ليدلو په لومړي فرصت کې هغه امسا ماتوي چې ده به ورباندې تکيه کوله او څومره بد دی هغه څوک چې هغه لاسونه سپکوي، چې ټول عمر به

Scanned with CamScanner

يې ورسره مرسته کوله، تر څو دی ورسره پیاوړی شي.
تر دې بل هیڅ شی ډېر دردوونکی نه دی، چې د هغه چا په وسیله مات شې چې ټول عمر دې د هغه په وده او پیاوړتیا کې تېر کړې وي او تر دې هیڅ شی دردوونکی نه دی چې هغه څوک دې ریښه راوباسي چې ټول عمر دې د هغه د کرلو او ثمر ته د رسېدلو هڅه کړې وي.
د هیڅ ونې زړه د تبر په ضربه نه ماتېږي؛ خو هغه څه چې زړه ډېر غمجنوي دا دي، چې د دې تبر لاستی یوه ورځ د هغې خپل ښاخ و.
دعبل خزاعي په دې اړه څه ښه ویلي دي:
وان أولى البريا أن تُواسيهُ
عند السرور لمن و أساک في الحُزن
ان الكرام اذا ما أيسروا ذکروا
من كان يألفهم في المنزِل الخشِنِ
«کله چې سختۍ درباندې تېرې شوې او خوښۍ او ارام ژوند دې ترلاسه کړ، وړ خلک هغه دي چې ته په غم او مصیبت کې وې او هغوی درسره مرسته او لاسنیوی وکړ. کله چې لوی او اصیل خلک ارامتیا ته ورسېږي، هغه کسان یې له یاده نه وځي، چې په سختو ځایونو او شپېو کې یې ورسره مرسته کړې وه او تل هغوی ښه یادوي».
شریف او لوی انسان نه خپل اصیلتوب هېروي او نه د نورو د نېکۍ په مقابل کې په انکار او ناشکرۍ چلند کوي، بلکې تل د یوې داسې ورځې په تمه وي چې فرصت ورته لاس ورکړي، تر څو د هغوی احسان او نېکي جبران کړي.
د الله تعالی په دربار کې هیڅ شی تر ژمنتیا او وفادارۍ ارزښتناک نه دی. پر دې اساس د مورو پلار په حق کې وفاداري او د هغوی لپاره نېکي پر

عبادت تر ټينګار وروسته ځان ته ور ياد کړئ او د دې دوو قيمتي ملغلرو نافرماني سخته ګناه ده؛ ځکه هغه ذات چې په خپله وفادار او قدر پېژندونکی دی، له وفادارو او قدرپېژندونکو پرته يې ځوک نه خوښېږي.

ځوک چې موخې ته تر رسېدو وروسته خپل اصيلتوب هېروي، په واقعيت کې يې له همغه اوله هيڅ اصيلتوب نه درلود.

ځوک چې مقام او شتمنی ته تر رسېدو وروسته اخلاق بدلوي، په واقعيت کې يې له همغه اوله اخلاق همداسې وو.

لوړو موقفونو او شتمنی ته رسېدل خلک نه بدلوي، بلکې د هغوی له واقعيت او ذات څخه پرده پورته کوي، چې کوم اصيلتوب يې درلود.

## «۷۰»

د سیرت په کتابونو کې راغلي دي چې ام شریک رضي الله عنها ځان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وبانبه، هغه صلی الله علیه وسلم قبوله نه کړه او بالاخره له واده پرته له دنیا لاړه.

د «شخصیتونو ژوندلیکونه» کتاب کې راغلي دي:

مېرمن «کریمه نروزي» د فقې او حدیثو له سترو امامانو څخه وه، په سل کلنۍ کې وفات شوه او واده یې ونه کړ.

د اندلس په تاریخ کې راغلي دي: «عایشه بنت احمد قرطبي» په فقه، شعر او عربي ادبیاتو کې د اسلامي اندلس له پوهو ښځو څخه وه او له واده پرته له دنیا لاړه.

ژوند د هغه سړي په غېږه کې ډېر ښکلی دی، چې په اړه دې له الله تعالی څخه وېرېږي؛ خو ژوند یوازې سړی نه دی!

## ﴿۷۱﴾

ابونُعیم په «حلية الاولياء» او ابن جوزي په «صفوة الصفوة» کې وبلي دي:
ابومسلم خولاني به چې هر وخت له کوره وتلو، د کور دروازې ته نږدې به یې تکبیر وایه. مېرمنې به یې چې غږ اورېده، هغې به هم ورسره تکبیر وایه.
کله به چې انګړ ته داخلېده، بیا به یې تکبیر وایه او مېرمنې به یې هم ورسره په ګډه تکبیر وایه، بیا به په چټکۍ ورتله، بوټان به یې ورڅخه باسل، څادر به یې له اوږې ترې اخیسته او بیا به یې ورته خواړه چمتو کول.
د معمول په څېر یوه ورځ د کور دروازې ته نږدې شو او تکبیر یې ووایه؛ خو څه یې وانهورېدل. بیا د کور انګړ ته دننه شو او تکبیر یې ووایه، بیا یې هم غږ وانهورېد، اتاق ته چې ننوت، ویې لیدل چې مېرمن یې د اتاق په یوه کونج کې ده او ځراغ یې ګل دی.
شیخ فکر وکړ پر هغې څه شوي دي. ورته ویې ویل: څه دې دربانديې شوي دي، الله تعالی دې درباندې رحمت وکړي؟
هغې ورته وویل: ته د ابوسفیان بن معاویه په نزد له ځانګړي مقام څخه برخمنه یې؛ خو موږ په کور کې د خدمت کولو او د کور د چارو د مخته وړلو لپاره هیڅوک نه لرو، که څوک ورڅخه د خدمت لپاره وغواړې، حتمن یې مني.
ابومسلم خولاني مستجاب الدعاء و، لاسونه یې د دعا لپاره پورته کړل او

وبې ویل: خدایه! چا چې زما کورنی ویجاړه کړې، سترګې یې ړندې کړه.
د همغې شپې په ورځ له ګاونډ څخه یوه وینزه راغله او د ابومسلم مېرمنې ته یې وویل: ولې په کور کې د خدمت کولو لپاره څوک نه لرئ؟ ستا مېړه د معاویه په نزد لوړ مقام لري، که وغواړي، یو څوک دې د خدمت لپاره وګوماري.
دا وینزه د شپې په کور کې وه، سترګې یې ړندې شوې او وېې پوښتل: څراغ چا ګل کړ؟
د کورنۍ غړو یې ورته وویل: موږ نه دی ګل کړی.
وینزه پوهه شوه چې د ابومسلم خیرا یې په حق کې قبولې شوې دي.
د کورنۍ غړو یې وینزه ابومسلم ته بوتله، چې په حق کې یې د شفاء دعا وکړي. د ابومسلم زړه وریاندې وسوځېد، د خیر دعا یې ورته وکړه او سترګې یې ښې شوې.
ډېرې کورنۍ د نورو په لاسوهنه او مداخله خرابې شوې دي.
د کورنیو تخریبوونکي ډېر دي او موږ یې هم خبرو ته غوږ ږدو.
مېرمن په خپله کورنۍ کې ارامه او ډاډه ده، د خپل مېړه بېوزلي درک کوي، په کم شي قناعت کوي او په خوښۍ له یو بل سره ژوند کوي.
پوهېږي چې مېړه یې څه ورته چمتو کوي، د بخل له مخې نه دي، بلکې په همدې اندازه یې نصیب او روزي ده، ژوند تېرېدونکی دی، ورځې په یو بل پسې په تلو راتلو کې دي او فقر او بېوزلي د یوه انسان د نېکمرغۍ خنډ نه شي کېدلای.
خو ناڅاپه د کورنۍ خرابوونکی او د مېرمنو او مېړونو د ژوند مداخله کوونکي پیدا کېږي، مېرمنې ته شیطاني کوي او په غوږونو کې ورته شیطاني وسوسې اچوي، چې له دې ډول ژوند سره څرنګه راضي کېږي؟

د کور وسایل ډېر پخواني او زاړه دي، اوس نويو وسایلو ته اړتیا لري.
پلانی او پلانی ته وګوره. شیان اخلي، مسافرۍ او تفریح ته ځي، مېلمستیاوې جوړوي.
لنډه دا چې له دې تخریبونو او وسوسو څخه لاس نه اخلي، تر څو دا ښځه د مېړه پر وړاندې بدګومانه کړي، د هغې دا خوښي او قناعت په ناهیلي او ناشکرۍ بدل کړي.
همدا خبره ده چې د مېرمنې او مېړه ژوند تیاره کېږي، کور یې ورانېږي، کورنی نظام یې ګډوډېږي او ټول سره پاشل کېږي.
له بلې خوا نارینه له خپل ساده کار او کسب سره چې لري یې او کم عاید ورڅخه ترلاسه کوي، چا ته له ژوند څخه شکایت نه کوي او هر څه چې دي، هغه پټ ساتي، له ژوند څخه یې خوښ او څه چې لري، ورباندې قانع دی، له کمو وسایلو خوند اخلي او پر دې ټولو سربېره یې ژوند تېرېږي؛ خو ناڅاپه یو انساني شیطان ورځي، هغه د دنیاوالو د رب پر وړاندې تحریکوي او د نیوکې په دود پوښتي: څنګه په دې کم عاید راضي کېږې؟
په دې خبرو یې دنیا د هغه په نظر کې بدله ښکاره کوي او د هغه په ناهیلي کولو سره د الله تعالی په وېشونو رضا یې په نظر کې ناشونې څرګندوي او تمه یې دومره زیاتوي، چې د الله تعالی په ورکړو رضا او قناعت یې په نظر کې ناشونې چاره ګرځوي.
فکر وکړئ، خپل غوږونو د نورو د خبرو څوندۍ مه جوړوئ او خپل کورونه د غړونو او بدمرغۍ په غرونو مه بدلوئ، چې پخواني او زاړه وسایل د دې لامل کېږي چې ژوند مو خراب کړي.
خورې! څوک چې دا خبرې درته کوي، آیا رښتیا یې دا خوښېږي چې

مېره دې درته نوي وسایل واخلي که یوازې دې هڅوي او غواړي ژوند دې خراب کړي؟

آیا هغه ښځه چې تا ته د یوې مهربانۍ ملګرې تمثیل کوي او خبرې یې د دې لپاره دي چې مېړه دې درته په هر مناسبت کې نوې جامې نه اخلي، آیا یوه ورځ یې په کوم مناسبت یا محفل کې ډالۍ اخیستې ده که دا ډول تمثیلونه یوازې د فتنې او تخریب لپاره کوي؟

ډېره محتاطه اوسه!

ځینې وخت کرکه او کینه د خیرغوښتنې په بڼه درته راځي.

ځینې وخت تخریب د مهربانۍ جامې اغوندي او ښکار کوي مو.

دا هغه حقیقت دې چې له وړاندې الله تعالی آدم علیه السلام ته فرمایلی دی: ﴿فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ﴾ [طه:۱۲۰].

«نو ده ته شیطان وسوسه واچوله، ویې ویل:ای ادمه! آیا زه تا ته د تل ژوندي پاتې کېدلو ونه وښیم او داسې پاچایي چې نه به ختمېږي»

دا ونه د ګناه ونه وه چې له هغې څخه خوراک له جنت څخه وتل او ځمکې ته راټیټدل له ځانه سره لرل.

هغه لېوه خومره بد دی چې د پسه پوستکی یې پر تن کړی وي.

## «۷۲»

د ډاکټر راغب سرجاني په «له بریا تر سقوط پورې د اندلس داستان» کتاب کې راغلي دي:

کله چې مسلمانانو اندلس «اوسنی هسپانیه» فتحه کړه، په اسلامي لښکر کې یې د جنګیالیو شمېر ۱۲۰۰۰ و.

هغوی د سرتېرو په دې شمېر سره وتوانېدل چې د «ایبیریه» جزیره فتحه کړي او له هغه ځایه نورو ښارونو ته حرکت وکړي؛ خو کله چې د غرناطې ښار، چې د مسلمانانو وروستی سنګر و، سقوط وکړ، په هغه وخت کې یوازې په همغه ښار کې تر یو میلیون ډېرو مسلمانانو او سرتېرو ژوند کاوه.

له دې کیسې څخه دا لوی درس اخیستلی شو:

تل د غوره په لټه کې اوسئ، نه د ډېرو، کم خلک ولټوئ؛ خو رښتیني ولټوئ، په ډېرو جعلي شیانو پسې مه ګرځئ. دنیا ټوله مبارزه ده، نو د ژوند د لښکر سرتېري په ډېر دقت او سم ډول انتخاب کړئ.

# ﴿۷۳﴾

محمد خیر رمضان په خپل ارزښتناک کتاب «دوکانة الکتب» کې لیکلي دي: عبدالملک بن مروان د حج د ادا کولو په موخه روان شو او خالد بن یزید بن معاویه ورسره ملګری و. خالد د قریشو له ګوتشمېرو وګړو څخه و او د عبدالمک په وړاندې یې لوړ مقام درلود.

کله چې خالد د بیت الله طواف کاوه، «رملة بنت زبیر» یې ولیده، په لومړي نظر وریاندې مین شو او د هغې مینې یې د زړه په ژورو کې ځای ونیو.

کله چې عبدالملک وغوښتل له حج څخه راستون شي، خالد ورسره رانغی. د خالد په اړه د عبدالملک په زړه کې پوښتنه پیدا شوه او یو څوک یې ورولېږه، چې وپوښتي څه موضوع ده، چې نه غواړي له موږ سره راشي.

خالد وویل: ای امیرالمؤمنینه! رملة بنت زبیر مې ولیده، چې د بیت الله طواف یې کاوه، عقل او هوښ یې رانه یووړ او زړه یې راته اوبه کړ. په الله قسم، صبر مې ختم شو، چې دا پټ راز مې تا ته ووایه.

څو ځله مې وغوښتل چې ویده شم؛ خو سترګې مې له خوب سره نااشنا شوې دي، ډېره هڅه مې وکړه چې زړه ته مې ډاډ ورکړم؛ خو هیڅ یې نه مني.

عبدالملک د خالد بن یزید په دې خبره ډېر حیران شو او ویې ویل: فکر مې نه کاوه چې مینه دې سړی ستا په څېر دومره لېوني کړي.

خالد وویل: زه تر تا هم ډېر حیران یم په خدای.

تل په دې فکر کې وم چې مینه تل د دوو ډلو خلکو په زړه کې خاله کوي: شاعران او بانډه‌چیان.

د شاعرانو زړونه تل د ښځو په ستاینه او د هغو په اړه د شعرونو په جوړولو بوخت وي، دا چې له ښځو سره یې لېوالتیا او هوس ډېر دی او د هغو مینه له خپلو زړونو ځخه نه شي ایستلی. پر دې اساس په ډېره عاجزۍ مینې او مینتوب ته تسلیم شوي دي.

بانډه‌چیان له همغې خپلې یوې ښځې سره یوازې وي، له هغې پرته د بلې ښځې مینه نه تجربه کوي او د بلې ښځې په اړه یې فکر نه بوختېږي، پر دې اساس کله چې په یې په زړه کې د بلې ښځې مینه ځای ونیسي، د نه خواب نه شي ورکولی.

هیڅ نظر تر اوسه زما او زما د قاطعیت ترمنځ واټن نه و رامنځته کړی.

هغې ته د کتلو په ځبر د ګناه کول مې زړه ډېر خوشاله کړی دی.

عبدالملک وخندل او ویې ویل: آیا له هغې سره دې مینه تر دې سرحده رسېدلې ده؟

خالد وویل: تر دې وړاندې په داسې بلا نه وم اخته شوی.

عبدالملک یو څو کسان د رمله کور ته ورولېږل، چې خالد ته د هغې ریباري وکړي او ریبارانو رمله ته د خالد د مینې او زړه تنګون پوله کیسه وکړه.

رملې وویل: تر څو چې خپلې نورې مېرمنې طلاقې نه کړي، واده ورسره نه کوم.

خالد خپلې دواړه ښځې چې په نکاح کې یې وې، طلاقې کړې، له رملې سره یې واده وکړ او دواړو شام ته کډه وکړه.

مینه ډېر عجیب شی دی، په خدای ډېر عجیب دی.

Scanned with CamScanner

یو سړی به ګورې چې سخت قاطعیت به لري، وروسته او عقل به یې تول وطن ابادوي او فکر به کوي چې مینه هیڅکله وربانديې نه شي برلاسه کېدلای؛ خو ناڅاپه د یو چا تورې سترګې راځي او په تېرو بنو یې پر زړه وهي او خوب او ارام یې ورڅخه تښتوي. هیڅوک نه شي کولای چې زړه بایلونکي ملامت کړي او کار یې جرم وګڼي. یوازې د انسانانو اعمال جرم بلل کېدای شي، نه د هغوی احساسات.

وګورئ! کله چې د مینې غشی د خالد پر زړه ولګېد، هود یې وکړ چې له خپلې معشوقې سره واده وکړي.

تل متوجه اوسئ چې یا د دروازې له لارې کور ته ننوځئ [او د خالد په څېر کار وکړئ] یا یې ببخې هېر کړئ او پاک‌لمنې غوره کړئ.

څکه په دې لاره کې پاک‌لمي جهاد دی، په الله قسم چې جهاد دی.

Scanned with CamScanner

## ﴿۷۴﴾

شهزاده «پیدرو» د روسیې د شاهي تخت و تاج وارث په خپله خدمتګاره «اینسیا» مین شو، له هغې سره یې واده وکړ او د زوی څښتن هم شو.
خو «الفونسو» د شهزاده پلار چې د وخت پاچا و، له دې نجلۍ سره د خپل زوی له واده څخه ناخوښه و، نو د هېواد د څینو سلاکارانو د لمسون پر اساس یې امر وکړ چې د خپل زوی مېرمن ووژني.
بالاخره یې د شهزاده مېرمن د ښار په یوه ګوټ کې د خپلو زامنو پر وړاندې ووژله؛ خو «پیدرو» د خپلې مېرمنې قاتلان یو یو ونیول، د هر یوه زړه یې ژوندی له سینې راوایست، په خپلو لاسونو به یې زور کاوه او ټوټه ټوټه به یې کاوه؛ ځکه هغوی یې د مېرمنې په وژلو په حقیقت کې د هغه زړه دا ډول ټوټه ټوټه کړی و.
شهزاده د هغه د زوی تر مړینې وروسته د خپلې مېرمنې جسد له قبر څخه راوایست، پر شاهي تخت یې کېښود او امر یې وکړ چې ټول دې ورسره د ملکې په توګه بیعت او درناوی وکړي.
څینې دردونه تر ابده پاتې کېږي او څینې مینې نه مري، که څه هم مینان یې ومري.

# ﴿۷۵﴾

«ایروپ» مشهور یوناني فیلسوف په خپل مهم کتاب «افسانې» کې ښکلې کیسه راوړې ده:
یوه کروندګر د منو ونه لرله، مېوه یې نه نیوله، یوازې د مرغانو د دمې او د ملخانو او حشراتو پناځای و.
کروندګر هوډ وکړ چې دا ونه ووهي، تبر یې راواخیست، لومړی وار یې ورباندې وکړ، بیا یې دویم ځل په تبر ووهله. په دې وخت ټولو ملخانو او مرغانو هغه ته زارۍ پیل کړې، چې ونه پرې نه کړي؛ خو کروندګر یې خبره وانه ورېده او خپل کار ته یې دوام ورکړ. کله چې یې درېیم وار ورکړ، تبر د ونې خالي ځای ته ورسېد، ویې لیدل چې د شاتو لوی ګبین پکې دی. لږ شات یې وڅکل، چې ډېر خواږه او خوندور وو. له ځنډ پرته یې تبر پر ځمکه کېښود او ونې ته یې په سپېڅلې سترګه وکتل. تر دې ورځې وروسته به یې ونې ته ډېر پام کاوه او ښه به یې ساتله.
دا یوازې د شخصي ګټو د غوښتنو یوه برخه ده، چې انسان د ځینو کارونو ترسره کولو ته هڅوي.
څرنګه چې معلومېږي، په دې خاورینه کره کې ځینې شیان بدلون نه کوي او خلک هم په هره زمانه کې همغه خلک دي او یوازې نومونه یې بدلېږي.
شخصي ګټپالنه ځینې خلک د ځینو کارونو ترسره کولو ته هڅوي. دا هغه حقیقت دی چې ایزوپ له نن څخه ۲٦۰۰ کاله پخوا ویلی دی. ظاهراً

تر هغه پخوا خلک هم په دې پوهېدل. د دې زمانې خلک هم وربانديې پوهېږي او تر موږ وروسته چې کوم خلک راځي، هغوی هم په دې پوهېږي.
په دې دنیا کې له شک پرته خیرغوښتونکي او مهربانه انسانان شته. داسې کسان شته چې نورو ته لاره خلاصوي، تر څو خلک خپلې مزل ته دوام ورکړي.
په همدې توګه داسې کسان هم شته چې تر څو پورې په دې لاره کې ګټه ونه لري، تر هغې یو ګام هم نه اخلي.
داسې کسان شته چې ونه کري او ښه پوهېږي چې پخپله به یې له مېوې او سیوري ګټه وانخلي؛ خو یوازې د نورو لپاره دا کار کوي.
داسې کسان هم شته چې هغه ونه پرې کوي، چې نورو ته ګټه رسوي، چې خان ته وربانديې سون توکي چمتو کړي.
داسې کسان شته چې په ښاره کې له ابادۍ لرې ځاه وهي او خپله ورڅخه یو ځاځکی اوبه هم نه څښي؛ خو یوازې د نورو لپاره دا کار کوي او داسې کسان هم شته چې خپل ګاونډي ته یوه بوکه اوبه نه ورکوي.
کله چې «میتسوبیچي» په موټر کې د خوندیتوب کمربند اختراع کړ، ویې نه غوښتل چې نوم یې د مخترعینو ترمنځ ثبت شي او په نړۍ کې یې موټر جوړونې ټولو فابریکو ته اجازه ورکړه چې په تولیداتو کې ورڅخه ګټه واخلي.
کله چې امریکایي مېرمنې او مېړه «لیلنډ او جین ستانفورډ» خپل یوازینی زوی چې په هارفورډ کې یې درس وایه، له لاسه ورکړ، په کالیفورنیا ښار کې یې د «ستانفورډ» لوی پوهنتون جوړ کړ، چې د دې ښار ټول بچیان د هغه بچیان اوسي.

Scanned with CamScanner

کله چې په سخته قحطۍ کې سوداګر راغلل، چې له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه د هغه د کاروان ټول مالونه واخلي، هغه ته يې وويل چې د يوه درهم په مقابل کې درې درهمه ورکوي. عثمان رضي الله عنه ورته وويل: الله تعالی ما ته خبر راکړی دی چې د هر درهم په بدل کې لس درهم راکوي، پر دې اساس يې اجازه ورکړه چې ټول کاروان يې پر اړمنو ووېشي.

هو، رښتيا چې په نړۍ کې خيرغوښتونکي او مهربانه انسانان شته.

خو برعکس داسې انسانان هم شته چې تر هغې چا ته يو څاڅکی اوبه هم نه ورکوي چې په يوه کار کې يې شخصي ګټه هم نه وي.

الله تعالی دې له هغه چا سره مرسته وکړي چې له داسې کسانو په ازمېښت اخته کېږي.

Scanned with CamScanner

## «۷۶»

په ۲۰۱۹ کال کې مېرمن «ټوني موریسون» له دنیا لاړه. یوازینۍ توروپوستې مېرمن چې په ادبیاتو کې د نوبل جایزې ګټونکې شوه.
کله چې ماشومه وه، شپې به یې په لیکلو او لوستلو رڼولې او د خپلې مور دې خبرې ته به یې هیڅ پام نه کاوه، چې ورته ویل به یې: ویده شه ګرانې لورې؛ څکه توروپوستو ته پام نه کېږي.
او ته هم په خپل مسیر کې د لویو څوکو پر لور روان یې، ښایي د نورو لخوا ناهیلې کوونکې خبره واورې، ښایي ځینې خلک دې موخې ته د رسېدو لارې ناشونې در معلومې کړي. له دې وېرې چې پر تا باور نه لري یا له دې وېرې چې که یوه ورځ لوی شې، هغوی ته به ماتې ورکړې.
پر لار دې تر اخره لاړ شه. پر ځان دې باور وکړه. موخو ته د رسېدو په لار کې دې خپله لېوالتیا تعقیب کړه. تر هغې چې پر ځان باور لرې، په لار کې به له ډېرو خنډونو او سختیو سره مخ شې.

## ﴿۷۷﴾

امام جوزي په خپل ارزښتناک کتاب «عیون الحکایات» کې لیکلي دي:
یو قصاب په خپلې ګاونډۍ وینځې مین شو. د وینځې کورنۍ هغه د یوه کار د ترسره کولو لپاره بل کلي ته ولېږله.
قصاب ورپسې ورغی او خپله مینه یې ورته څرګنده کړه.
وینځې ورته وویل: ما ته لاس مه راوړه، زه تا سره ډېره مینه لرم؛ خو له خدای وېرېږم.
قصاب وویل: ته چې له الله تعالی وېرېږې، زه ولې ونه ډار شم؟
راستون شو او د الله تعالی په دربار کې یې توبه وکړه، په لاره کې سخت تږی شو، حتا نږدې و، چې مړ شي.
په لاره کې د بني اسرائیلو له یوه پیغمبر سره مخ شو.
د الله تعالی پیغمبر ترې وپوښتل: څه درباندې شوي دي؟
قصاب وویل: سخت تږی یم.
د الله تعالی پیغمبر وویل: راځه، الله ته دعا وکړو چې کلي ته تر رسېدو پورې زموږ پر سرونو وریځ کړي.
قصاب وویل: زه هیڅ نېک عمل نه لرم چې الله تعالی ته یې وسیله کړم.
د الله تعالی پیغمبر وویل: زه دعا کوم، ته آمین ووایه.
پیغمبر دعا وکړه او قصاب آمین ووایه. د هغو پر سر له اسمان څخه وریځ راڅرګنده شوه، تر کلي پورې ورسره وه. کله چې دواړو لارې سره بېلې کړې، وریځ له قصاب سره مله وه او د خدای پیغمبر یې پرېښود.
د الله تعالی پیغمبر قصاب ته وویل: وریځ له تا سره مله شوه او زه یې

Scanned with CamScanner

پرېښودم، بیا هم وایې، چې زه هیڅ نېک عمل نه لرم، په الله تعالی قسم درکوم چې وواېه په تا کې څه راز پټ دی؟

قصاب ورته هغه کیسه وکړه چې د هغه او وینزې ترمنځ تېره شوې وه.

د الله تعالی پیغمبر ووېل: نو راز همدا دی. کوم مقام چې د الله تعالی په دربار کې توبه کوونکی انسان لري، بل هیڅوک یې نه لري. ښایي زړه دې د هغې ګناه له امله چې سروکار دې ورسره درلود، مات شوی وي، چې په غفلت کې یې ترسره کوې، نفس دې دریاندې برلاسه کېږي، شیطان یې درته په نظر کې ښکلې ښکاره کوي او په پایله کې ګناه کوې؛ خو کله چې فارغ شې، ناڅاپه په خود راځې، پښېمانه کېږې او د ترسره کړې ګناه له امله دې په سینه کې سخت زړه تنګون احساسوې، په زړه کې دې له الله تعالی حیا کوې؛ څکه نه دې خوښېږي چې په وړاندې یې ګناه وکړې؛ خو نه پوهېږې څه ډول ناڅاپه په ګناه کې ښکېل کېږې، سره له دې چې هر ځل توبه کوې او له الله تعالی سره ژمنه کوې، چې بل ځل به ګناه نه کوې؛ خو له بده مرغه ډېر ژر همغه کار ته لاس وروړې، چې پخوا دې ترسره کړی و.

په توبې پسې ګناه، په توبې پسې بیا ګناه، په همدې توګه د ګناه او توبې ترمنځ واقع یې او ژوند ته دوام ورکوې.

ښایي اوس په زړه کې وپوښتې چې [ښاغلیه ادهم] څنګه پوهېږې چې داسې احساس په زړه کې لرم؟ آیا زما په اړه دې لټون کړی دی؟ یا دې مخته د غیبو پرده ښکاره شوې ده؟

زه درته وایم: ارام اوسه، لټون مې نه دی کړی. خدای دې نه کړي چې د یوه بنده ګناه بل بنده ته ښکاره کړي؛ څکه هغه لوړ ذات حیالرونکی او د عیبونو پټوونکی دی، د هغه ګناهونه او نیمګړتیاوې پټوي او نه غواړي چې هغه وشرمېږي.

په دې ټولو څکه پوهېږم چې زه هم ستا په څېر یم. نفس ته مې په غېږ

Scanned with CamScanner

ورځم، کله ما راځملوي او کله یې زه راځملوم.
زه هم په ګناه کولو او د الله تعالی په نزد د شرم او خجالتې په احساس کې بلکل ستا غوندې یم، څرنګه چې ته د شرم او پښېماني احساس کوې، کټ مټ زه هم همداسې ...
داسې نه ده چې زه د پاکانو جامې واغوندم او په هغو پر تا کبر وکړم. رښتیا دا چې زه هم تا ته داد درکوم او هم ځان ته، هم تا ته خطاب کوم او هم ځان ته...
راشه چې لږ دې زړه ته داډ درکړم، چې ارام شې!
بیا په هغې خبرې دې په غېږ کې ونیسم چې زما له روح څخه ستا روح ته او زما له زړه څخه ستا زړه ته پیوند لري.
زما ګرانه! دا یوازې زما او ستا حال نه دی، بلکې څمکې ته د ادم علیه السلام تر راتلو راهیسې د هر مسلمان حال دی او په همدې ډول به تر قیامته روان وي.
نو پاک دی هغه الله چې پېغمبران یې له ګناه معصوم او مسلمانان یې د هغوی د ګناهونو له ښکاره د خپل غفران په پرده کې پټ کړي دي. هغه خدای چې د خپلو بندګانو زړه یې د ګناهونو په مقابل کې له ماتېدو څخه پیدا کړ.
هغه معبود چې خپل بندګان پر ګناه کولو سربېره خوښوي او په لویو او ازرښتناکو نعمتونو یې نازوي.
پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **«ما من عبد الا وله ذنب، یعتاده الفینة بعد الفینة، أو ذنب هو مقیم علیه لا یفارقه حتا یفارق الدنیا و ان المؤمن خلق مفتَّناً توابًا، نساءً، اذا ذكّر ذكَر».**
هیڅ بنده نشته چې ګناه به یې نه وي کړې، څینې وخت حتمن داسې ګناه کوي یا له داسې ګناه سره مخ وي چې تر مرګه یې نه پرېږدي. مسلمان داسې پیدا شوی دی چې تل د خطرونو او وسوسو تر اغېز لاندې وي، بیا بیا د الله تعالی په

Scanned with CamScanner

دربار کې توبه کوي، په خلونو خپله توبه هېروي؛ خو پر دې تولو سربېره چې کله ورته یو څوک نصیحت وکړي، نصیحت مني او اصلاح کېږي.
دا حدیث څومره خوږ دی. د دې اسماني ارام ښوونکي ترنم غږ څومره زړه راښکونکی دی. **مَا مِن عَبدِ الا وَلَهُ ذَنبٌ.**
د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا خبره په دې اړه ده چې موږ انسانان یو او تل د تېروتنې له خطر سره مخ یو.
**یعتاده الفینة بعدالفینة**، یعنې له گناه لاس اخلي او بیا ورته رجوع کوي او ځینې وخت د الله تعالی په نافرمانی اخته کېږي. یوه ورځ له گناه لرې او بله ورځ په گناه کې او تل له گناه سره لاس او گرېوان دی، تر دې چې مرگ ورته رارسېږي.
انسان تل د ځان او شیطان ترمنځ په سخته جگړه کې ښکېل دی؛ خو جگړه یوې لویې سیالی ته ورته ده، چې ځینې بریا او ځینې وخت ماتې له ځانه سره لري. **ان المؤمن خلف مفتناً.**
یعنې الله تعالی، مسلمان ځینې وخت په مصیبت، کله په گناه او کله په فتنو امتحانوي.
**تواباً**
دا صیغه د قرآن د ادبیاتو له نظره د مبالغې صیغه ده، یعنې مسلمان د الله تعالی په دربار کې ډېره توبه کوي او ډېره توبه هغه څوک کوي، چې ډېره گناه یې کړې وي.
**نسیًّا**
یعنې له الله تعالی سره ژمنه کوي، چې نوره گناه نه کوي، خو بیا گناه ته مخه کوي. کله پیاوړی کله کمزوری کېږي. غواړي چې قاطع تصمیم ونیسي؛ خو نه یې شي نیولی.
**ولکنه مع ذلک، اذا ذُکِّر ذَکَر.**

د اسلام د ستر رهبر د حدیث په دې برخه کې په فرد پورې اړونده ښکلا موجوده ده. یعنې مسلمان له دې ټولو سره له الله تعالی حیا کوي او هیڅکله سرغړونه نه کوي. د حق پر وړاندې د تسلیمی سر ټیټوي، هیڅکله ځان خوښونه نه اختیاروي، کومه ګناه چې یې کړې وي، وړاندې شرمیږي او هیڅکله وړاندې نه ویاړي.

ګرانه وروره او قدرمنې خورې!

دا چې ومې ویل د هر مسلمان حال همدا دی، موخه مې دا نه ده چې تاسو ته د ګناه کولو جرأت درکړم، بلکې دا خبره ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم له پخوا راهیسې فرمایلې ده، بلکې غواړم ووایم: له شیطان سره مبارزې ته ادامه ورکړه!

که نن دې ماتې وخوړه، په بریا سره دې سبا خپل غېږ واخله.

که نن دې ګناه وکړه، ژر تر ژره توبه وباسه.

که ونه توانېدې چې په کُلي توګه له ګناه خلاص شې، لږ تر لږه په عبادت او طاعت یې وځنډوه؛ خو هوښیار اوسه چې شیطان ونه توانیږي ګناهونه دې په نظر کې دومره غټ ښکاره کړي، چې د الله تعالی رحمت درته کم معلوم شي.

که زر واري دې ګناه وکړه، زر واري توبه وباسه.

الله تعالی ځان یوازې زما او ستا په څېر ګناهکارانو ته غفار «د ګناهونو بښونکی» نومولی دی، چې په دې وسیله جنت ته لاړ شو.

تر څو له یو بل سره خواخوږي وکړو او یو بل ته لارې پرانیزو.

Scanned with CamScanner

## ﴿۷۸﴾

وتښته، موږ یې ومونډلو.

دا هغه جمله وه چې مشهور امریکایي لیکوال مارک تواین د یوې شوخۍ په توګه د امریکا دولت لوړپوړو چارواکو ته ولیږله، پر سبا یې تولو هېواد پرېښود او وتښتېدل.

تل د یوه شي په [لیدو، اورېدو یا لیدلو] د انسان ذهن ته یو بل شی راځي او یوه بله کیسه یې رانقل کړې ده:

یوې ورځې د عربو د مشهور لیکوال او ادیب احمد بهجت یو څه کتابونه وخوړل. هغه په دې اړه د طنز په بڼه یوه مقاله ولیکله او په هغې کې یې د فکر او پوهې په اړه هغه په جګړه تورنه کړه.

پر سبا یې لسګونو کسانو له هغه شکایت وکړ چې بهجت دا مقاله په اصل کې زموږ په اړه لیکلې ده.

دا کیسې د یوه مهم قانون په توګه له خانه سره ولرئ.

بد او خاین انسانان تل فکر کوي چې ستاسو خبرې او لیکنې هغوی ته مخاطبې دي.

کله چې یو شی لوستل کیږي یا یې لولي یا اوري، په هغه کې خان وېني او هر خاین انسان د یوې موضوع په اورېدو یا لوستلو هغه په خپل سر یو قوي وار ګڼي.

# (۷۹)

لافونتین په خپلو کیسو کې چې له یونیانانو یې زده کړې وې، رانقل کړې دي:
یو کارغه د ځېرې پر ښاخ ناست و او په خوله کې یې یوه ټوټه پنېر نیولی و.
یوې ګیدړې تر ونې لاندې د پنېر بوی حس کړ او صبر یې ونه کړای شو.
کارغه ته یې وویل: د کارغانو مشره! په دې زمانه او شاوخوا کې مې ستا غوندې ښکلی کارغه نه دی لیدلی، که غږ دې هم د ځېرې غوندې ښکلی وي، باید ته د ځنګله پاچا شوی وای. مهرباني وکړه یو ترنم راته وکړه چې غږ دې واورم.
کارغه د ترنم لپاره خپله خوله خلاصه کړه، ناڅاپه یې پنېر له خولې ولوېده. ګیدړې ژر ورمنده کړه، پنېر یې وخوړ او بیا یې کارغه ته وویل:
ای کارغه! چاپلوسي کوونکي د هغو کسانو په وسیله چې مدحه او ستاینه یې خوري، ژوند یې مخته وړي او دا یوه ټوټه پنېر د دې مهم نصیحت په مقابل کې چې درته ومې کړ، هیڅ ارزښت نه لري.
څرنګه چې معلومېږي د چاپلوسۍ بد دود له پخوا راهیسې په میراث کې پاتې دی، څرنګه چې تر سترګو کېږي، انسان په دې زمانه کې همغه انسان دی؛ خو موږ په بېلابېلو نومونو د ځمکې پر مخ تکرارېږو. هیڅ زمانه او دوره له چاپلوسۍ خالي نه ده او چاپلوسي کوونکي لاس په کار دي، تر څو چې قیامت رارسېږي.
یوه شاعر د وخت د یوه پاچا ډېره ستاینه وکړه؛ خو هغه ورته څه ورنه کړل، نو شاعر دا شعر ووایه:

**ان لم یكن منكم فضلٌ لذي أدب**

**فأجرة الدرب أو كفارة الكذبِ**

که د ادیب په حق کې فضل او نېکي نه کوئ، لږ تر لږه د لارې کرایه یا د هغو دروغو کفاره خو راکړئ چې ستاسو په ستاینه کې مې ویلي دي.

یو شاعر چې خوله یې کړې وه، د خپل وخت د والي په دربار کې ودرېد، چې ستاینه یې وکړي؛ خو والي ورته څه ورنه کړل او دا یې هم ترې وپوښتل چې خوله دې ولې کړې ده؟

شاعر ورته په ځواب کې وویل: له دې امله چې په دروغو او ناحقه مې د خلکو ستاینه کړې ده.

د معز فاطمي په وخت کې مصر یوې سختې زلزلې ولړزاوه، خلکو وویل: دا د الله تعالی قهر او غضب دی؛ خو معز وویل:

**ما زلزلت مصر من كيد المّ بها**

**لكنها رقصت من عدلكم طَرَبا**

یعنې مصر د گناه له امله له زلزلې سره نه دی مخ شوی، بلکې ستاسو د عدل او مساواتو په خوشالۍ کې په گډا ده.

عربانو ښخوا ویلي دي: که چا دې داسې ستاینه وکړه چې هغسې نه یې، په حقیقت کې یې ته بد یاد کړی یې. چاپلوس انسان دې چې هم کله ستاینه وکړي، په حقیقت کې یې په ظاهره په ښکلو کلمو ستا بدوالی یاد کړی دی، چې کله یې اړتیا پوره شي، ځان ورکوي او د یو بل چا لمن نیسي.

له یاده ونه باسې، که نن دې چا داسې ستاینه وکړه چې دا ځانگړنې درته په ځان کې نه ښکاري، داسې ورځ به راورسېږي، چې هغه بدۍ او عیبونه به درپورې منسوب کړي، چې ستا په وجود کې به بېخي ونه موندل شي.

## «۸۰»

هغه داسې څوک دی، چې لمر د هغه په خاطر راخېژي.

دا لومړنی عاشقانه جمله ده چې په بشري تاریخ کې ثبت شوې ده او دا «دویم مسس»، د خپلې مېرمنې «نفرتاري» په اړه ویلې ده او نقش یې تر اوسه د ابوسمبل په معبد کې پر دېوال شته.

خو کله چې لرغونپېژندونکو د هغه ژوندلیک په قبر کې ولوست، چې پر پاپیروس لیکل شوی و، معلومه شوه چې له نفرتاري پرته یې له ۴۵ نورو ښځو سره واده کړی و.

معلومېږي چې په دې خاورینه کره کې ځینې شیان نه بدلېږي.

ځینې مینې بوازې تشې او پوچې او له واقعیت لرې دي.

محمد علي

+93700870594

Scanned with CamScanner